# په تیاروکې ځلانده ستوري

## د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله پر ژوند ځغلنده کتنه

Ketabton.com

تالیف: عبدالرحمن فاتح
ژباړه: عبادالله ابراهیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ:

هغـو سرشـاره او بـا احساسـه ځوانـانو تـه، چـې کـه لـه يـوې خـوا پـرې د وخـت ظالمـانو د جـبر او سـتم کـړۍ خـورا راتنگـه کـړې وي او د ابـن تيميـه رحمـه اللـه پـه څيـر د هغـوی پـه اسارت کـې لـه درد اوکـړاوه ډکـې شـپې ورځـې تيـروي؛ خـو لـه بلـې خـوا يـې پـه سـينه کـې د ايـمان جذبـه لا هـم لمبـې وهـي؛ د هـر ظلـم، بـې عـدالتۍ او جهالـت پـه ليـدو يـې وجـدان پـه لـړه راځـي، پـه وړانـدې يـې د مقاومـت جنـډې پورتـه کـوي، او پـه مـخ کـې يـې لکـه د ذوالقـرنين ديـوال داسـې ټينـگ ودريـږي .!

ژباړن

۱۴۰۲

لمريز کال د دلوې شپږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه

د دې کتاب ژباړه د کتاب د لیکوال په اجازه په الکترونیکي بڼه پر لیکه کیږي، سره له دې ځینو کسانو یې د چاپ په برخه کې ژمنه کړې وه خو لا هم متاسفانه چې کتاب په چاپي بڼه لا شتون نه لري، بیا هم په دې برخه کې د مرستې هیله من یم إن شاءالله چې چاپ به یې له اجر او مفاد څخه خالي نه وي . همدارنګه د کتاب ژباړې په برخه کې هم که کومه تیروتنه وینئ په لاندې ایمل یې راسره شریکولی شئ

په درنښت

ژباړن

abadullahibrahimi2@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مطالبو فهرست

سریزه ........................................................................ 5

له شیخ الاسلام ابن تَیْمِیّه رحمه الله سره اشنايي ...................................... 9

نوم او نسب ........................................................................ 9

په یوه علمي او پېژندل شوې کورنۍ کې د شیخ الاسلام رحمه الله رالویدل ............ 10

د شیخ الاسلام ابن تیمه رحمه الله حافظه او ذکاوت ................................... 14

د شیخ لإسلام رحمه الله ځینې غوره صفتونه ............................................ 16

د شیخ الاسلام رحمه الله عقیده ........................................................ 25

ځینې هغه ستونزې چې شیخ الاسلام رحمه الله د دین په لاره کې ...................... 27

ګاللي دي ........................................................................ 27

د شیخ الاسلام رحمه الله د زنداني کیدو پیښې ........................................ 28

د شیخ الاسلام رحمه الله له زنداني کیدلو ځخه درسونه او پندونه ...................... 35

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وفات .............................................. 36

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیخ الاسلام رحمه الله علمي مقام او د هغه د شخصیت په اړوند د علماؤ تعریف او تمجید .......... 38

د شیخ الاسلام رحمه الله په اړوند د نورو اشخاصو ستاینې .......... 43

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ځینې تالیفات .......... 58

د شیخ الإسلام رحمه الله د کتابونو ځینې ځانګړتیاوې .......... 69

د شیخ الاسلام رحمه الله استادان .......... 70

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله شاګردان .......... 71

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ځینې څرګندونې .......... 73

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه د عصمت دعوا نه کوو. .......... 77

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په اړوند له شبهاتو څخه اوو .......... 79

شبهو ته ځواب .......... 80

لومړۍ شبهه: ایا شیخ الاسلام رحمه الله په تجسیم باندې .......... 80

(c) ketabton.com: The Digital Library



قائل وه؟ ........................................................................ 80

دوهمه شبهه: آیا ابن تیمیه رحمه الله تکفیري وه؟ ........................................................113

دریمه شبهه: آیا شیخ الاسلام رحمه الله څلورګونو امامانو ته ......................................126

توهین او جسارت کړی دی؟ ........................................................................126

څلورمه شبهه: آیا ابن تیمیه رحمه الله ناصبی او د اهل بیتو ......................................143

دښمن وه؟ ........................................................................144

پنځمه شبهه: ایا شیخ الاسلام رح د قبرونو له زیارت څخه منکر دی په ځانګړې توګه د

پیغمبر ص د قبر زیارت یې حرام ګڼلی؟ ........................................................155

شپږمه شبهه: آیا شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله د جهنم ........................................178

د اور په فناء یا له منځه تللو باور درلود؟ ........................................................178

اوومه شبهه : آیا شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله د عالم ........................................184

په ازلی والي عقیده درلوده؟ ........................................................184

اتمه شبهه: ایا ابن تیمه رح د اولیاؤ له کراماتو منکر وه او د ........................................191

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای دوستانو ته يې بد رد ويل؟ ........................................................................ 191

خاتمه ............................................................................................ 207

د منابعو فهرست ............................................................................... 208

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سریزه

الحمدلله، والصَّلاة والسلامُ علی رَسول الله، و علّی آله و اصحبه ومن والاه و علی من اتبع هداه الی یوم لدین.

د الله تعالی بې ساري منته او شکرانه ګي ادا کوم چې اسلام یې د کامل، جامع او شامل دین په توګه مونږ ته رالیږلی، سلام او درود دې وي پر رسول الله ﷺ چې د الله دین یې په درسته ښه تر مونږ رارسولی او ښوولی دی، او سلام دې وي د هغه پر صحابه وو چې نړیوالو ته د اسلام د رسولو په لاره کې یې له هیڅ ډول هڅو او منډو څخه دریغ نه دی کړی.

الله تعالی د دې دین حفاظت ژمنه کړې او هغه یې د تحریفوونکو له تحریف څخه خوندی ساتلی دی، الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَّ إِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾.[1]

ژباړه: مونږ پخپله ذکر(قرآن) نازل او مونږ پخپله ددې ساتندویان یو.

هر کله چې اهل بدعت د دین د خیرې د بدولو هڅه کړې او غوښتي یې دي چې سنت په بدعت بدل کړي؛ نو الله تعالی هم د خپل دین د ساتنې لپاره علماء او غم خواران را مخې

[1] (سوره حجر ۹آیت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کړي تر څو له دين څخه په کلکه دفاع وکړي، د هيچا له ملامتۍ څخه ونه ويريږي او په دې لاره کې په ميړانه سرښندنه او قربانۍ ورکړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «إن الله يبعث لهذه الامة على رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها».[1]

يعني:« الله تعالی په هرو سلو کلونو کې د دې امت لپاره يو داسې کس راليږي چې دد دوی لپآره دين له سره تازه او تجديد کړي.»

په دې کې شک نشته چې د دغو تجديدونکو له ډلې شيخ الاسلام امام احمد بن تيميه رحمه الله هم دی چې د اوومې هجري قمري پيړۍ په پای او د اتمې په پيل کې اوسيدلو. په رښتيا هم دې ستر امام د سلفو رحمهم الله د صحيح منهج د بيا راتازه کولو لپاره خورا ډيرې هڅې کړي، په دې لاره کې يې خپل ټول عمر تير کړی او له خپل هر څه ورته تير شوی دی، نه يې له چا ويره کړې او نه يې هم د چا گواښ او ملامتۍ ته پام کړی دی.

دا چې دا مظلوم امام د خپلو حسودو او کينه کښو مخالفيو لخوا تر ظلم او تيري لاندې راغلی نو لازمه مې وگڼله تر څو د شيخ الاسلام رحمه الله د ژوند د حالاتو د بيان او دهغه په اړوند د ځينو شبهاتو د ځوابولو لپاره يو کتاب وليکم او نوم ورته "ستاره درخشان در شام"

[1] (سنن ابو داوود۴۲۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library


(سیری در زندگی شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله) غوره کړم. هڅه مې کړې تر څو په دې کتاب کې لاندې ټکو ته ډېره پاملرنه وکړم.

- په روانه او ساده ژبه یې ولیکم او د سختو لغاتونو له کارولو څخه ډډه وکړم
- تر ممکنه حده د موضوع له داسې اوږدلو چې د ستړیا او خستګۍ لامل شي او هم له داسې اختصار څخه چې خلل رامنځته کړي ډډه وکړم.
- د مراجعو او منابعو په ذکر ا و توثیق کې پوره دقت وکړم او خپل ناقص انساني توان په کار یوسم.
- د دغه ستر امام له مظلومیت څخه دفاع وکړم او د هغه ریښتوني څیره ننداري ته وړاندې کړم.
- د شیخ رحمه الله سالم منهج پرته له افراط او تفریط څخه لکه څنګه چې دی هغسې یې وکښم.
- تر کومه ځایه چې زه معلومات لرم په فارسي ژبه کې په دې ډول او طرز سره د کتاب نشتون.
- د هغه په وړاندې د اهل بدعت والاو دروغ او تبلیغات او همدارنګه دا چې پر هر مسلمان لازمه ده تر څو له حق او مظلومیت څخه ننګه وکړي په ځانګړې توګه کله چې مظلوم د شیخ الاسلام رحمه الله په څیر ستر امام او لاربنود وي.
- د شیخ رحمه الله د ځلانده علمی مقام او همدارنګه د هغه د کتابونو د معرفي کولو لپاره چې خورا ډېرې ګټې او ښیګړې پکې نغښتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د علماؤ او دعوتگرانو د ډاډگيرنې لپاره تر څو د دغه امام له ژوند څخه زده کړه وړکړي او پندونه ځنې واخلي او د دعوت، توحيد، کتاب او سنت د خپراولو په سخته او له کړاوه ډکې لارې کې له زغم او حوصلې څخه کار واخلي.
- د اسلامي علومو د زده کوونکو لپاره يو درس شي تر څو له رسول الله ﷺ وروسته دغسې مشران خپل لارښود او الگو وټاکي.
- ترڅو مې پخپله هغه ژمنه وفاء کړي وي چې لس کاله وړاندې مې پخپله رساله "د وهابيت پيژندنه د تحقيق پر بنسټ نه د تقليد" کې کړي وه چې د شيخ الاسلام رحمه الله په اړوند د شبهاتو په هکله به يو څه ليکم.
- دهغې سختې او بې کچې مينې په خاطر چې له شيخ الاسلام رحمه الله سره يې لرم.

د همدې او ځينې نورو اهدافو لپاره مې دا کتال وليکلو او د الله تعالی له دربار څخه غواړم چې زما دا ناچيزه هڅه د امت له يوه عالم څخه د دفاع او همدغه راز د اسلامي امت د ويښتابه پخاطر قبوله او په دې لاره کې لا نور توفيق رانصيب کړي. آمين.

عبدالرحمن فاتح

د مدينې منورې د اسلامي پوهنتون د د حديثو او اسلامی علومو له پوهنځي څخه فارغ التحصيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له شیخ الاسلام ابن تَیْمِیّه رحمه الله سره اشنایي

## نوم او نسب

تقی الدین ابو العباس احمد بن عبد الحلیم بن مجد الدین ابو البرکات عبدالسلام، ابن تیمیه حرانی رحمه الله . دا چې ولې دغې کورنۍ ته ابن تیمیّه ویل کیږي، د علماوو تر منځ پرې د نظر اختلاف دی او ویل کیږي چې د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله له نیکونو څخه د محمد بن خَضِر په نوم شخص چې کله د حج له سفر نه تر راګرځیدو وروسته د تَیْمَاء په نوم سیمې ته ورسیدو، نو هلته یې یوه نجلۍ ولیده، تر دې وروسته کله چې نوموړی خپل کور ته راغلو نو میرمن یې چې له مخکې امیندواره وه ماشومه لور یې پیدا شوې وه، نوموړي هم له هغې ماشومې سره د ورته والي له مخې چې د تیماء په سیمه کې یې لیدلې وه د ماشومې نوم تیمیه کېښودو. دغه تیمیه د شیخ الاسلام رحمه الله نیا وګڼل شوه چې یوه واعظه او پرهیزګاره میرمن وه او د نوموړې له خاطره دغې کورنۍ ته آل تیمیه ویل کیږي.[1]

[1] (معجم البلدان، یاقوت حموی؛ ۳۱۷/۱ ددې په ضمن کې ماده‌ء "باجدا" و تاریخ إربل، ابن المستوفي ۹۷/۱ و العقور الدرية من مناقب شيخ الاسلام ابن تيمة صفحه۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الاسلام رحمه الله په ٦٦١ ه.ق کال د حران په ښار کې نړۍ ته سترګې غړولي.[1] [2]

نوموړی لا اووه کلنی ته نه وه رسيدلی چې مغولو د عراق تر نيولو وروسته پر حران يرغل وکړه او د نوموړي کورنۍ د شام[3] پر لور هجرت ته اړ شوه. تر هغه مهاله لا مغولو د شام پر لور د حملې قصد نه وه کړی.

## په يوه علمي او پيژندل شوې کورنۍ کې د شيخ الاسلام رحمه الله رالويدل

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، صفحه١٨)

[2] (حران د ترکی په شمال ختيځ کی د شا نلی اورفه شار ته نژدی شار دی او فعلا آباد دی.)

[3] ننی سوريه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ الاسلام رحمه الله په یوه علمي او پیژندل شوې کورنۍ کې رالوی شوی دی. پلار یې عبدالحلیم ابن تیمیه رحمه الله[1] شام ته تراتګ وروسته د دمشق په اموي جامع مسجد کې زده کوونکو ته د درس ورکولو لپاره پر څوکۍ ډېره ولګوله، شیخ الاسلام رحمه الله اصول فقه او حنبلي فقه له خپل پلار څخه ولوستل .[2] نیکه یې مجد الدین ابو البرکات عبدالسلام ابن تیمیه رحمه الله[3]هم لوی حنبلي فقیه او د ګڼو تالیفاتو څښتن دی. د نیکه له ارزښتناکو تالیفاتو څخه یو یې " المنتقى من أحاديث الْأحكَام" دی چېځ امام شوکاني رحمه الله دغه ستر کتاب شرحه کړی او نوم یې ورته "نیل الاوطار شرح منتقی الاخبار" ایښی دی.

د نوموړي نیکه هم په ابن تیمیه مشهور دی او د نیکه او لمسي تر منځ د تفکیک لپاره باید ووایو چې: که په مطلق ډول ابن تیمیه وویل شي؛ او یا ابن تیمیه حفید(لمسی) وویل شي

---

[1].عبدالحلیم بن عبدالسلام بن عبدالله بن تیمیه، د حنبلي علماؤ له مشرانو دی او فقه یې له خپل پلار ابوالبرکات ابن تیمیه نه زده کړې وه او د مفتي په توګه د خپل پلار په ځای کښیناست. هغه محقق امام او د میراث په علم کې یې لوی لاس درلوده، په ۶۸۴ه کال په دمشق کې وفات شو. (شذرات الذهب في أخبار من ذهب ۳۷۵/۵).

[2] (ذیل طبقات الحنابلة ۴۹۴/۴)

[3]په ۵۹۰ ه کال نړۍ ته راغلی او په ٦٥٢ ه وفات شوی دی(الأعلام للزركلي ٦/۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


هدف ورڅخه پخپله شیخ الاسلام رحمه الله دی او که ابن تیمیه جد یا هم ابو البرکات ابن تیمیه وویل شي هدف تریه د نوموړی نیکه دی.

ورور یې عبدالله شرف الدین ابن تیمیه رحمه الله (متوفای۷۲۷ه) هم د حنابله وو له لویو علماو څخه وه، علوم او د حدیثو کتابونه یې زده کړي ول او په فقه، سیرت او تاریخ کې یې پوخ لاس درلود.[1]

بل ورور یې زین الدین أبو محمد عبد الرحمن بن عبد الحلیم بن عبد السلام بن تیمیه رحمه الله (متوفای۷۴۷ ه) دی، نوموړی هم د علماؤ او مشرانو له ډلې دی او امام ذهبي رحمه الله یې نوم د خپلو مشایخو په ډله کې له لږ شرحې سره ذکر کوي.[2]

[1] (ذیل طبقات الحنابلة ۴۷۸/۴)

[2] (من ذیول العبر۲۵۹/۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شیخ الاسلام رحمه الله اکا عز الدین ابو محمد عبد العزیز بن عبد السلام بن تیمیه رحمه الله هم یو فقیه او محدث وه، لکه څنګه چې ابن الفوطی[1] یې په اړه وایي« من بیت العلم والفقهه والحدیث والتفسیر وادب وکان عز الدین فصیح اللسان جمیل الأخلاق، قد سمع الأحادیث النبویة...» [2]

یعني: "عزالدین د علم،فقه، حدیث، تفسیر او ادب له کورنۍ څخه وه، د فصیحې ژبې او ښو اخلاقو څښتن وه او نبوی احادیث یې اوریدلی وه..."

عمه یې ست الدار بنت مجدالدین ابن تیمیه رحمهاالله (متوفای٦٨٦) یوه عالمه او فاضله میرمنه وه چې شیخ رحمه الله د خپل علم یوه برخه له هغې څخه تر لاسه کړې.[3]

لنډه دا چې : دا یوه مشهوره او په علومو او فنونو مشغوله کورنۍ وه او هر یو یې امام او عالم دی. طبعا په داسې یوه عالمه او پیژندل شوې کورنۍ کې د شیخ الاسلام رحمه الله رالویدل د هغه په وده او علمي نبوغ کې ډیر موثر ول.

---

[1] عبدالرزاق بن احمد، کما ل الدین ابو الفضل (متوفای۷۲۳ه ) مورخ او فیلیسوفانو څخه حسابیږی(الأعلام للزرکلی۳۴۹/۳)
[2] (مجمع الآداب في معجم الألقاب ۲۳۳/۱)
[3] (تا ریخ الإسلام ووفیا ت المشاهیر و الاعلام ۱۵ /۵۷۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شيخ الاسلام ابن تيمه رحمه الله حافظه او ذکاوت

شيخ الاسلام رحمه الله له غښتلې حافظې څخه برخمن وه او د هغه ګڼ او ارزښتناک تاليفات د دې ادعا ښه بيلګه ده.

نوموړي رحمه الله په ماشومتوب کې قران کريم حفظ کړ او همدارنګه يې د نحوې د علم په برخه کې د سيبويه کتاب (متوفای۱۸۰) او د حديث شريف په برخه کې يې "المجمع الصحيحين" د محمد بن فتوح حميدی کتاب (۴۸۸متوفی) او همدارنګه د علومو او فنونو له هرې برخې يې کتابونه حفظ کړل.

علامه ابن عبدالهادی رحمه الله چې د شيخ الاسلام رحمه الله يو له مهمو شاګردانو څخه دی وايي" وسمع مسند الإمام احمد بن حنبل مرات وسمع الكتب الستة الكبار والاجزاء ومن مسموعاته معجم الطبرانی الكبير وعني بالحديث وقرأ ونسخ وتعلم الخط والحساب فِی الْمكتب وحفظ القرآن وأقبل على الفقهه وقرأ العربية على ابن عبد القوى ثم فهمها وأخذ

(c) ketabton.com: The Digital Library


يتأمل كتاب سيبويه حتَّى فهم فِي الْنحو وأقبل على التفسير إقبالا كليا حتَّى حاز فيه قصب السبق وأحكم اصول الفقهه وغير ذلك؛ هذا كله وهو بعد ابن بضع عشرَة سنة" [1]

یعنی: «شیخ لإسلام رحمه الله مخکې له دې چې شل کلنی ته ورسیږي، ځو ځله یې مسند امام احمد او د احادیثو شپږګوني کتابونه(صحیح بخاری، صحیح مسلم، سنن ابوداوود، سنن ترمذی، سنن نسائی او سنن ابن ماجه) او همدارنګه یې د حدیثو اجزاء او د امام طبراني معجم الکبیر یې اوریدلی او د احادیثو علم ته یې ځانګړې پاملرنه کوله. نوموړی همدارنګه لیک لوست،خط او ریاضی زده کړل او قرآن کریم یې حفظ کړ. په دې سربیره یې د فقهې زده کړې ته مخه کړه، د عربې ژبې قواعد یې له ابن عبدالقوی څخه ولوستل او د نحوې په برخه کې یې د سیبویه کتاب زده کړ.»

نوموړی د قرآن کریم د تفسیر په برخه کې له ټولو مخکښ وه او همدارنګه یې اصول فقه او د نورو علومو او فنونو زده کړې ته مخه کړه او یاد یئ کړل.

علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله وايي: "وقال جمال الدين السومري فِي أماليه ومن عجائب ما وقع فِي الحفظ من أهل زماننا أن ابن تيمية كَان يمر بالكتاب مطالعة مرة فينتقش فِي ذهنه وينقله فِي مصنفاته بلفظه ومعناه"[2]

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص١٩ ).

[2] (الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة، ١٧٨/١او١٧٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: «جمال الدين السومري پخپل کتاب کې وايي چې زموږ په زمانه کې د غښتلې حافظې په اړوند عجيبه پيښه دا ده چې کله به ابن تيميه يو کتاب د يو ځل لپاره مطالعه کړلو، نو په ذهن کې به يې داسې انځور شو چې په پخپلو ليکنو او مصنفاتو کې به يې په هماغه لفظ او مفهوم سره رانقل کولو.»

## د شيخ لإسلام رحمه الله ځينې غوره صفتونه

شيخ لإسلام رحمه الله په علم او مال کې يو سخي انسان وه، چې په دې برخه کې د نوموړي د سخات ښه بيګه د هغه ګڼ کتابونه او دشاګردانو روزل دي.له بيوزلو سره د هغه د سخاوت په اړوند يې شاګرد ابو حفص بزار رحمه الله (متوفای۷۴۹ه) وايي: "فقد كَان يتصدق حتّىَ إذا لم يجد شيئا نزع بعض ثيابه المحتاج اليه فيصل به الفقير" [1]

[1] ( الأعلام العلية في مناقب ابن تيمية، ص۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني: «د الله تعالی په لاره کې به یې ډېره صدقه ورکوله تر دې چې که به یې د صدقې ورکولو لپاره څه شی و نه موندل؛ نو د خپلو جامو یوه برخه به یې کښله محتاج او بیوزله ته به یې ورکوله»

همدارنگه د مغولو په وړاندې نوموړی په غښتلی دریځ او میړنی شخصیت مشهور دی او د یرغلگرو په وړاندې یې جهاد او مقاومت او د اسلام له خاورې څخه دفاع ټولو ته څرگند دي.[1]

شیخ لإسلام رحمه الله پر دې غوره صفاتو سربیره د شرک، بدعت او خرافاتو په رد او همدغه راز د د فیلوسوفانو، متکلمینو او مختلفو ادیانو په نقد کې پوخ لاس لري.[2] د د غو ټولو ډلو د بطلان په څرگندولو کې یې داسې مظبوط دلایل مطرح کړي چې هر لوستونکی یې په سملاسی توگه داسې تصور کوي چې گني د نوموړي تخصص یوازې په همدې موضوع کې دی. سبحان الله![3]

---

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص١٩٣ ).

[2] (ښه بیلگه یی د هغه کتابونه دی چې راپاتی او دهغه د شاگردانو او نورو باانصافه مورخینو اقرارونه)

[3] (ذيل طبقات الحنابلة، ۴۹۸/۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ لإسلام رحمه الله سره له دې چې د باطلو افكارو او نظرياتو په نقد كې يو غوښ او بې پروا انسان وه او د هيچا له ملامتې يې ويره نه درلوده؛ خو په ضمن كې يې له حكمت او تدبر څخه كار اخيستلو، د نوموړي حكمت د هغه به له مناظرو او ليكنو څخه ښكاره دی.

په دعوت كې د نومړي د پراخه ليدلوري او حكمت يوه بيلگه دلته ليكم؛ علامه ابن قيم رحمه الله (متوفای۷۵۱ه) وايي: "سمعت شيخ الإسلام ابن تيمية قدس اللَّه روحه ونور ضَريحه يقول: مررت أنا وبعض أصحابي فِي زمن التتار بقوم منهم يشرَبون الْخمر، فأنكر عليهم من كَان معيِ، فأنكرت عليه، وقلت له: إنما حرم اللَّه ا لْخمر لأْنها تصد عن ذكر اللَّه وعن الصلاة، وهؤلاء يصدهم ا لْخمر عن قتل الْنفوس وسبْي الذرية وأخذ الْأموال فدعهم".[1]

يعني:« له شيخ الاسلام رحمه الله نه مې واوريدل چې ويل يې: يو ځل د مغولو په دور كې زه او يو ملگری مې د مغولو د يوې ډلې له څنگه تيريدلو چې د شرابو په څښلو لگيا ول، زما سره موجود ملگري مې هغوی منعه كړل او ددغه كار بدي يې ورته بيان كړه، خو ما خپل ملگری منعه كړ او ورته مې وويل: سمه ده چې الله تعالی شراب حرام گرځولی ځكه د الله تعالی له يادولو، ذكر او لمانځه څخه مخنيوی كوي، خو د دوی لپاره شراب د دې سبب

[1] (إعلام الموقعين عن رب العالمين ،۱۳/۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي چې د خلکو له وژلو، غلامولو او د هغوی د مال له چور کولو څخه راوګرځي. نو پرې یې ایږده!»

دا د شیخ الاسلام رحمه الله د لیدلوری د دقت ښکارندوی دی چې لومړی یې د قضیې اړخونه یې سنجولي، بیا یې دعوت کړي او د انکار منکر له درجو او مراتبو سره په ښه توګه آشنایی لري.

شیخ الاسلام رحمه الله یو زاهد انسان وه، د نو رو څوکۍ، مال او قدرت یې سترګې نه وي نیولې او خپله غریبانه زندګي یې تیروله. د هغه په سیرت کې راځی چې یوه ورځ سلطان ناصرالدین الله ورته وویل "إنني أخبر ت أنك قد أطاعك الْناس، وأن فِی نفسك أخذ الْملك".

یعني:« زه خبر شوی یم چې خلک له تا څخه پیروي کوي او ته د پاچاهۍ او قدرت د لاسته راوړلو په فکر کې یې» شیخ رحمه الله د ټولو په حضور کې په لوړ اواز ورته وویل: "أنا أفعل ذلك؟! والله إن ملكك وملك الْمغل لا يساوي عند فلسينْ".

یعنی:« زه داسې کوم؟ په الله قسم ستا او د مغولو پاچاهي زما په وړاندې د دوو روپیو په اندازه ارزښت نه لري». تر دې وروسته سلطان په خندا شو او ویې ویل: نو هغه کس چېځ ما ته یې دا خبر راوړی وه ستا د نوم بدولو قصد یې درلوده او درواغ یې ویلي دي.[1]

[1] (الكواكب الدرية في مناقب المجتهد ابن تيمية، ص۹۹-۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شيخ الاسلام رحمه الله يو ښښونكى او گشت پذيره انسان وه او خپل ډير سرسخته دښمنان يې هم ښښلي او د هغوى پر ناسمو كړنو يې سترگې پټې كړي دي. په يو ځاى كې راځي چې سلطان ناصرالدين محمد بن قلاوون له شيخ الاسلام رحمه الله څخه د فتوا وركولو غوښتنه وكړه تر څو د هغه ځينې مخالفين ووژني مگر شيخ رحمه الله له دې فتوا سره موافقه ونه كړه، علامه ابن عبدالهادى رح له نوموړي څخه نقل كوي چې وايي: "فشرَعت فيِ مدحهم والثناء عليهم وشكرهم وأن هؤلاء لو ذهبوا لم تَجد مثلهم فِ دولتك أما أنا فهم فيِ حل من حقي ومن جهتي وسكنت ما عنده عليهم".[1]

يعنى: «( كله چې وپوهيدم سلطان د هغوى د ځينو د وژلو په هكله د فتوا غوښتونكى دى) نو مې د هغوى په ستاينه او ورڅخه په مننې كولو پيل وكړ او سلطان ته مې وويل كه هغوى ستا په حكومت كې ونه اوسي نو ته به يې جوړه پيدا نه كړې. ما هغوى ښښلي او هغه څه چې د سلطان په زړه كې د هغوى لپاره راگرځيدل هم مې ارام كړل(تر څو له هغوى غچ وانه خلى)».

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص٢٩٨ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی د شيخ رحمه الله دښمنانو يې هم په دې اعتراف کړی او هغه په نيکۍ او ښې ياد کړی لکه ابن عبدالهادی رح چې وايي: "فكَان القاضِي زيد الدين ابن مخلوف قاضِی المالكية يقول بعد ذلك ما رأينا أتقى من ابن تيمية لم نبق مُمكنا فِي السعِي فيه ولما قدر علينا عفا عنا".[1]

يعني؛« قاضي زيد الدين بن مخلوف به د سلطان په حضور کې د شيخ الاسلام رحمه الله د عفوی تر پيښې وروسته ويل؛ له ابن تيميه مې بل پرهيزگاره نه دی ليدلی مونږ هغه ته له هيڅ ډول ضرر رسولو دريغ نه کاوه؛ مگر کله چې هغه پر مونږ مقدر شو نو يې ښښنه راته وکړه» شيخ الاسلام رحمه الله يو بی ساری عابد او متواضع شخصيت وه. علامه ابن قيم رح وايی: "و حضرت شيخ الاسلام ابن تيمية مرة صلى الفجر ثم جلس يذكر الله تعالى إلى قريب من انتصاف الْنهار، ثم التفت إلي وقال: هذه غدوتي، ولو لم أتغد الغداء سقطت قوتي". [2]

يعنی: «يو ځل د شيخ الاسلام رح په وړاندې حاضر شوم، هغه د سهار لمونځ وکړ او تر هغه وروسته نژدې تر نيمې ورځې د الله تعالی په ذکر او يادولو مشغول شو، تر هغه وروسته يې

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص٢٩٩ ).
[2] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص٤٢ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماته مخ کړ او ویې ویل دا زما سباناری دی او که چیری سبا ناری ونه کړم ځواک مې له منځه ځي».

همدارنګه ابن قیم رح وایی: "وقال لي مرة: لا أترك الذكر إلا بنية إجمام نفسي وإراحتها لاْستعد بتلك الراحة لذكر آخر"[1] . یعنی؛« د الله تعالی ذکر او یاد نه پریږدم مګر د دمې جوړولو په نیت ترڅو بیرته د الله تعالی د ذکر لپاره اماده شم».

همدغه راز زیاتوي: "سمعت شيخ الاسلام ابن تيمية قدس الله تعالى روحه يقول: الذكر للقلب مثل الْماء للسمك فكيف يكون حال السمك إذا فارق الْماء؟ ". [2]

یعنـي:« له شیخ الاسلام ابن تیمیه رح نه مې واوریدل چې ویل یې: د الله تعالی ذکر او یاد د زړه لپاره داسې دی لکه اوبه د ماهي لپاره، نو که اوبه نه وی د ماهي به څه حال وي؟».

---

[1] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۴۲ )

[2] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۴۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


له همدی خاطره ده چې ملا علی قاری هروی رح(متوفای۱۰۱۴) د مشکات المصابیح په شرحه د کتاب اللباس په روایت شماره ۴۳۴۰ کې له شیخ الاسلام رح څخه په دفاع کې وايي: "ومن طالع شَرح منازل السائرين، تبينْ له أنهما كَانا من أكابر أهل السننة وا لجماعة، ومن ألياء هذه الأمة". [1]

یعني:« هر څوک چې شرح منازالسائرین (مدارج السالکین علامه ابن قیم) مطالعه کړي و رته به ثابته شي چې ابن تیمیه او ابن قیم د اهل سنت والجماعت له مشرانو او د امت له اولیاؤ څخه دی».

که څوک غواړي چې تر دې لا ډیر د عابد او زاهد ابن تیمیه په اړه وپوهیږي نو ښه ده چې د مجموع الفتوی (السلوک) نهم جلد ته مراجعه وکړي او په دقت يې مطالعه کړی.متاسفانه نن سبا ډیر داسې خلک شته چې ځان شیخ الاسلام رح ته منسوبوي او یوازې د هغه د ژوند یو اړخ چې پر مخالفینو له رد څخه عبارت دی په پام کې نیسي خو د دې ستر شخصیت د ژوند نورې برخې لکه د هغه عبادت او تقوی هیروي او له پامه يې غورځوي.و اَسفاً!

[1] (مرقاة المفتاح شرح مشكاة المصابيح ۲۷۷۸/۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيخ الاسلام رح د تواضع په هکله يې شاگرد ابو حفص بن على بزار رح وايي: "وأما تواضعه فما رأيت ولا سمعت بأحد من أهل عصره مثله فِ ذلك كَان يتواضع للكبير والصغير والجليل والحقير والغنى الصالح والفقير وكان يدني الفقير الصالح ويكرمه ويونسه ويباسطه بحديثه الْمستحلى زيادة على مثله من الاغنياء". [1]

يعنى: « په تواضع او عاجزۍ کې مې د هغه په څير بل څوک هغې زمانه کې نه ليدلی او نه هم اوريدلی وه، هغه د لوی او کوچني، عزتمند او حقير، نيکوکاره شتمن او بيوزله په وړاندې متواضع وه. په نيکوکاره فقير به يې ډير شفقت کولواو د هغه به يې احترام کاوه، په ښه انداز به يې ورسره خبرې کولې او تر شتمن به يې د هغه ډير عزت کاوه.

[1] ( الأعلام العلية في مناقب ابن تيمية، ص ٥٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شيخ الاسلام رحمه الله عقيده

د شيخ الاسلام رحمه الله عقيده هماغه د اهل سنت او جماعت صحيحه عقيده وه او په حقيقت کې نوموړی د سلف رحمهم الله د عقيدې محرر، راژوندی کوونکی او غښتلی شاهد دی.

نوموړی په ځلونو خپل مخالفين ننګولي او ويلي يې دي: "ولا أذكر إلا ما اتفق عليه سلف الأمة وأئمتها. وقد قلت لهم غير مرة: أنا أمهل يخُالفني ثلاث سنينْ إن جاء بحرف واحد عن أحد من أئمة القرون الثلاثة يُخالف ما قلته فأنا أقر بذلك"[1]

يعنې: «زه له هغه څه پرته چې د امت سلف او امامان پرې اتفاق لری بل څه نه بيانوم. او بيا بيا مې خپلو مخالفينو ته ويلي که يو حرف هم راوړی چې ما په هغه کې د قرون ثلاثه يو امام(صحابي، تابعي، تبع تابعي) سره هم مخالفت کړی وی نو زه به هم پرې اعتراف او اقرار وکړم».

که چيرې باانصافه شخص له شيخ الاسلام رح نه مخکې د ائمه ؤ، او د هغو علماؤ چې ربنتينې او راسخين فی العلم دي کتابونه مطالعه کړي نو به ورته ښرګنده شي چې شيخ رح

[1] (مجمع الفتاوی۳/ ۲۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې برخه کې کومه نوې خبره نه ده کړې بلکې د سلف رحمهم الله د مذهب مجدد او ځرګندوونکی دی.

د بیلګې په توګه دلته هغو علماؤ ته لنډه اشاره کوم چې له شیخ رحمه الله نه یې مخکې د اهل سنت و جماعت د عقیدې په هکله کتابونه لیکلي دي : کتاب "الإمان" د امام ابوعبید قاسم بن سلام رحمه الله (متوفای ۲۲۴ه)، کتاب "الإمان" د امام ابوبکر بن أبی شیبة رحمه الله (متوفای ۲۳۵)، کتاب"أصول السنة" و کتاب "الرد علی الزنادقة والجهمة" د امام احمد رحمه الله (متوفای ۲۴۱ه)، کتاب"خلق أفعا ل العباد" او همدارنګه "کتاب التوحید" د صحیح بخاری، د امام بخاری رحمه الله (متوفای ۲۵٦ه)، کتاب "شرح السنة" د امام اسماعیل بن یحیی المزنی (متوفای ۲٦۴ه)، "کتاب السنة" یوه برخه د سنن ابوداوود، د امام ابوداوود رحمه الله (متوفای ۲۷۵ه)، کتاب "الرد علی الجهمیة" و "النقض علی بشر المریسی" د امام عثمان بن سعید دارمی رحمه الله (ت۲۸۰ ه )کتاب"السنة" د امام ابوبکر بن ابی عاصم (متوفای۲۸۷ه)، کتاب"السنة" د امام عبد الله بن احمد بن حنبل رحمهما الله (متوفای۲۹۰ه)، کتاب "العرش " د امام ابوجعفر ابن ابی شیبه (متوفای۲۹۷ه)، کتاب "صریح السنة" د امام ابوجعفر طبری (متوفای۳۱۰ هی)، کتاب "السنة" د امام ابوبکر خلال رحمه الله (متوفای۳۱۱ه)، کتاب "التوحید وإثبات صفات الرب عز وجل" د امام ابن خزیمة رحمه الله (متوفای ۳۱۱ه)، کتاب "العقیدة الطحاویة" د امام ابو جعفر طحاوی رحمه الله (متوفای۳۲۱ )، کتاب "شرح السنة" د امام بربهاری رحمه الله (متوفای ۳۲۹ه)، کتاب "اعتقاد أئمة الحدیث" د امام ابوبکر اسماعیلی رحمه الله (متوفای۳۷۱ه)، کتاب "الصفات" د امام دارقطنی رحمه الله (متوفای۳۸۵ه)، کتاب "التوحد" و کتاب "الإیمان" و کتاب "الرد

(c) ketabton.com: The Digital Library


على الجهمية" د امام ابن منده رحمه الله (متوفاای۳۹۵ها)، کتاب "اصول السنة" د امام ابن أبی زمنین رحمه الله (متوفای۳۹۹ه)، کتاب "شرح اصول اعتقاد أهل السنة والجماعة"، د امیام هبت الله لالکائی (متوفای ۴۱۸ه) ، کتاب "عقیدة السلف وأصحاب الحدیث" ، د امام ابوعثمان صابونی رحمه الله (متوفای۴۸۹ه) ، و کتاب "الحجة في بیان المحجة"، د امام ابوالقاسم اسماعیل بن محمد مشهور په قوام السنة اصبهایی رحمه الله (متوفای ۵۳۵ه). (چې ورته دې مراجعه وشی او مطالعه دې کړای شي.)

دغو کتابونو ته له مراجعې وروسته به تاسو ته په یقین سره څرګنده شي چې شیخ الاسلام رح د عقیدې په برخه کې هیڅ حرف له ځانه دی رامنځته کړی بلکې(هغه څه یې ویلي چې) له هغه څخه مخکې امامانو او علماو همغسې لیکلي او یا ویلی دي.

## ځینې هغه ستونزې چې شیخ الاسلام رحمه الله د دین په لاره کې ګاللي دي

شیخ رحمه الله د خپل لوړ علمي مقام، صریحې لهجې او چاته د غوړه مالۍ نه کولو له امله د کینه ګرو تر حسادت او کینې لاندې راغلی او دا ددې سبب شوې چې نوموړی بیا بیا زندان ولویږي او د خپل عمر ډېر کلونه هلته تیر کړي. داسې چې شیخ رحمه الله د ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


کلونو په موده کې(له ۶۹۳ه تر۷۲۶ه) تر پنځو کلونو ډير د خپل باور او عقيدې له امله په زندان کې تير کړي او په دې موده کې اووه ځله زنداني شوی دی.

## د شيخ الاسلام رحمه الله د زنداني کيدو پيښې

**لومړی ځل:** شيخ رحمه الله په ۶۹۳ه کال د عساف نصراني له امله د څو ورځو لپاره زنداني کړای شو د پيښې لنډيز او کيسه د علامه ابن کثير له کتاب څخه لولو:

يوه ډله کسانو ادعا وکړه چې عساف نصراني چې د سويداء له وګړو څخه وه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سپکاوي کړی، له همدې امله شيخ الاسلام او شيخ فارقي رحمهماالله د امير عزالدين ايبک خواته ورغلل او هغه ته يې قضيه ورسوله.په عساف پسې نفر وليږل شو او را جلب کړای شو، د نوموړی د راوستلو پر مهال ځينې خلکو هغه ته سپکې سپورې ويلې، له عساف سره مل کس خلکو ته مخ کړ ويې ويل: عساف له تاسو غوره دی. په دې سره خلک عصباني شول او دغه نصراني يې په ډبرو وويشت او ټپي يې کړ.

امير عزالدين ايبک شيخ الاسلام او شيخ فارقي ور وغوښتل، او د خلکو د دغې کړنې په خاطر يې د هغه نصراني په حضور کې وهل او ډبول ورکړل او زندان ته يې واچول. هغه په زندان کې لنډه موده تيره کړه او وروسته له ځينو پيښو...امير بيرته شيخ الاسلام او شيخ فارقي له زندان نه ازاد، خوشحاله او راضي يې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیخ الاسلام ابن تیمیه رح له همدې خاطره ول چې خپل مبارک کتاب "الصارم المسلول علی ساب الر سول" یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دفاع کې ولیکو او اسلامي ټولنې ته یې وړاندې کړ. [1]

دوهم ځل: شیخ رحمه الله د ۷۰۵ ه کال د رمضان په ۲٦ د جمعې په ورځ د مصر پّه قاهره کې زنداني کړای شو او تر یو کال او شپږ میاشتې زندان وروسته په ۷۰۷ه کال د ربیع الاول پّه۲۳ له زندان نه ازاد شو. د دغه زندانی کیدلو علت د الله تعالی دعرش او هغه د صفت نزول د اثبات په هکله د شیخ رحمه الله صحیحه عقیده وه. [2]

دریم ځل: شیخ الاسلام رح د ۷۰۷ه کال د شوال په دریمه د څو محدودو ورځو لپاره په مصر کې زنداني کړای شو. افراطي صوفیانو له دی امله چې نوموړی د استغاثې، نامشروع توسل او محی الدین عربی وحدت الوجودي پر ضد ځرګندونې کړې وې له هغه څخه یې شکایت وکړ او هغه ته یې درې انتخابونه وړاندې کړل:

[1] (البدایة والنهایة ۳۳۵/۱۳ او۳۳٦)
[2] (البدایة والنهایة ۳۹/۱۴-۳٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) بيرته به دمشق ته ګرځي.

2) په اسکندريه کې به اوسيږی -البته په شروطو سره-

3) زندان به غوره کوي.

د دغه امر په لومړيو ورځو کې شيخ رح زندان غوره کړ خو د ملګرو تر ټينګار وروسته يې د دمشق انتخاب غوره کړ او تر اتلسو ورځو زندان وروسته د شوال په ۱۸ له زندان نه ازاد شو.[1] وروسته د همدې پيښې له امله وه چې نوموړي خپل مبارک او عظيم الفايده کتاب "الإستغاثة الكبير" چې معروف په "الإستغاثة يي الرد على البكري" دی وليکلو.

خلورم ځل: د ۷۰۷ ه د شوال په آخرو د ۷۰۸ ه کال تر لومړيو پورې د څه باندې دوو مياشتو لپاره شيخ رحمه لله زنداني کړای شو. وروسته تر دی چې نوموړی ازاد شو د دمشق په لور

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۲۸٦ او۲۸۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې مخه کړه، خو له نیمې لارې بیرته راوګرځول شو او نصر منبجی صوفی حلولی او د ابن عربی سرخته مدافع چېځ د هغه وخت د امیرانو په وړاندې یې لوړ مقام درلود په غوښتنه بیرته زندان ته واچول شو، دا ځل شیخ الاسلام رح د هغه څه له امله زندانی شو چې دریم ځل زندانی شوی وه.[1]

پنځم ځل: د ۷۰۹ه کال د ربیع الاول له اولی تر اتم د شوال د همدی کال په اسکندریه کې شیخ رحمه الله د اوو میاشتو او څو ورځو لپاره زندانی شو، داځل هم د نصر منجی او د هغه د ملګرو په مکر او چل شیخ رحمه الله زندان ته لاړو تر دې چې د هغه د وژلو لپاره یې د فتوا هڅه کوله مګر د سلطان ناصرالدین محمد بن قلاوون په راتګ سره شیخ رح بیرته ازاد کړای شو او آن سلطان د شیخ له مخالفینو څخه د غچ تصمیم ونیو چې بلاخره شیخ رح هغوی وبښل. شیخ رح وکړای شوه چې د څه مودې لپاره هوسا ژوند وکړي.[2] په دې موده کې هغه د سلطان په وړاندی ځانګړي ځای درلود او په اسانه یې کولای شول چې د علم خپراوی او د کتابونو لیکلو ته مخه کړي.[3]

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص ٢٨٨او ٢٨٧ ).

[2] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص٢٩٤ ).

[3] (ذيل طبقات الحنابلة، ٥١٧/٤ و البداية و النهاية ٥١/١٤).

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوموړي په دې موده کې په مصر کې ګڼ کتابونه وليکل د هغو له جملې: کتاب منهاج السنة النبويية في نقض كلام الشيعة القدرية، کتاب الإستقامة، کتاب بيان تلبييس الجهمية في تأسييس بدعهم الكلامية، کتاب الفتاوى المصرية او نور...

شپږم ځل: شيخ رحمه الله د ۷۲۰ه کال د رجب له ۱۲پنجشنبې د ۷۲۱ه کال د محرم تر ۱۰ دوشنبې ورځې پورې په دمشق کې د پنځو مياشتو او ۲۸ ورځو لپاره زنداني کړای شو. کله چې له اوو کلونو وروسته شيخ رح دمشق ته راوګرځيد نو خلک يې په خوا راټول شو ل. د نوموړی د مخالفينو حسادت يو ځل بيا راوپاريد، او د دسيسو او فتنو په جوړلو يې پيل وکړ خو دا چې د شيخ رح د قاطع منطق په وړاندې پاتې راغلی ول نو سلطان ته يې شکايت وکړ. شيخ رحمه الله دا ځل د قسم د طلاق په اړه د فتوا له امله د مخالفينو لخوا زندان ته وليږل شو. له همدی امله هغه ګڼې فتواګانې وليکلی او له خپلې فتوا نه يې دفاع وکړه د هغو ليکنو له جملې: "الرد الكبير على من اعترض عليه فِي مسألة الحلف بالطلاق" دي.[1]

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، صفه۳۴۲ و ذيل طبقات الحنابلة، ۵۲۳/۴و۵۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم او وروستی ځل: شیخ رحمه الله د ۷۲٦ه کال د شعبان٦ د دوشنبې په ورځ زنداني شو او د دوو کلونو شپږو میاشتو او څوارلسو ورځو لپاره په زنداني کې وه چې بلاخره د ۷۲۸ه کال د ذوالقعده په ۲۰په زندان کې له نړۍ نه وکوچیدو.

داځل د انبیاؤ او صالحینو د قبرونو په لور د شد الرحال[1] پّه هکله د شیخ رح د فتوا له امله د نوموړي مخالفینو د هغه پر ضد ظالمانه فتواګانې ورکړي تر دې چې ځینو یې د دې حقې فتوا له امله هغه ته کافر وویل چې ددې کسانو شمیر ۱۸ تنه وو او په سر کې یې د قاضي اخنائی مالکي په نوم کس وه. دغه دسیسې او مخالفتونه د دې سبب شول چې شیخ الاسلام رح زنداني شو او په زندان کې له نړۍ وکوچید. شیخ رح د دې پیښې له امله په زندان کې د الرد علی الاخنائی په نوم خپل مبارک کتاب ولیکه او له خپل دریځ او فتوا څخه یې دفاع وکړه.[2]

له دې ټولو ستونزو سره سره نه یوازی دا چی د شیخ الاسلام رح همت کمزوری نشو بلکې د زنداني کیدلو په هره مرحله کې تر پخوا لا ډیر راسخ او غښتلی شوی او په لا ډیر جدیت

[1] (په دی اړه د شبهاتو په برخه کی توضیح ورکړای شوی ده)

[2] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، صفه۳۴۳-۳۸۴ و ذيل طبقات الحنابلة، ۵۲۸/۴-۵۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخ ته تللی دی، تر چې زندان يې ځان ته د عبادت تدريس او تاليف په ځای تبديل کړی وه.

علامه ابت قيم رح وايي: شيخ الاسلام رح راته وويل: "ما يصنع أعدائي بي؟ أنا جنتي وبستاني فِي صدري ، إن رحت فهي معيِ، لا تفارقني، إن حبسي خلوة، وقتلي شهادة، وإخراجي من بلَدي سياحة.[1]

يعني:« دښمنان مې زما په حق کې څه کولی شي؟ باغ او گلستان مې په سينه کې موجود دی هر چيري چې لاړ شم ملتيا مې کو ي او هيڅکله مې يوازې نه پريږد ي. زندان زما لپاره خلوت، مرگ زما لپآره شهادت او له وطن نه اخراج او تبعيد به راته سياحت او گردش وی.»
سبحان الله! په رښتيا هم د داسې چا په حق چې له ټولو فرصتونو نه پخپله گټه استفاده کوي څه کولی شي؟ هيڅ!

[1] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۴۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیخ الاسلام رح به په زندان کې شاګردان روزل، ډیر شمیر کتابونه یې لیکل، د خلکو د مسائلو په اړوند یې فتواوې ورکولي او پوښتونکو ته یې ځوابونه ورکول. تر دې چې د عمر په وروستیو میاشتو کې یې د شاګردانو د ورتګ اجازه پرې بنده کړه، او په پای کې یې د لیکلو مواد هم ترینه واخیستل، شیخ رح وروسته تر دې د سکرو په واسطه ځینې لیکنې کولې. تر دې ظالمانه سختګریو وروسته پر عبادت او د قرآن کریم په تلاوت مصروف شو داسې چې ویل کیږی د ژوند په وروستیو ورځو کې یې اتیا یا هم یو اتیا ځله قرآن کریم ختم کړی دی او روزانه یې درې پارې تلاوتولې. [1]

## د شیخ الاسلام رحمه الله له زنداني کیدلو څخه درسونه او پندونه

- د دعوت لار یو سخت او له کړاونو ډک مسیر دی.
- دعوتګر باید د هرې ستونزې او سختۍ په وړاندې اماده وي او دد مصیبتونو په وړاندې ځپل ځان ونه بایلي.

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۳۷۹-۳۸۴ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که څوک په خپل ّځان کې زغم او حوصله نه ویني، باید په دې لاره کې ګام پو رته نه کړي.
- له حق نه تیریدل او د اهل باطل په وړاندې په شاتګ باید هیڅکله ونشي.
- دعوتګر باید ښنوونکی وي، او د خپل شخصیت او شخصي مسایلو لپاره له چانه غچ وانه خلي.
- د دښمنانو ګوزاونه باید د د د عوت په لاره کې د توقف او سستوالي سبب نشي.
- دعوتګر باید له الله تعالی سره ټینګه اړیکه ولري او په دې اړیکه کې ناغیړي ونه کړي.
- داعي باید خپل سپیڅلی دعوت په هیڅ ډول شتمنۍ او واک ورنه کړي. او ځینې نور درسونه او پندونه...

## د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الاسلام رح له يو عمر مبارزې، تدريس، تاليف، رنځ او مشقت څخه وروسته په ۷۲۸ه کال د ذوالقعدې په مياشت کې د دوشنبې پّه ورځ د ٦٧ کلونو په عمر د دمشق کلا په زندان کې ځان خپل پروردګار ته وسپارلو او وروستۍ آيتونه چې تر مرګ مخکې يې تلاوتولو دا ول: {إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ * فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍۭ}.[1] ژباړه: نافرمانۍ څخه ډډه کوونکي (پرهېزګاران) به په باوري توګه په باغونو او ويالو کې وي؛ په داسې يو رښتينې مجلس کې (چې دروغ او ياوه سرايي به پکې نه وي ... په) وړاندې د ډېر مقتدر او ځواکمن باچا (چې د ټولو کائناتوخدای او خالق دی) .[2]

د شيخ الاسلام رح وفات ټول غمجن کړل، د هغه جنازې ته يې غسل اوتکفين ورکړ او په جامع اموی کې يې پرې د جنازې المونځ اداء کړ. په جنازه کې يې دومره ډېرو خلکو ګډون کړی وه چې د پښې ايښدو ځای نه موندل کيدو. او په پآی کې يې نوموړی د الصوفيه په هديره کې د خپل ورور شرف الدين عبدالله تر څنګ دفن کړ.[3]

---

[1] (سور قمر آيا ۵۴-۵۵)

[2] (البداية و النهاية ۱۳۸/۱۴)

[3] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، صفحه ۳۸٦، البداية و النهاية ۱۳۸/۱۴ و الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة، ۱۸٦/۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیخ رحمه الله په جنازه کې له درې تنو پرته نورو ټولو د علم خاوندانو ګډون وکړ چې دا درې تنه عبارت ول له: ۱- ابن جمله ۲- الصدر،۳- القفجاری. چې دې درې تنو هم له شیخ رح د سختې دشمنۍ او مخالفت له مخې د هغه په جنازه کې ګډونونه کړ او ویریدل چې که یې خلک ووینې نو حتما به یې ووژنې یا به یې له منځه یوسي[1] په شیخ رح د نړۍ په ګوټ ګوټ حتی یمن او چین کې غایبانه جنازه اداء کړای شوه. [2]

## د شیخ الاسلام رحمه الله علمي مقام او د هغه د شخصیت په اړوند د علماؤ تعریف او تمجید

د شیخ الاسلام رحمه الله د لوړ علمی مقام تر ټولو ښه معرف او ښکارندوی د هغه کتابونه او همدارنګه د هغه روزلی ستر شاګردان دي چې پریښې یې دي. نوموړی ته تر اتیا ډیرو د هغه مهال همعصرو علماؤ د شیخ الاسلام لقب ورکړی تر دې آن چې تر ټولو ناوړه دښمنانو یې هم د هغه په پوهه او لوړ علمی مقام اعتراف کړی دی.

[1] (البدایة و النهایة ۱۳۹/۱۴)
[2] (ذیل طبقات الحنابلة، ۵۲۸/۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیخ الاسلام لقب، ابن تیمیه رح ته د هغه د پراخې پوهې او لوړ علمی مقام په خاطر ورکړی شوی دی. سره له دې چې له شیخ رح څخه وروسته د هغه ځینې تکفیری دښمنانو ویلي: هر څوک چې ابن تیمه رح ته د شیخ الاسلام لقب ورکړی کافر او مرتد دی. معاذالله من هذا الخذلان

په همد ی خاطر علامه ابن ناصرالدین دمشقی رح(۸۴۲متوفای ه) د "الرد الوافر علی من زعم بأن من سمّی ابن تیمیة شیخ الإسلام كَافر" تر عنوان لاندی کتاب لیکلی او په دې کتاب کې یې تر اتیا د ډیرو علماؤ نومونه او د هغو له کتابونو هغه دلایل راوړی چې ابن تیمیه رح ته یې د شیخ الاسلام لقب ورکړی دی.

علامه ابن حجر عسقلانی رح د ابن ناصرالدین رح پر الرد الوافر کتاب تقریظ لیکلی دی او دی تقریظ په یوه برخه کي لیکي: "وشهرة إمامه الشيخ تقي الدين ابن تيمية أشهر من الشمس وتلقيبه بشيخ الإسلام باق إلى الْآن على الْألسنة الزكية ويستمر غدا لْما كَان بالْامس ولا ينكر ذلك إلا من جهل مقداره وتَجنب الإنصاف" [1]

[1] (تقريظ للحافظ ابن حجر العسقلاني على الرد الوافر، صفحه ۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی: «د شیخ تقی الدین ابن تیمیه رح شهرت، امامت او بزرگي تر لمر هم مشهوره ده. او دهغه شیخ لقب تر نن پورې په پاکو ژبو شتون لري او سبا به یې هم ولري، او د نوموړي له دي لقب څخه له جاهل او بې انصافه پرته بل څوک نه منکریږي». تر دې چې وایي: "فإنه شیخ مشایخ الاسلام فِی عصره بلا ریب".[1]

یعنـي: « پرته له شکه هغه په خپل عصر کې یو شیخ له مشایخو د اسلام وه».

د یادونې چې د احنافو یو ډیر ستر محقق علامه ابن عابدین شامی رح او همدارنگه ډیرو نورو حنفی علماؤ، ابن تیمیه رح ته شیخ الاسلام ویلي دي. ابن عابدین رح وایي: "ورأیت فِي کتاب الصارم المسلول لشیخ الإسلام ابن تیمیة الحنبلی ما نصه... "[2]

[1] (تقریظ للحافظ ابن حجر العسقلاني علی الرد الوافر، صفحه ۱۴)
[2] (حاشیه ابن عابدین ۲۱۴/۴ په ضمن د : مطلب في حکم سب الذمي النبي صلی اللز علیز وسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی:« او د شیخ الاسلام ابن تیمیه په کتاب الصارم المسلول کې مې ولیدل چې کلام یې دا دی...». نو ایا ابن عابدین شامی او نور علماء او فقهاء کافر او مرتد دي؟ والله المستعان! په رښتیا هم تعصب انسان تر کوم ځای پورې بیایی.

هوکې! ابن تیمیه رح شیخ الاسلام دی که د چا خوښه وي که نه وي!

علامه محمدبن عبدالبر سبکی رح وایی: " والله ما یبغض ابن تیمیة إلا جاهل أو صاحب هوی، فا الجاهل لا یدری ما یقول، وصاحب الهوی یصده هواه عن الحق بعد معرفته به".[1] یعنی:« قسم په الله له ابن تیمیه سره له جاهل او د نفسانی خواهشاتو له پیرو پرته بل څوک دښمني او حسادت نه کوي، ځکه جاهل خپلو خبرو ته متوجه نه وي چې څه وایي او د نفساني خواهشاتو پیرو ته هم د هغه خواهشات اجازه نه ورکوي چې د حق له پیژندلو وروسته د هغه پیروي وکړي. شیخ الاسلام رح چې د هر علم په اړوند خبرې کوي نو داسې تصور کوې چې ګنې د هغه تخصص یوازې په همدې علم کې دي اوله دې پرته په بل څه نه پوهیږي[2].

[1] (الرد الوافر، ص ۵۱)

[2] (ذیل طبقات الحنابلة، ۴۹۸/۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شيخ رح وروسته ډير علماء دهغه له علم نه مستفيد شوی او په خپلو تاليفاتو او تصنيفاتو کې يې ورځخه استفاده کړې ده، په ځانګړې تو ګه دنوموړي شاګردان او د هغه د شاګردانو، شاګردان، لکه: ابن ابی العز حنفی رحمه الله –چې شاګرد د علامه ابن کثير رحمه الله وه – پخپل کتاب شرح عقيده طحاويه کې په زياته کچه له ابن تيميه او ابن قيم رحمهماالله له کلام څخه استفاده کړې ده. همدانګه نورو علماؤ لکه علامه ابن حجر عسقلانی رح د صحيح بخاری په شرحه( فتح الباری) کې په پراخه کچه دهغه له علم نه استفاده کړې ده.

البته علامه ابن ابی العز رحمه الله او علامه ابن حجر رحمه الله په ډيرو مواردو کې له شيخ رح سره د اهل بدعت د حساست له امله د هغه کلام د نوموړی له نامه پرته رانقلوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د شیخ الاسلام رحمه الله په اړوند د نورو اشخاصو ستاینې

د شیخ الاسلام رح د شخصیت په اړوند د ځینو علماؤ او مسلمانو پوهانو د څرګندونو یوه برخه ستاسو خدمت ته لیکم .علامه تقی الدین بن العید رح (متوفای۷۰۲ه)[1] د شیخ رح په اړه وایي: "رأيت رجلا العلوم كلها بيْ عينيه يأخذ منها ما يريد ويدع ما يريد. "[2]

یعني:« ابن تیمه مې یو داسې سړی ولیدو چې ټول علو م یي د سترګو په وړاندې ول څه یې چې غوشتل ترې اخیستل یې او څه یې چې نه غوښتل نو پریښودل یې». علامه کمال الدین الزملکانی رح( متوفای۷۲۷ه)[3] وایې: "كَان ابن تيمية إذا سئل حح عن فن من العلم

[1] محمد بن علی، ابو الفتح تقی الدین قشیری، معروف په ابن دقیق العید د اصولو له لویو علماوو وه او په فقه ، اصول فقه، او شرح حدیث کې د زیاتو تالیفاتو څښتن دی. لکه کتاب "إحكام الأحكام"، "الإلمام بأحاديث الأحكام"، "شرح الأربعين حديثا للنووي" او څو نور کتابونه. (الأعلام للزرکلی ۲۸۳/٦).

[2] (الرد الوافر، ص ۵۹)

[3]. محمد بن علی، کما الدین معروف په ابن زملکانی د شوافعو له مشرانو وه په دمشق کې پیدا او هملته یی علم زده کړاو همدارنګه یی د حلب د قاضي په توګه دنده ترسره کړی. سره له دی چې له شیخ رح سره د طلاق او شدالرحال په مسله کې اختلاف درلود او په دی هکله یی کتاب هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظن الرا ئي والسامع أنه لا يعرف غير ذلك الفن، وحكم بأن لا يعرفه أحد مثله، وكانت الفقهاء من سائر الطوائف إذا جالسوه استفادوا فِى مذاهبهم منه أشياء،... واجتمعت فيه شَروط الاجتهاد على وجهها"[1]

يعنی: کله به چې ابن تيميه د علومو او فنونو په اړند په څه شی کې وپوښتل شو ( او هغه به ورته په ځواب شروع وکړه) نو اوريدونکی او ليدونکی به داسې تصور کاوه چی له دې علم پرته په بل څه نه پو هيږي(يعني داسې فکر به يې کاوه چې يوازې په همدې اړوند تخصص لري او بس!) او په دې به يې اعتراف کاوه چې بل ځوک د هغه په څير په دې مسئله نه پوهيږي. او د نورو ډلو فقهاء به چې کله له نوموړی سره کښيناستل نو د خپل مذهب په اړه به يې ډير څه ترې زده کول.( يعنی شيخ رح د هغوی د مذهب په هکله په داسې شيانو

ليکلی مگر انصاف يی په پام کی نيولی او او پرته له حق څخه يی بل څه د شيخ رح په اړوند نه دی مطرح کړی د هغه له تاليفاتو کولی سو پر المنهاج د امام نووی د هغه له تعليقاتو او هم د تاريخ برخه کی کتاب ته اشاره وکو. . (الأعلام للزركلی ٢٨۴/٦).

[1] (تاريخ ا ابن الوردي ٢٧٧/٢ ، ذيل طبقات الحنابلة ،۴٩٨/۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیده چې د هغه مذهب خپل خلک پرې نه پوهیدل) او د اجتهاد شرطونه په درست شکل په هغه کې موجود ول.»

حافظ ابو الفتح ابن سید الناس یعمری رح (متوفای ۷۳۴ه)[1] وایي: "فألقیته ممن أدرك من العلوم حظا وكان يستوعب السننَ والْآثار حفظا إن تكلم فِی التفسير فهو حامل رايته أو أفتَّى فِی الفقهه فهو مدرك غَياته أو ذاكر فِی الحديث فهو صاحب علمه وذو روايته أو حاضَر بالْملل والْنحل".[2]

یعني:« ابن تیمیه مې داسې شخص وموندو چې له هر علمه یې ګټه اخیستې وه، او احادیث او آثار یې حفظ کړی وه که به یې په تفسیر کې څه ویل نو سرلاری یې ګڼل کیدو، که به په فقه کې فتوا ورکوله نو په ښه شکل پرې پوهیدو، که به یې له احادیثو څه ویل نو په حقیقت

[1] محمد بن محمد، ابو الفتح فتح الدین الیعمری، عالم، مؤرخ، ادیب او له جملې د حدیثود حافظانو دی؛له کتابونو یی کولی سو"عیون الأثر في فنون المغازي والشمائل والسیر"، "تحصیل الإصابة فیي تفیل الصیحابة" او "النفح الشذي في شرح جامع الترمذي" اشاره وکرو. (الأعلام للزرکلی ۳۴/۷).

[2] (العقود الدریة من مناقب شیخ الإسلام أحمد بن تیمیة، ص۳٦ الرد الوافر، ص۲٦ ، الدرر الکامنة فیي أعیان المائیة الثامنة، ۱۸۲/۱ او۱۸۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پرې عالم او د روايت ښښتن وه او که د فرق او اديانو په هکله څه ويل نو په ربښتيا يې اهل او وړ ښکاريدو».

امام حافظ مزی رح (متوفای ۷۴۲ه)[1] د شيخ الإسلام رح په هکله وايی: «ما رأيت مثل ابن تيمية ولا رأى هو مثل نفسه وما رأيت أحدا أعلم بكتاب الله وسنة رسنول الله صلى الله عليه وسلم ولا أتبع لْهما منه»[2]

يعنی: « د ابن تيميه په څير مې د الله تعالی په کتاب او رسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو پوه او پيروی کوونکی بل څوک نه دی ليدلی او هغه هم د ځان په څير بل څوک داسې ندی ليدلی.»

[1] .1 يوسف بن عبدالرحمن، ابو الحجاج جما الدين مزی، د شام لوی محدث،وه هغه د عربی ژبی ادبياتو او تر دی پس په په حديث او علوم حديث کی خاص مهارت درلود له کتابونو يی کولی شو "تهذيب الكمال في أسماء الرجا ل" "تحقة الأشراف بمعرفة الاطراف" او " الكنى، المختصر من تهذيب الكمال " تهراشاره اکرو. (الأعلام للزركلى ۲۳٦/۸).

[2] (الرد الوافر، ص ۱۲۸-۱۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام شمس الدين ذهبی رح (متوفای ۷۴۸ه)[1] وايي: "أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبداللَّه أ بن ابی القاسم تيمية شيخا الإمام تقي الدين أبو العباس الحراني فريد العصرعلما ومعرفة وذكَاء وحفظا وكرما وزهدا وفرط شجاعة وكثْرة تآليف... ولم يُخلف بعده مثله فِی العلم، ولا من يقاربه". [2]

يعني:« يعني ابن تيميه په خپل عصر کې په علم، معرفت، هوښياری، ښښنه، زهد، ميړانه، پراخ تاليف....کې بې ساری دی، له هغه وروسته بل څوک د هغه په څير او يا ورته نژدې نشته.»

[1] محمد بن احمد شمس الدين، أبو عبد الله ذهبی، عالم مؤرخ، محدث او محقق؛ دی کتابونه يی ډير زيات دی له جملی يی کولی سو اشاره وکو "تهذيب تهذيب الكمال "، "الكبائر" او " تاريخ الإسلام الكبير". (الأعلام للزركلی ۵٦/۱).

[2] 1. اسماعيل بن عمر بن كثير، ابو الفداء، عماد الدين؛ هغه عالم، مؤرخ، فقه او محدث شخصيت وه. له بی شميره کتابونو يی کولی سو دری ياد کو "الباعث الحديث إلى معرفية علوم الحديث"، "البداية والنهايية" و "تقسير القران العظيم". (الأعلام للزركلی ۳۲۰/۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه ابن كثير رح (متوفاى ٧٧۴ ه) [1] وايي: "وبالجملة كَان رحْمه الله من كبار العلماء ومُن يُخطئ ويصيب ولكن خطوه بالنسبة إلى صوابه كنقطة فِى بحر لجي، وخطوه أيضا مغفور له..." [2]

يعنى:« لنډه دا چې ابن تيميه د لويو علماؤ له ډلې دى او نورو په څير ښيګڼې او تيروتنې لري، خو تيروتنې د ښيګڼو په نسبت داسې دي لكه په ژور سمندر كې يو ټكى، او تيروتنې يې له دې امله چې يو مجتهد دى ښښل شوي دي....»

ابن رجب حنبلى رح(متوفاى٧٩٥ ه) [3] وايى: "كَات العلماء والصلحاء وا الجند والْامراء والتجار وسائر العامة تحبه لْانه منتصب لْنفعهم ليلا ونهارا بلسانه وعلمه ". [4]

---

[1] (معجم الشيوخ الكبير ٥٦/١ )

[2] (البداية و النهاية ١۴٠٠/١۴-١٣٩١).

[3] عبد الرحمن بن احمد بن رجب، ابو الفرج زين الدين په ٧٣٦ه كال په بغداد كس متولد شده په د مشق كى رالوى شوى او همدلته وفات شوى. له شاګردانويب علامه ابن قيم او ابن عبدالهادى رح دى . له كتابونو يى "فتح الباري، شرح صحيح البخاري" ) دا اد ابن حجر له شرحى بغير دى او تمام كړى يى نه دى(، "جامع العلوم والحكم" و " القواعد الفقهية"؛ ته اشاره وكو (الأعلام للزركلى ٢٩٥/٣)

[4] (شذرال الذهب في أخبار من ذهب،٨٣/٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی:« علماءو، نیکانو، نظامیانو، امیرانو، تجارانو، او ټولو خلکو له ابن تیمیه سره مینه کوله ځکه هغه یې په خپلې ژبې او پوهې سره شپه او ورځ په خدمت کې وه.»

علامه ابن حجر عسقلانی رح(متوفای۸۵۲ه)[1] د ابن ناصرالدين رح پر الرد الوافر كتاب تقریظ لیکلی دی او ددی تقریظ په یوه برخه کې لیکي: "وشهرة إمامه الشيخ تقي الدين ابن تيمية أشهر من الشمس وتلقيبه بشيخ الإسلام باق إلى الْآن على الْألسنة الزكية ويستمر غدا لْما كَان بالْأمس ولا ينكر ذلك إلا من جهل مقداره وتَجنب الإنصاف"[2]

یعنی: «د شیخ تقی الدین ابن تیمیه رح شهرت، امامت او بزرگي تر لمر هم مشهوره ده. او دهغه شیخ الاسلام تر نن پورې په پاکو ژبو شتون لري او سبا به یې هم ولري، او د نوموړي له دي لقب ځخه له جاهل او بې انصافه پرته بل څوک نه منکریږي».

1. احمد بن علی، ابو الفضل شهاب الدين عسقلاهی، اصالتا له عسقلان د فلسطین وه مگرتولد او وفات یی په قاهره د مصر کی وشو هغه ادب او شعر ويلو او تخصص یی په حدیث اوعلوم حدیث کی وه. له کتابونو یی "فتح الباري في شرح صحيح البخاري"، "بلوغ المرام من أدلة الأحكام" و "تقريب التهذيب"؛ ته اشاره کوو. (الأعلام للزركلی ۱۷۸/۱).

2 (تقريظ للحافظ ابن حجر العسقلاني على الرد الوافر، ص۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه بدر الدين عینی رح (متوفای۸۵۵ ه)[1]پخپل کتاب "عقد الجمان في تاريخ أهل الزمان" کې د پېښنو په بيانولو کې کله چې شيخ الإسلام رح ته رسيږي له نوموړي څخه په احترام او ښه شکل سره يادونه کوي او د هغه نوم په داسې صفاتو سره يادوي چې د شيخ رح په د بزرگۍ او غوره والی د اعتراف دلالت کوي.

د بيلگې په توگه دې د ٦٦٧ه، ٦٨٣، ٦٩۴، او ٦٩٩ه حوادثو ته مراجعه وشي او همدارنگه د "عمدة القاري شرح صحيح البخاري" و "البناية شرح الهداية" پّه کتابونو کې يې له شيخ الإسلام ابن تيمية رح څخه نقل کړی دی چې دا هم د شيخ رح په لوړ علمی مقام د علامه عینی رح د اقرار دلالت کوي.

علامه عينی د "الرد الوافر" کتاب د توصيف په ضمن کې د شيخ ا الإسلام رح په هکله وايي: " ومن الشائع الْمستفيض أن الشيخ الإمام العالم العلامة تقي الدين ابن تيمية... وهو الذاب عن الدين طعن الزنادقة والْملحدين، والنّْاقد للمرويات عن الْنبْى سيد الْمرسلينْ، وللمأثورات من الصحابة والتابعيْ... وقد سارت تصانيقه فِ الْافاق، وليس فيها شيء مُا يدل على الزيغ والشقاق، ولم يكن بحثه فيما صدر

[1]. محمود بن احمد، ابو محمد بدر الدين عینی حنفی، د حنفی مذهب له علماوو وه او محدث، فقيه ، مؤرخ شخصيت وه. اصلا د حلب وه مگر په عينتاب کی متولد شوی او وروسته له يو ی مودی د قضاوت له مقامه لرې شو او په قاهره د مصر کې وفات شو. از کتابونويی کولی سو ياد کو "مغاني الأخيار في رجا ل معاني الآثار"، "شرح سنن أبي داوو د"العلم الهيب فيي شرح الكلم الطيبب" چی د علامه ابن تيميه رح په کتاب شرحه ده (الأعلام للزرکلی ۱٦۳/۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنه فِی مسألة الزيارة والطلاق: إلا عن اجتهاد سائغ بالاتقاق، والْمجتهد فِس الحالتينْ مأجور مثاب، وليس فيه شيء ممُا يلام أو يعاب، ولكن حْملهم على ذلك حسدهم الظاهر ، وكيدهم الباهر ... وهو الإمام الفاضل البارع التقي الْنقي الوارع الفارس فِی علم الحديث والتفسير،الفقهه والْاصولينْ بالتقرير والتحرير، والسيف الصارم على الْمبتدعينْ، والحبر القائم بأمور الدين، والْامار بالْمعروف والْنهاء عن الْمنكنر، ذو همة وشجاعة وإقدام فيما يروع ويزجر، كثير الذكر والصوم والصلاة والعبادة..."[1]

یعني:« هغه څه چې معروف او مشهور دی دا دي چې شیخ، امام، عالم او علامه تقی الدین ابن تیمیه... د ملحدینو د ملنډو په وړاندې له دین څخه دفاع کړې ده او په حدیث او آثر کې له اهل نقد څخه وه، کتابونه او تالیفات یې ډېر زیات دی او په هغو کې داسې څه شتون نه لري چې د نوموړي په گمراهۍ او ناسم لیدلوري دلالت وکړي. د د زیارت او طلاق په موضوعاتو کې یې چې څه ویلي د هغه سایغ(جایز) اجتهاد په اساس دي چې ټول پرې اتفاق لري چې مباح دي. او یقینا مجتهد د صواب(سموالی) او خطا دواړو حالاتو کې د اجر مستحق دی او ورته مزد ورکول کیږي. په دې مسایلو کې داسې څه شتون نه لری چې د ملامتیا او عیب لټولو وړ وي خو د هغه مخالفین د ښکاره دښمنۍ او حسادت له مخې پر هغه

[1] (الرد الوافر، ص ٢٦١-٢٦٢ و الشهادة الزكية في ثناء الأئمة على ابن تيمية، ص 76-77).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوکې نیولي...هغه یو پرهیزگاره، متقی، سپیڅلی او زاهد امام او لاربنود دی. هغه په لیکلو او ویلو د حدیثو په علم، فقه، تفسیر، اصول حدیث او اصول فقه کې مخکښ دی او پر اهل بدعت والاوو د تیرې تورې په څیر دی. د دین په کارونو کې پوه دی، په معروف امر کوونکي او له ناوړه کارونو منعه کوونکی دی. هغه د خورا شجاعت او لوړ همت څښتن دی او آن په هغه څه کې چې هغه یې گوابښاه هم مخکښ وه، هغه یو ذاکر، روژه تي، لمونځ گذاره او د عباد ت څښتن انسان وه.»

ملا علی قاری هروی رح (متوفیای ۱۰۱۴ه)4 وایی[1]: "ومن طالع شَرح منازل السائرين، تبينْ له أنهما كَانا من أكابر أهل السنة وا لجماعة، ومن أو لياء هذه الأمة".[2]

---

۱ملا علی بن (سلطان) محمد، نور الدین قاری هروی، دافغانستان پَه هرات کې متولد شوی دی او ډیر عمر  یي په مکه کې تیر کړی دی او هملته وفات شوی دی. په حنفی مذهب کی له مشهورو فقهاؤ او لویانو حسابیږی. له گڼو کتابونو یی یوازی ۳ ته اشاره کوم: "منح الروض الأزهر في شرح الفقه الأكبر"، "تذكرة الموضوع" او " الردعلی ابان العربی فی کتابه الفصوص وعلی القائلین بالحلول  والاتحاد". (الأعلام للزركلی ۱۲/۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی:«هر څوک چې شرح منازل السائرین)مدارج السالکین علامه ابن قیم) مطالعه کړي، نو به ورته څرګنده شي چې ابن تیمیه او ابن قیم د اهل سنت او جماعت له مشرانو او ددې امت له اولیاؤ دي.»

علامه شاه ولی الله دهلوی حنفی رح[1] (متوفای١١٧٦ه)په شیخ الإسلام رح باندې د تړل شوو اتهاماتو په وړاندی په دفاع کې وایي: "فإنا قد تحققنا من حاله أنه عالم بكتناب الله ومعانيه اللغوية والشرَعية، وحافظ لسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم وآثار السلف، عارف بمعانيها اللغوينة والشرَعية، أستاذ فِى الْنحو واللغة، محرر لْمذهب الحنابلة فروعه وأصوله، فائق فِى الذكَاء، ذو لسان وبلاغة فِى الذب عن عهيدة أهل السنة، لم يوثر عنه فسق ولا بدعة، اللهم إلا هذه الْامور التي ضيق عليه لْاجلها، وليس شيء منها إلا ومعه دليله من الكتاب والسنة وآثار السلف. فمثل

---

٢(مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ٢٧٧٨/٧ په ضمن د شرح روایت شماره ۴۳۴۰ کتاب اللباس).

[1] احمد بن عبدالرحیم، ابو عبدالعزیز دهلوی، ملقب په شاه ولی الله؛ له فقهاوو د احنافو او د قدر وړ محدث وه هغه په حقیقت کې د دولسمی هجری پیړی له مجددینو او د هند په نیمه لویه وچه کې د حدیث،او سنت له بیا راژوندی کوونکو حسابیږی. له کتابونو یی "حجة الله البالغة"، "الفوز الکبیر في أصو ل التفسیر" او " الإنصاف في أسباب الخلاف" اشاره کوو. (الأعلام للزرکلی ١۴٩/1).

(c) ketabton.com: The Digital Library


هذا الشيخ عزيز الوجود فِى العالم، ومن يطيق أن يلحق شأوه فِى تحريره وتقريره؟ والذين ضيقوا عليه ما بلغوا معشار ما آتاه الله تعالى، وإن كَان تضييقهم ذلك ناشئا منن اجتهاد، ومشاجرة العلماء فِى مثل ذلنك ما هى إلا كمشاجرة الصحابة فيما بينهم، والواجب فِى ذلك كف اللسان إلا بخير"[1]

يعنی:« مونږ د ابن تيميه په اړه څيړنه وکړه، دې پايلې ته ورسيدو چې هغه د الله تعالی په کتاب او د هغه په لغوی او شرعي مفاهيمو عالم وه، همدارنگه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو او د سلفوّ په آثارو عالم او هغو په شرعی او لغوی مفاهيمو پوهيده، هغه د اهل سنت له عقيدې او باور څخه په دفاع کې بليغه ژبه درلوده او له نوموړی څخه هيڅ فسق او بدعت نه دی رانقل شوی خو بيا هم د ځينو هغو کارونو په خاطر چې ځورول شوی په هغو کې هم هيڅ مشکل نشته او هغه ورته له کتاب، سنت او د سلفو رح له آثارو څخه دليل درلود. نو په نړۍ کې د دغه ډول شيخ په څير بيلگې کمې پيدا کيږي، او څوک ددې وړتيا لري چې په ليکلو او تقرير کې د هغه ځای ته ورسيږي؟ او هغوی چې ورته ستونزې جوړولې يو په لسمه برخه يې هم هغه څه نه درلودل چې شيخ رح ته الله تعالی ورکړی وه. سره له دی چې د هغوی لخوا ددغه ډول مشکلاتو جوړول د اجتهاد له

[1] (الجامع لسيرة شيخ الإسلام ابن تيمية خلا ل سبعة قرون، ص٦٤٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخې ول او په دغسې مواردو کې د علماؤ اختلاف لکه د صحابه وو ترمنځ د اختلاف په څیر دی نو لازمه ده چې ژبه له بد ګویۍ نه وساتل شي او له خیر او نیکۍ پرته بل څه ونه ویل شی».

علامه ابن عابدین شامی حنفی رحمه الله (متوفاای۱۲۵۲ه )[1] پر ردالمختار د هغه پر لیکلې حاشې په ګڼو ځایونوکې له شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله څخه نقل قول کړی چې دا د شیخ رحمه الله پر لوړعلمي مقام د هغه د اعتراف دلالت کوي. او په یو ځای کې یې هغه د شیخ الإسلام په نوم یاد کړی او داسې نقل کوي.: "ورأیت فِي کتاب الصارم المسلول لشیخ الإسلام ابن تیمیة الحنبلي ما نصه..." [2]

[1] محمد امین بن عمر بن عبدالعزیز عابدین، د شام لوی فقیه او د حنفی مذهب له مشرانو دی چی د خاتم المحققین لقب یی هم ورکړی. له کتابونو یی: "رفع الأنظار عما أورده الحلبي على الدر المختار"، "العقور الدرية فيي تنقيح الفتاوي الحامدية" و "تسمات الأسحار على شرح المنار". (الأعلام للزرکلی ۱٦۳/۷).

[2] (حاشیه ابن عابدین ۲۱۴/۴ په ضمن د: مطلب في حكم سب الذمي النبي صلى الله عليه وسلم).

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني:« او د شيخ الاسلام په الصارم المسلول كتاب كې مې وليدل چې كلام يې داسې وه...». علامه مرتضی زبیدی حنفی رح (متوفای ۱۲۰۵ ه)[1] وايي: "والعلامة أبو العباس أحمد بن عبد الحليم الحنبلي المعروف بابن تيمية وذووه، محدثون مشهورون".[2]

يعنی: «علامه ابو العباس، احمد بن عبدالحليم حنبلی، معروف په ابن تيميه له مشهورو او پيژندل شوو محدثينو دی».

مشهور مفكر علامه سيد ابوالحسن ندوی حنفی رح (متوفای۱۴۲۰ ه)[3] پخپل كتاب "تاريخ دعوت و اصلاح" دوهم جلد كې ، چې د مولانا ابراهيم دامنی رح

[1]. محمد بن محمد، ابو الفيض زبيدی، ملقب په مرتضی؛ له علماو د احنافو دی او په ژبپوهنه، حديث، رجال او انساب کی عالم دی. له کتابونو يی : "أساتيد الكتب السنتة"، "عقود الجواهر المنيفة في أدلة مذهب الإمام أبي حنيفه"او " الروض المعطار في نسب الساة آل جعفر الطيار". (الأعلام للزركلی ۷۰/۷).

[2] (تاج العروس من جواهر القاموس ۳۵۱/۳۰).

[3] سيد ابوالحسن، علی ندوی له جملی د علماءو او مفكرينو د احنافودی چي كتابونه يی په اسلامی بيداری کی د اهميت وړ دی او په يقين سره هغه د ۲۰ پيړی له مجددينو معرفی کولی سو. له کتابونو يی "د اسلامی بيداری په لور گام"، "ځوان نسل وومومی "او "كندوكاوی در اوضاع جهان و انحطاط مسلمانان".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه ده، شیخ الإسلام رح د دې دین له مجددینو معرفی کړی او همدارنګه یې په بل کتاب "تزکیه او احسان یا تصوف او عرفان ته نوې کتنه" کې نوموړی د الهی اولیاؤ له ډلې ګڼلی.

علامه مرعی بن یوسف الکرمی (متوفای ه)[1] د "الشهادة الزکیة فِي ثناء الْائمةعلی ابن تیمیة" تر عنوان لاندې کتاب لیکلی او پکې یې شل تنه هغه لوی علماء او امامان یاد کړي چې د شیخ رح ستاینه یې کړې او همدارنګه یې د شیخ رح په اړوند د هغوی د ځینو ځرګندونې او هم رانقل کړي دي.

نکته: سره له دې چې ځینې له دغو علماؤڅخه په یو شمیر مسائلو کې له شیخ رح سره مخالف ول، خو بیا یې هم انصاف په پام کې نیولی، سایغ او جایز اختلاف یې

---

[1].مرعی بن یوسف بن ابوبکر، کرمی مقدسی حنبلی؛ له حنبلی لویو فقهاوودی او په تاریخ او ادب کی هم لاس لری له کتابونو یی "دلیل الطالب"، "نزهة الناظرین في تاریخ من ولي مصر من الخلفاء والسلاطین" او " غایة ا المنتهی في الجمع بین الإقناع والمنتهی". (الأعلام للزرکلی ۲۰۳/۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حسادت او دښمنۍ نه دی اړولی بلکې خپله پاملرنه یې حق او عدالت ته کړې ده.

## د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ځينې تاليفات

شيخ الاسلام رح تيز نويس، د ګړندی قلم او غښتلي ذهن خښتن وه. تر دې چې د "العقيدة الواسطية" كتاب يې له مازيګره تر ماښامه ليکلی. شيخ الإسلام وايي: "فكتبت له هذه العقيدة وأنا قاعد بعد العصر".[1]

يعنی: «اين عقيده (واسطيه) مې د مازيګر له لمانځه وروسته وليکلو".

همدارنګه د "العقيدة الحموية" كتاب يې د ماسپښين او مازيګر تر منځ ليکلی. علامه ابن عبدالهاری رح وايي : "فأما العقيدة الحموية الكبرى فأملاها بينْ الظهر والعصر".[2]

[1] (مجمع الفتاوى٣ /١٦٣)
[2] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ٨٣ص).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی:« یعنی شیخ الاسلام د عقیده حمویه لوی کتاب د ماپښین او مازدیگر تر منځ وخت کې ولیکلو».

همدغه راز ویل کیږي چې د "السیاسة الشرعیة في إصلاح الراعي والرعیة" کتاب یې په یوه شپه کې ولیکلو. شیخ رحمه الله له ٦٧٧ه کال یعني اوولس کلنۍ څخه په تصیف او لیکوالۍ پیل وکړ، ځینې کتابونه یې ورک شوي، پټ شوي او یا یې هم د کتاب پر پوښ بل نوم کښل شوي ځکه کله چې شیخ رح زنداني کړای شو نو کتابونه یې د یوې مودې لپاره منع شول او چا یې د هغه نوم سره د کتابونو د ښکارولو جرأت نشو کولی.لکه علامه ابن حجر رح چې وایي: "ونودی بدمشق من اعتقد عقیدة ابن تیمیة حل دمه وماله خصوصا الحنابلة"[1]

یعني:«په دمشق کې اعلان وکړای شو هرڅوک چې د ابن تیمیه عقیده ولري، وینه او مال یې حلال دي په ځانگړې توگه حنبلیان».

شیخ رح پخپلو ځینو کتابونو کې ډیر ځله داسې وایي چې په دې اړوند او د فلانۍ موضوع په هکله مې لیکنه کړې خو تر اوسه یې کومه مستقله رساله یا کتاب په هغه باره کې نه دی موندل شوی، نه یې درک شته او د هغه له ورکو کتابونو شمیرل

[1] (الدرر الکامنة في أعیان المائة الثامنة، ١٧١/١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي.خو له دې ټولو سختيو او ستونزو سربيره د شيخ الاسيلام رح کتابونه ډير زيات دي.

شاگرد يې حافظ ابوحفص بزار رح وايي: وأما مؤلفاته ومصنفاته فإنها اكثْر من أن أقدر على إحصائها أو يحضرني جملة أسمائها بل هذا لا يقدر عليه غالبا احد لانها كثيرة جدا كبارا و صغارا و هى منشورة في البلدان فقل بلد نزلته الا ورأيته فيه من تصانيفه"[1]

يعني:« يعنى د ابن تيميه تألیفات او تصنيفات تر دې ډير دي چې ويې شميرم، نه يوازې زه؛ بلکې هيڅوک يې د شميرلو وړتيا نه لري ځکه چې دهغه تألیفات د کوچنيو رسالو او لويو کتابونو په شکل ليکل شوي او ليکنې يې په مختلفو ښارونو کې خپرې ورې دي. داسې ښارونه ډير کم دي چې هلته دې تللی يم او د ابن تيميه ليکنې او آثار مې دې پکې نه وي ليکلي.»

---

[1] ( الأعلام العلية في مناقب ابن تيمية، ص٢٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د شیخ الاسلام د ځینو کتابو له شمیرلو وروسته وایي: "ولا یلیق هذا المختصر بأكثْر من هذا القدر من مؤلفاته وإلا فیمكن تعداد ما ینیف على الْماتین لكن لم نر الإ طالة بذكره" [1]

یعني:« زما دا لنډه لیکنه، د شیخ رح د کتابونو د شمیرلو ډیر ځای نه لري کنه شونې ده چې د هغه تر دوه سوه او څو کتابونو پورې وشمیرم، مگر هڅه کوم ددغې رسالې له اوږدلو څخه ډډه وکړم»

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رح بل شاگرد علامه ابن قیم رح پخپل کتاب "أسماء مؤلفات شیخ الإسلام ابن تیمیة" کې د نوموړي د ۳۳۷ کتابونو نومونه راخیستي دي.ځینو د شیخ الاسلام رح کتابونه تر ۱۰۰۰، ځینو تر ۵۰۰، او ځینو نورو بیا تر ۳۰۰ پورې شمیرلي دي، او دا اختلاف له دې امله دی چې هر چاته د شیخ رح څومره کتابونه رسیدلي په هماغه شمیر یې ذکر کړي دي. شیخ الاسلام رح د خپل عمر په وروستیو کې خپلو ځینې کتابونو ته سر ورښکاراوه، داسې چې شاگردانو به یې ورته لوستلو او ده به ورڅخه یو څه کم یا زیاتول او کله به یې یو څه تعلیق اضافه کولو. لکه علامه ابن عبدالهادی رح چې وایي: "وكان یقرأ علیه فيِ تلك الْمدة من كتبه وهو یصلح فیها ویزید وینقص"[2]

[1] ( الأعلام العلیة في مناقب ابن تیمیة، ص٢٦)

[2] (العقود الدریة من مناقب شیخ الإسلام أحمد بن تیمیة، ٣۴٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« د شيخ رح کتابونه په دې موده کې هغه ته لوستل شوي دي او نومړي به هغه کم او زیاد یا اصلاح کول»

ښه ده چې په دې برخه کې د شيخ الاسلام رحمه الله ځینې کتابونه دروپیژنو او په اړه یې لنډه توضیح ورکړو.

۱- اقتضاء الصراط المستقیم لمخالفة أصحاب الجحیم: شیخ الإسلام ابن تیمیه رح په دغه کتاب کې د عقیدتې مسایلو په اړه ږغیدلی دی، مهمه ټکی یې دا دی چې له یهود او نصاراوو سره د تشبه او تشبیه د حرمت او بدولي په اړه یې بحث کړی دی او د اهل کتابو د جشنونو موضوع یې تحلیل کړې ده، او همدارنګه دا لاندې حدیث یې هم شرح کړی دی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی: " من تشبه بقوم فهو منهم".[1] ژباړه: «هر څوک چې ځان له کوم قوم سره یوشان کړی د همغوی له ډلې به وی».

۲- العقیدة الواسطیة: شیخ الإسلام رح پخپل دې مبارک کتاب کې د اسلامی عقیدې د اساساتو، د اصول دین اړوند مسایلو، د اهل سنت و جماعت منهج، روش

[1] (سنن ابوداوود روایت شماره۴۰۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


او باورونو په هکله بحث کړی دی،. همدارنګه دا د اهل سنت و جماعت د عقیدې په برخه کې یو مهم کتاب بلل کیږي.

۳- بيان تلبيس الجهمية في تأسيس بدعهم الكلامية: شیخ الاسلام رح دغه کتاب د "تأسيس التقديس فخررازی غفرالله له" دکتاب په رد کې لیکلی دی په دی کتاب کې د کلام او فلسفې د ډیرو علماؤ څرګندونې ننګولي دی او د هغوی استدلالونه یې ورته تار و مار کړی دي. په حقیقت کې دغه کتاب د جمهمی ایډیالوژۍ او جهمیه ډلې په رد کې یو له بهترینو کتابونو دی.

۴- رفع الملام عن الأئمة الأعلام: شیخ رح په دغه کتاب کئې له د فقهې له درنو أئمه ووو دفاع کړې، د ملامتۍ بوج یې له هغوی لرې کړی دی او دا یې څرګنده کړې ده چې د علماؤ ترمنځ اختلاف د هغوی نفسانی خواهشاتو له امله نه وه بلکې د توجیه او منلو وړ اسبابو او عواملو له امله وه او په دې برخه کې یی د علماؤ د اختلاف لس علتونه بیان کړي دي. دا کتاب به پر شیخ الاسلام رح د شبهاتو د ځواب په برخه کې لا ښه معرفي کړو. ان شاء الله.

۵- الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح: دا پر نصرانیانو د رد په برخه کی یو له مشهورو کتابونو څخه دی. شیخ رح په دې کتاب کې د انجیل پر تحریف، محکم او غښتلي دلایل ذکر کړي دي او نصرانیان یې د خپلو عقایدې او باور په برخه کې ننګولي دي.

٦- درء تعارض العقل والنقل: لکه له نوم نه یې چې ښکاري، د صریح عقل او صحیح نقل تر منځ د تعارض د نشتوالی په اړه دی. شیخ الاسلام رح دا کتاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library


فخر رازی د القانون الکلی د کتاب په رد کې لیکلی دی، چې هغه هم د نورو متکلمینو په څیر د یونان له فیلوسوفانو اغیزمن او هڅه کوی تر څو د خپل گمان له مخې د عقل او نقل د تعارض په صورت کې عقل ته پر نقل ترجیح ورکړي او عقل گرایي ته مخه کړي. شیخ رح په دې کتاب کې په ډیر ښه شکل سره د فلاسفه وو لخوا د رامنځته شوو قوانینو له مخې فلاسفه او متکلمین سخت ننگولي او د هغوی د باطلو نظریاتو بطلان او فساد یې څرگند کړی دی. له تر ټولو مهمو مسایلو څخه چې په دې کتاب کې څیړل شوی دي دا دي: اساسی عقیدتی قضایاوې لکه: عُلو، استواء، جهت، معاد، له شریک او حدوث څخه د الله تعالی تنزیه او تقدیس. بلاخره شیخ الاسلام رح په دې کتاب کې دې مهمې پایلې ته رسیدلی دی چې د صریح عقل او صحیح نقل تر منځ هیڅ تعارض(ټکر) شتون نه لری تر څو د متکلمینو په آند د عقل او نقل د تعارض په صورت کې مطلقا عقل ته ترجیح ورکړای شي. نن ورځ زمونږ په زمانه کې دا ډیره مهمه ده تر څو دغسې کتاب ته پاملرنه وشي ترڅو هغو دیني عقل گرایانو او پردي فکرو ته مضبوط ځواب ورکړای شي چې فکر کوي د د عقل او نقل تر منځ تناقض شتون لری او په همدې خاطر له ډیرو صحیحو او ثابتو نصوصو څخه انکار کوي تر دې چې ډیر کله د نصوصو په وړاندې ستوغه ژبه کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه ابن قيم رح د دې كتاب د اهميت او ارزښت په هكله وايي: واقرأ كتاب العقل والْنقل الذى ... ما فِى الوجود له نظير ثان"[1]

يعني: «د عقل او نقل كتاب ولوله او هغه كتاب دى چې بيلگه او جوړه نه لرى».

په بل ځاى كې وايي"ومن أراد معرفة هذا فليقرأ كتاب شيخنا وهو بيان موافقة العقل الصريح للنقل الصحيح فإنه كتاب لم يطرق العالم له نظير فِى بابه فإنه هدم فيه قواعد أهل الباطل من أسها فخرت عليهم سقوفه من فوقهم وشيد فيه قواعد أهل السننة والحديث وأحكمها ورفع أعلامها..."[2]

يعني:« هرڅوک چې غواړي په دې قضيه لا ډير پوهه شي نو زمونږ د شيخ كتاب چې د صريح عقل او صحيح نقل تر منځ د تعارض د نشتوالى بيان دى، مطالعه دې كړي. دا داسې كتاب دى چې هيڅ بل عالم په دې اړه دغسې په ښه شكل څه نه دي ليكلي او په دې برخه كې بې جوړې دى، او شيخ رح پكې د اهل باطل قواعد له بيخ او بنياد سره له منځَه وړي او د هغو چت يې پرې رانسكور كړى دى، او همدغه راز يې په دې كتاب سره د اهل سنت او حديث اصول راټينگ كړي او د هغو منارې يې لوړې كړې دي »،

---

[1] (من القصيدة النونية، ص ٢٣٠)

[2] .(طريق الهجرتين وباب السعادتين، ص ١٥٥ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷- منهاج السنة النبوية في نقض كلام الشيعة و القدرية: دا د روافضو او شيعه اثنا عشری فرقې په رد کې یو له بهترينو کتابونو دی. شيخ الاسلام رح په دې کتاب کې د ابن مطهر حلی رافضی چې مشهور په شيخ الطائفه دی ځواب ورکړی دی. حلی پخپل کتاب " منهاج الکرامه" کې ډير زيات درواغ ويلي او د ډير زيات تلبيس او تدليس (چل او فريب) مرتکب شوی. شيخ رحمه الله په ډير ښايسته او مستدلل شکل سره د دغه رافضی د تلبيساتو او خيانتونو ځواب ورکړی دی. په رښتيا هم د منهاج السنة کتاب پر روافضو د رد يو له بهترينو او جامع کتابونو دی، له همدې امله دا کتاب تل د يو شمير زياتو علماؤ تر پاملرنې لاندې دی او بيا بيا اختصار او شرحه کړای شوی دی.

امام ذهبی رح دا کتاب شرحه کړی دی او نوم يې ورته "الْمنتقى فِي منهاج الاعتدال فِي نقص كلام اهل الرافض والاعتزال" ايښی دی، همدارنگه له معاصرينو نه هم عبدالله غنيمان حفظه الله د غه کتاب اختصار کړی دی چې د اسحاق دبيری رح لخوا نه په ساده او روانه ژبه فارسي ته هم ژباړل شوی او ورته د "مختصر منهاج السنة" نوم ايښودل شوی دی.

۸- السياسة الشرعية في إصلاح الراعي والرعية: شيخ الاسلام امام ابن تيميه رح دغه کتاب د يو امير په غوښتنه وليکه. کله چې له شيخ رحمه الله نه غوښتنه وشه تر څو له رعيت سره د امير د چلند او تعامل په اړه يو څه وليکي نو نوموړي په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپه کې تر سهاره دا کتاب ولیکلو. دغه کتاب د اسلامي سیاست په بیان او هغه حقونه او وجایب چې د ټولواک پر غاړه دي، همدارنګه کوم حقوق او وجایب چې ولس او رعیت یې باید د خپل امیر په وړاندې رعایت کړي، په دې برخه کې یو بهترینو کتابونو دی. په آخر کې باید دا په ګوته کړم چې دا مسؤل فرد ته د سپارل شوو کارونو د تنظیم او دارې په برخه کې یوه له بهرینو لیکنو ده.

۹- الفرقان بين أولياء الرحمن وأولياء الشيطان: د خلکو تر منځ یوه ښکاره التباس او تیروتنه دا ده چې ځینو کسانو ته پرته له هیڅ قاعدې او نښې نه ولی الله وایي، او وایې چې د "خدای دوست" دی، په داسې حال کې چې ډیر داسې کسان شته چې د شریعت له کرښې او چوکاټ نه وتلي او ورڅخه استدراج یا هم سحر او جادو صادریږي، مګر خلک داسې تصور کوي چې کرامت دی او دغه کس هم د الله ولي ګڼي. شیخ الاسلام رح په دې کتاب کې هڅه کړې ترڅو دغه دغه تیروتنه له منځه یوسي او د شرعي نصوصو له مخې د الله د دوستانو او د شیطان د دوستانو تر منځ توپیر څرګند کړي، او دا مهر زمونږ له لاس نه واخلي تر څو پر هر کس او ناکس د ولی الله ټاپه ونه وهو. همدغه راز دا کتاب له جهمیه او معتزله و څخه پر ځینو اهل بدعت والاوو او حتی له -اشاعره و- نه پر ځینو(نه پر ټولو) باندې رد دی چې د رښتینو او شرعي اولیاؤ له کرامت نه انکار کوي.

۱۰-الفتوى الحموية الكبرى: د حما یا حمات په نوم د سوریې له یو ښار نه یو کس له شیخ رح نه د الله تعالی د صفاتو اړوند آیاتونو او احادیثو په ځانګړې توګه د علو صفت اړوند پوښتنه وکړه، شیخ رح هغه ته په ځواب کې څو صفحې ولیکلې خو تر څه مودې وروسته شیخ رح ته د دې لیکنې په خاطر د اهل بدعت والاو لخوا ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځورول سو، له همدې امله يې دا لنډه او مختصره ليکنه په لا ډيرو نصوصو او د سلفوپه اقوالو ښايسته کړه او نوم يې ورته "الحموية الصغرى" کېښودو خو دا چې نورې زياتونې پرې وشوې نو په "الحموية الكبرى" ونومول شو، دغه راز دا کتاب په مختلفو نومونو ياديږي لکه الفتوى الحموية الكبرى" يا "العقيدة الحموىية" يا "الفتوى الحموية". شيخ الاسلام رح دا کتاب په ٦٩٨ه کال يعني ٣٧کلنۍ کې وليکلو. د شيخ رح ډيرې تأليفات د ځينې مجموعاتو په ضمن کې دي، لکه "مجموع الفتاوى" دا کتاب په ٢٧ جلدونو کې دى او شيخ عبدالرحمن بن محمد بن قاسم العاصمى رح د شيخ الاسلام رح له مختلفو ليکنو، فتواو او رسالو څخه راټول او ترتيب کړى دى. او وروسته له هغه يې زوى محمد بن عبدالرحمن القاسم رح د شيخ رح ځينې نور رسائل او فتواوې راټولې کړي او په "الْمستدرك على مَجموع الفتاوى" يې نومولي .

همدارنگه له مجموعاتو نه کولی شو دغو کتابونو ته اشاره وکړو : "مَجموعة الرسائل الكبرى" او " مَحموعة الرسائل و المسائل" او " مَجموعة الرسائل المنبرية" او نور ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شیخ الإسلام رحمه الله د کتابونو ځینې ځانګړتیاوې

شیخ رحمه الله پخپلو ګڼورو تألیفاتو کې لاندې مختلف اړخونه په پام کې نیولي.

۱- شمولیت: تألیفات یې په مختلفو مسائلو او ابوابو کې متنوع او بیلابیل دي.همدارنګه هره موضوع چې لازمه ده نو پکې یې لیکل کړي دي. د بیلګې په توګه: په تفسیر او علوم قرآن، حدیث او علوم یې، فقه او اصول یې، فرقې او ادیان، په مختلفو طائفو ردونه او نور…

۲- روان والی: د شیخ الاسلام رح لیکنې سلیسې او روانې دي، سره له دې چې یو شمیر کتابونه یئ ځینې خلکو ته سخت دي او پرته د هغه فن له متخصصینو څخه یې نورو ته لوستل سخت ښکاري خو بیا هم د تخصص لرونکو لپاره تر ټولو آسانه کلمات او جملې پکې استفاده شوی دي.

۳- مستدل والی: د شیخ الاسلام رح واقعا تحقیقي، او غښتلی مستدل دي او له سلف رح څخه په دلیل او نقولاتو ډک دي.

۴-الزامات: د شیخ رح کتابونه چې پر مخالفینو پکې رد شوی دی. په هغه څه د مخالف له الزامولو او ورته په مجبورولو څخه ډک دي چې عقیده او باور پرې لري.

۵- د معلوماتو پراخولی: څوک چې د شیخ رخ کتابونه ولولی داسې احساس کوي چې یو له جوپو ډک سمندر ته دننه شوی چې هره شیبه یې یو او بل لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښيکاږی او ورته له مختلفو زاويو معلومات ورکوي همدغه راز له مختلفو اړخونو ورته کتنې او مسائل ورکوي.

٦- دقيقه تقسيم بندي: مسائل په ښه ډول تقسيم بندي شوي دي او لوستونکې ته د پر مسئلې پوهيدل آسانه او ساده کوي.

٧- د مخالفينو په حق کې عدل او انصاف: شيخ الاسلام رح په شدت هڅه کوي تر څو د دښمنانو او مخالفينو په حق کې له انصاف څخه سترگې پټې نه کړي. دا هغه امتياز دی چې ډيری ليکوال او ويناوال ورته پاملرنه نه کوي، پر مخالفينو پسې تر ټولو ناوړه اتهامات او درواغ تړي او په حق کې يې هيڅ عدالت او انصاف په پام کې نه نيسي. د ا ځينې هغه ښيگړې وې چې د شيخ رحمه الله د کتابونو نه د مطالعې په لړ کې مې ذهن ته راغلې او د گرانو لوستونکو خدمت ته مې وړاندې کړې.

## د شيخ الاسلام رحمه الله استادان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الاسلام رح تر دوه سوه د ډيرو شيوخو او استادانو په وړاندې د شاگردی گنډې وهلي،[1] او له هغو يې ځينې د (الاربعين لشيخ الاسلام) چې د مجموع الفتاوی په ضمن کې ده، څرگند کړي او همدارنگه (دغه ليکنې) په جدا ډول سره هم چاپ شوي دي، او په هغه کې يې څلويښت حديثونه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته تر سنده پورې ذکر کړي دي. يو شمير هغو کسانو ته چې حديث يې اوريدلي اشاره لرو: ابن کثير رح وايي: "حديث يې له ابن عبدالدائم، ابن ابواليسر، ابن عبدان، شيخ شمس الدين حنبلی، قاضی شمس الدين بن عطاء حنفی، شيخ جماالدين بن صيرفی، مجد الدين بن عساکر، شيخ جماالدين بغدادی، نجيب بن مقداد، ابن ابوالخير، ابن علان، ابن ابوبکر هروی، کمال عبدالرحيم، فخر علی، ابن شيبان، شرف بن قواس، زينب بنتمکی او ډيرو نورو څخه اوريدلی".[2]

## د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله شاگردان

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص ١٩/١ ).
[2] (البداية و النهاية ١٣٦/١٤-١٣٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيخ رحمه الله شاگردان خورا ډير دي، او د اسلامي علومو ډيرو زده کوونکو او طلابو د نوموړي په وړاندې د شاگردۍ گنډې وهلي. د ځينو نومونو ته يې په لنډ ډول اشاره کوو.

۱- محمد بن أحمد بن عبدالهادی (۷۴۴)، چې د "المحرر فيِ الحديث"، "العقود الدرية"، "الصارم المنکي فِ الرد على السبکي"، او څو نورو کتابونو څښتن دی.

۲- امام شمس الدين ذهبی رح (۷۴۸)، د: "سير أعلام الْنبلاء"، "تاريخ الإسلام و وفيات الْشاهير والْأعلام"، "الکبائر" او څو نورو کتابونو څښتن دی.

۳-علامه محمد بن ابوبکر بن قيم جوزی رح(۷۵۲)، چې د: " زاد المعاد فيِ هدى خير العباد"، إعلام الْوقعينْ عن رب العالْمينْ، مدارج السالکينْ بينْ منازل إياك نعبد وإياك نستعينْ"، او څو نورو کتابونو څښتن دی.

۴- ابو حفص عمر بن على بزار رح (۷۴۹) چې د "الأعلام العلية في مناقب ابن تيمية" کتاب ليکوال دی.

۵- - ابو الفداء اسماعيل بن عمر بن کثير رح (۷۷۴)، چې د : "تفسير القرآن العظيم" (مشهور په تفسير ابن کثير)، "البداية والْنهاية"، "الباعث الحثيث شَرح اختصار علوم الحديحث" او څو نورو کتابونو څښتن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له معاصرینو څخه، شیخ ولید الأموی، د "مجمع أصحاب شیخ الإسلام ابن تیمیة" په نوم کتاب لیکلی او دشیخ الإسلام رح د یوشمیر شاګردانو د ژوند حالات یې پکې شرحه کړي دي.

## د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ځینې ځرګندونې

شیخ الإسلام رح وایي: "من سنة اللَّه: أنه إذا أراد إظهار دینه أقام من یعارضه فیحق الحق بکلماته ویقذف بالحق علی الباطل فیدمغه فإذا هو زاهق".[1]

[1] (مجمع الفتاوی۲۸ /۵۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« د الله تعالی له سنتو څخه دا ده چې کله وغواړي خپل دين څرګند کړي، نو يو څوک را ولاړ شي تر څو د الله تعالی د دين په وړاندې مقابله وکړي، تر هغه وروسته حق د خپلو کلماتو په واسطه ټينګوي او پر باطل يې ورغورځوي؛ نو باطل له منځه وړي او باطل ډير ژر ورک او نابوديږي.»

همدارنګه وايي: "إن فِي الدنيا جنة من لم يدخلها لن يدخل جنة الْاخرة"[1]

یعني:«په دنيا کې يو جنت شته، هر څوک چې دې جنت ته ننه نه وځي د آخرت جنت ته به هم داخل نشي». د دنيا له جنت څخه هدف: ايمان، رجوع، محبت، د الله تعالی په قضاء او قدر رضايت او نور دي....

[1] (مدارج السالکین ۴۵۲/۱ او الوابل الصيب، ص۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز وايي:الذكر للقلب مثل الْماء للسمك فكيف يكون حال السمك إذا فارق الْماء؟ ".[1]
يعني:«د الله تعالی ذکر او یاد د زړه لپاره داسې دی لکه اوبه د ماهي لپاره، نو که اوبه نه وی د ماهي به څه حال وي؟».

په بل ځای کې وایی:"الْمحبوس من حبس قلبه عن ربه تعالى والْمأسور من أسره هواه".[2]

يعني:« رښتینی زندانی هغه دی چې زړه يې، هغه له الله تعالی څخه لرې ساتلی وي؛ اورښتینی اسیر هغه دی چې دخپلو نفساني خواهشاتو په بند کې غورځیدلی وي».

دغه راز وايي: "ما ندم من استخار الْخالق، وشاور الْمخلوقينْ وثبت فِي أمره"[3]
يعني:« څوک چې له الله تعالی څخه د خير غوښتنه وکړي، له مخلوق سره مشوره وکړي او پخپل کار کې ثابت قدم وي نو پښېمانه به نشي».

---

[1] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۴۳ )
[2] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۴۸ )
[3] (الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص۱۱۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل ځای کې وایي"من أراد السعادة الأبدية، فليلزم عتبة العبودية".[1]

یعنی: «څوک چې د همیشنۍ نیکمرغۍ غوښتونکی وي نو د بندګۍ مشکلات دې پر ځان ومني».

"الزحد ترك ما لا ينفع فِي الأخرة. والورع ترك ما تَخاف ضَره فِي الأخرة".[2]

یعنی: "زهد د هغه څه پرېښودل چې د آخرت په ګټه نه دي، او ورع د هغه څه پرېښودل دي چې ویرېږې هسې نه آخرت ته دې زیان ورسوي".

دغه رنګه شیخ رحمه الله فرمایي: "التكبر شَر من الشرَك فإن المتكبر يتكبر عن عبادة اللَّه تعالى، والمشرَك يعبد اللَّه وغيره".[3]

---

[1] (مدارج السالكين ۴۲۹/۱)
[2] (مدارج السالكين ۱۲/۲)
[3] (مدارج السالكين ۳۱٦/۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی: «غرور او تکبر له شرک نه بدتره ده، ځکه مغرور انسان د الله تعالی له عبادت نه تکبر کوي خو مشرک، له الله، سربیره نورو ته هم عبادت کوي".

او وایي: "العوارض والمحن هی کَلحر والبرد، فإذا علم العبد أنه لابد منهما لم یغضب لورودهما، ولم یغتم لذلك ولم یحزحن".[1]

یعني:«ستونزې او کړاوونه د یخنۍ او ګرمۍ په څیر دي، نو کله چې بنده پوهیږي چې دا دواړه حتمي او راتلونکي دي نو د هغوی پر راتګ دې غمجن او مایوسه کیږي نه».

## د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه د عصمت دعوا نه کوو.

[1] (مدارج السالکین ۳۶۱/۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له انبياء عليهم السلام نه وروسته هيڅ کس معصوم نه دی، بلکې د خطاو مرتکب کيږی او د خپل انساني خاصيت له مخې پخپلو آراء او نظرياتو کې تير وځي. شيخ الاسلام رح هم له دې قاعدې نه مستثناء نه دی او خپلې اجتهادي تيروتنې لري.

علامه ابن کثير رح د شيخ الاسلام بن تيميه رح په اړه وايي: "وبالجملة كَان رحْمه الله من كبار العلماء ومُن يُخطئ ويصيب ولكن خطوه بالنسبة إلى صوابه كنقطة فِى بحر لجي، وخطوه أيضا مغفور له كما فى صحيح البخارى« إِذَا اجتَهَد الْحَاكِمُ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا اجتهد فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْر»فهو ماجور. و قال الامام مالک بن انس: کل واحد يوخذ من قوله ويترک الا صاحب هذا القبر. "[1]

يعنی:« لنډه دا چې ابن تيميه د لويو علماؤ له ډلې دی او نورو په څير ښيګڼې او تيروتنې لري، خو تيروتنې د ښيګڼو په نسبت داسې دي لکه په ژور سمندر کې يو ټکی، او تيروتنې

[1] (البداية و النهاية ۱۴/۱۴۰-۱۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


له دې امله چې یو مجتهد دی ببنل شوي دي. لکه په صحیح بخاری کې چې راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: هر کله چې حکم کوونکی پخپل اجتهاد کې په حقه وي نو د دوه اجرونو څښتن دی او که تیروتنه و کړي نو یو اجر لري،[1] نو (شیخ رح) ته هم اجر ورکول کیږي او امام مالک رح فرمایي: د هر شخص ّځینې څرګندونې اخیستل کیږي او ځینې یې پریښودل کیږي[2] مګر پرته ددې قبر له څښتن نه (رسول الله ص ته اشاره چې ټولې خبرې یې منل کیږي او هیڅ د رد او او ترک وړ نه دي)».

خو دا په دې معنا نه ده چې هر څه درواغ دي حقیقت ولری چې اهل بدعت والا او ګمراهان یې په شیخ الاسلام رح پورې تړي او هغه په داسې څه متهموی چې نه خو هغسې نه دی اونه یې هم نه دی ویلی. په دې بنسټ غواړم په دې برخه کې د شیخ الاسلام ابن رح په اړوند اتو مشهورو او معروفو شبهو ته ځوابونه ورکړم او تر څو د اهل باطل له روش سره د هغوب په درواغو او جعل کاریو اشنا شئ.

## د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په اړوند له شبهاتو څخه اوو

[1] (صحیح بخاری روایت شماره ۷۳۵۲).

[2] ( یعنی داسی نه ده جی ټؤلی خبری یی سمی او خطا نه لری او د رسول الله ص قبر ته یی اشاره وکړه او ویی ویل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شبهو ته ځواب

شيخ الاسلام رح د هغو مظلمو علماؤ له ډلې دی چې هم پخپل مهال کې او هم له هغه څخه وروسته د حسودو، کينه کښو او اهل ګمراه او بدعتيانو لخوا نه تر تيري لاندې راغلی او د هغه په اړه يې ډيرې ناوړه څرګندونې کړې تر څو د خلکو له نظره د هغه څير وربده کړي، او مسلمانان د هغه له کتابونو چې د علمي خزانو په څير دي لرې اووسي او د اهل بدعت او ګمراهانو په دامونو کې را ايسار شي. مګر هغه چې الله تعالی ورته عزت ورکړي وي هيڅوک يې بيا ذليلولی نشي!

"مشت نمونه خروار" په توګه له تر ټولو معروفو شبهو څخه اوو شبهو ته اشاره کوو.

## لومړۍ شبهه: ايا شيخ الاسلام رحمه الله په تجسيم باندې قائل وه؟

تجسيم الله سبحانه وتعالی ته ته د مخلوقاتو په څير پر جسم باندې قائل کيدل دي. پر اهل سنتو له پخوا نه د اهل بدعت لخوا د تجسيم تهمت پورې شوی دی، او اهل سنت او حديثو ته يې مختلف ناسم او ناروا نسبتونه کړي دي لکه:"مجسمه، مشبهه، حشويه" او نور... په دې قافله کې شيخ رح يوازې نه دی او مخکې تر هغه هم ډير مسلمان او اهل سنت علماءو او پوهانو باندې دغه ناروا تور پورې کړای شوی دی، په داسې حال کې چې اهل سنت او حديث نه يوازې دا چې دله دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا تهمت څخه بيزاره دي، بلکې د -مجسمه- له سرسختو د ښمنانو دي لکه هغسې چې د معطله[1] گمراه فرقې له سرسختو (دشمنانو دي). امام اسحاق بن راهويه رح (متوفای ۲۳۸ ه) وايي: "علامة جهم وأصحابه دعواهم على أهل الجماعة وما أولعوا به من الكذب إنهم مشبهة".[2]

يعني:« د جهم بن صفوان(د جهميه گمراه فرقې رئس) او مگرو يې له نښانو څخه دا ده چې د درواغو او تزوير له مخې اهل سنت ته د تشبيه نسبت کوي او هغوي مُشِّبهه گڼي».

امام ابو حاتم رازی رح (متوفای ۲۷۷ه) وايي: "علامة الجهمية تسميتهم أهل السنة مشبهة"[3]

يعني:« د جهميه گمراه فرقې له نښو څخه دا ده چې اهل سنت مشبه گڼي».

[1] ( هغه کسان چې په کلی يا جزی ډول د الله له صفاتو منکر د ی ا و هغه د خپل گمان له مخی د تنزيه په نيت نه مني)
[2] (شرح أصو ل اعتقاد أهل السنة والجماعة، له امام لالكائی ۵۸۸/۳).
[3] (شرح أصو ل اعتقاد أهل السنة والجماعة، له امام لالكائی ۵۸۸/۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابن خزيمه رح(متوفای ۳۱۱ه) وايي **"وزعمت الجهمية عليهم لعائن اللَّه أن اهل السنة ومتبعى الاثار، القائلين بكتاب ربهم و سنة نبيهم صلى الله عليه وسلم، المثبتين لله عز وجل من صفاته ما وصف الله به فى محكم تنزيله المثبت بين الدفتين و على لسان نبيه المصطفى صلى الله عليه وسلم بنقل العدل موصولا اليه مشبهه، جهلا منهم بكتاب ربنا وسنة نبينا صلى الله عليه وسلم وقلة معرفتهم بلغة العرب الذين بلغتهم خوطبنا "**[1]

يعني:«د جهميه فرقه(د الله لعنت دې وې پرې)د خپل گمان له مخې: اهل سنت چې د حديثو پيروان دي او باور يې د الله د كتاب او د پيغمبر د سنتو پر بنسټ ده او هغه صفتونه الله تعالى ته منسوبوی چې الله تعالى په خپل كتاب او د هغه د پيغمبر په صحيح سند سره مونږ ته رسيدلي دي؛ مشبهه گڼي. او د هغوی دا غلط نسبت په دې خاطر هم د ی چې د الله تعالى پر كتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر سنتو جاهل دي، او همدارنگه په عربي ژبه يې پوهه چې مونږ پرې مخاطب كړای شوي يو، لږه او ناچيزه ده.»

[1] كتاب التوحيد وإثبات صفات الرب عز وجل، از امام ابن خزيمه (۵۱/۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شیخ الاسلام رح د مهال او د هغه له وفات څخه وروسته اهل بدعت، جهمیه او معتزله و د تاریخ په لړ دا ناروا او ناسم تهمت پر هغه لګولی او هر خس او خاشاک ته یې لاس اچولی تر څو وکړای شي دغه ستر تهمت اثبات کړي. د دې مدعا او تهمت د اثبات لپاره د شیخ الاسلام رح د مخالفینو له تر ټولو لویو دلایلو څخه د ابن بطوطه څرګندونې دي چې د د معروفې سفرنامې څښتن دی، هغه د خپل کتاب په یوه برخه کې وایې: "و كنت إذ ذاك بدمشق فحضرته يوم االجَمعة وهو يعظ الْناس على منبر الجامع ويذكرهم فكَان من جملة كلامه أن قال أن الله ينْزل من سماء الدنيا كنْزولي هذا ونزل درجة من درج المنير ".[1]

یعني:« کله چې په دمشق کې وم، د جمعې په ورځ جامع اموی ته لاړم، او ابن تیمیه هلته خلکو ته پر منبر وعظ کولو، له خبرو یې یوه دا وه چې ویل یې: الله د دنیا په آسمان کې راښکته کېږي لکه زما د راښکته کېدلو،(دا ابن بطوطه ور اضافه کړې او وایي: کله یې چې دا خبره وکړه) د منبر له یوې پوړۍ نه را ښکته سولو».

**د ابن بطوطه د ادعا ځواب**

[1] (رحلة ابن بطوطة المسماة تحفة النظار في غرائب الامصار وعجائب الأسفار ٧٢/١).

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه ځواب په اته طریقو سره ورکوو:

**لومړی**: د ابن بطوطه کتاب تر سخت نقد لاندې داغلی او خپل تاریخي حیثیت او صلاحیت یې له لاسه ورکړی دی، او نشو کولی د یو معتبر تاریخي کتاب په توګه پرې باور وکړو. کله په خپل کتاب کې له داسې کسانو سره د ملاقات ادعا کوي چې دغسې ملاقاتونه غیرممکن دي او یا هم داسې ادعاوې کوي چې له حقیقت سره سر نه لګوي. لکه چې وایې په په یو شمیر ښارونو او جزیرو کې یې داسې ښځې لیدلې چې د یو تي لرونکې دي[1] او یا هم داسې څرګندونې کوي چې له خرافاتو پرته بل څه نه دي.

**دوهم**: د شیخ رحمه الله په اړوند د ابن بطوطه خبرې یو له بل سره مخالفې دي، او په همدا یوه صفحه کې په څو متناقضو ډولونو د شیخ رح په اړوند نظر څرګندوي. یو ځل هغه د حنبلیانو له لویانو ګڼي او له بلې خوا ورته توهین او جسارت کوي او په پای کې هم په اړه یې داسې څه وایي چې ځواب یې اوس ورته ورکوو.

[1] (رحلة ابن بطوطة المسماة تحفة النظار في غرائب الامصار وعجائب الأسفار ۴۵۹/۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم:** د شيخ الاسلام رح په دې ټولو دشمنانو کې چې لرل يې ايا يوازې  ابن طوطه داسې يو څه وليدل او رانقل يې کړل؟

**څلورم؛** ټولو هغو کسانو چې د ابن تيميه رح په اړه يې کتابونه ليکلي وايي: چې شيخ رح په جامع اموی کې د تدريس او وعظ څوکۍ درلودله، او هيڅ يو له سيرت ليکونکو يې دا نه دي ويلي چې هغه په پر منبر د جمعې خطبه ويله او يا يې پر منبر وعظ کولو.

**پنځم:** د ابن بطوطه دغه ادعا له واقعی تاريخي ليد نه کذب او يوازې دروغ دي. ابن بطوطه له شيخ الاسلام رح څخه اصلا نه دي اوريدلي، ابن بطوطه پخپله اعتراف کوي چې د ۷۲٦ه کال د رمضان په نهمه د پنجشنبې په ورځ دمشق ته دننه شوي. هغه وايي: : **"وصلت يوم الْخميس التاسع من شهر رمضان الْمعظم عام ستة وعشرين إلى مدينة الشام فنْزلت منها بمدرسة المالكية الْمعروفة بالشرَابشية ودمشق هى التي تفضل جميع البلاد حسنا وتهدمها جمالا..."**

يعني:« د ۷۲٦ه د رمضان په نهمه د پنجشنبې په ورځ شام ته دننه شوم او په مالکيه مدرسه چې په شرابشيه مشهوره وه پکې مې واړول. او دمشق هغه شار دی چې په ښکلا او سمسورتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په ټولو ښارونو برتري لري...»[1]. په داسې حال کې چې شيخ الاسلام ابن تيميه رح د (۷۲۶ه) په شپږم د شعبان د دوشنبې په ورځ زنداني شوی دی. علامه ابن عبدالهادی رح وايي: " ولْما کَان يوم الاثنين بعد العصر السادس من شعبان من السنة المذکورة... ".[2]

يعني:« کله چې د همدې کال د شعبان د شپږمې د دوشنبې ورځې له **مازيگر** نه وروسته راورسيدو ... ددې په دوام کې څرگندوي چې د سلطان له لوري د شيخ رح د زنداني کولو دستور ورکړای شو». اوس اساسي سوال دا دی چې شيخ رح د **۷۲۶**ه کال په شعبان کې زنداني شوی دی او ابن بطوطه د همدې کال په رمضان کې دمشق ته ننوتی دی، يعني دمشق ته د ابن بطوطه له راتلو څخه نږدې يوه مياشت مخکې شيخ رح زنداني شوی دی.

## نو بيا څنگه ابن بطوطه، شيخ ليدلی او دا داستان يې ذکر کړی دی؟

[1] (رحلة ابن بطوطة المسماة تحفة النظار في غرائب الامصار وعجائب الأسفار ٦٢/١).
[2] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۳۴۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم:** د شيخ الاسلام رح پّه کتابونو کې د دې نظريې مخالفت شتون لري او شيخ رخ په شدت سره د تجسيم له شومې پديدې سره مبارزه کړې ده.د بيلگې په توگه شيخ الاسلام رح په خپل مبارک کتاب "العقيدة الواسطية" می گويد: "ومن الإيمان باللَّه: الإيمان بما وصف به نفسه فِي كتابه و بما وصفه به رسوله محمد صلى الله عليه وسلم. من غير تحريف و لا تعطيل، ومن غير: تكييف و لا تمثيل بل يو منون بأن الله تعالى ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾[1]، فلا ينفون عنه:ماوصف به نفسه. ولا يحرفون: الكَلم عن مواضعه. ولا يلحدون فِى:أسماءاللَّه،وآياته.ولايمثلنون:صفاته بصفات خلقه. لأنه سبحانه؛ لا سمى له، ولا كفو له، ولا ند له، ولا يقاس بخلقه سبحانه وتعالى.»[2]

يعنی؛« پر الله تعالی له ايمان څخه دا ده چې باور ولرو په هغه څه چې الله تعالی ورباندې خپل ځان توصيف کړی دی، او په هغه څه چې رسول يې محمد صلى الله عليه وسلم پرې

---

[1] (اشوری:١١)
[2] (العقيدة الوسطيه ص٢-٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر ورکړی دی. پرته له هیڅ تحریف[1]، تعطیل[2]، تکییف[3] او تمثیل[4] نه یعنې اهل سنت و جماعت ایمان لري پردې چې الله تعالی﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾[5]ترجمه: هیڅ شی د الله په څیر نه دی او هغه لیدونکی او اوریدونکی دی. او هغه صفت چې الله پرې ځان موصوف کړی دی نفی او انکار ترې نه کوی او له قرآن او حدیث نه هیڅ قول د هغه له ځای نه نه تحریفوی او دالله تعالی په نومونو او نښو کې د الحاد او کوږوالی نه کوي، د هغو کیفیت نه تعینوی او د هغه صفات له مخلوقاتو سره یې نه تشبیه کوي. ځکه الله تعالی، سیال بیلگه او مثال نه لري او له مخلوقاتو سره یې د پرتلې وړنه دی».

شیخ رح دا څرگندوي چې د صفت نزول په شمول د الله هر صفت بدون له کیفیته اثبات شوی او هغه ته د کیفیت تعیین او څرنگوالی نه ورکوو.

نو څنگه ممکنه ده چې د ابن بطوطه د کاذبو ادعاو له مخې هغه پخپله د صفت نزول په برخه کې د تعیین کیفیت مرتکب شوی وي؟

---

[1] تحریف د د تغیر او تبدیل په مانا ده یعنی حق نه لرو د الله د صفاتو معنا تغیر کړو البته محرفین یی تأویلوي.

[2] تعطیل د ترک او تخلیه په مانا ده او په اصطلاح کئ د الله له صفاتو او اسماو پر انکار تلقی کیږي. دا انکار ممکن کلی وی یا جزی.

[3] تعیین د بیان او د تعیین کیفیت او د صفاتو د څرنگوالی په مانا ده لکه دا چی څوک ووایی د الله تعالی راکښته کیدل د دی کس یا شيّ په څیر دی.

[4] تمثیل: یو شی ته د بیلگې او مثیل د اثباتولو په مانا ده لکه چی وویل سی د الله لاس د فلانکی مخلوق د لاس په څیر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغير د العقيدة الواسطية كتاب له دې متنه، شيخ رح په خپلو كتابونو كې بيا بيا له مجسمه او مشبهه سره خپل شديد مخالفت كوي تر دې چې د الله تعالى د صفت نزول په اړوند د شرح حديث نزول تر نامه لاندې مستقل كتاب لري او په دې كتاب كې يې د رب العالمين پر نزول له تعيين كيفيت سره شديد مخالفت كړى دى او اهل تمثيل او تشبيه يې خطاكاران ګڼلي.

اووم: اصل پر حسن ظن (ښه فكر) نيسو، د ابن بطوطه په اړه نيک ګمان كوو او وايو چې: ممكنه ده ناسخينو او د شيخ الاسلام رح مخالفينو دغه سراسر درواغ تهمت او ناروا څرګندونې په دې كتاب كې كښلې او ور زياتې كړې وي. لكه علامه ابن حجر رح چې اشاره كوي چې نصر منبجى صوفي حلولى اوازه خپره كړه چې ابن تيميه رح له منبر څخه راكښته شو او ويې ويل: الله دا ډول د دنيا آسمان ته نزول كوي. ابن حجر رح د دې خبرې په آخر كې وايي چې:" فنسب إلى تجسيم"[1] يعني: «د تجسيم عقيده په هغه پورې تړل شوې ده». يعني هغه ته يې د داسې يو څه نسبت وركړ.

[1] (الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة ١٨٠/١ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو له دغه ډول تهمت ګرو دښمنانو څخه دا لرې نه ده چې همداسې یو څه یې د ابن بطوطه په کتاب کې هم ورزیات کړي وي.

علامه ابن حجر رح دغه نیک ګمان لا غښتلی کوي، داسې چې د ابن بطوطه د کتاب په اړه وایي چې د دې کتاب تفصیل پخپله ابن بطوطه نه دی لیکلی بلکې ابو عبدالله جزی کلبی لیکلي او ترتیب کړي دي. "وقرأت بخط ابن مرزوق أن أبا عبد الله بن جزى نمقها وحررها"[1]

یعني:«د ابن مرزوق په خط مې ولیدل چې ابو عبدالله بن جزی دا کتاب لیکلی او ترتیب کړی دی»

**اتم:** یو شمیر علماؤ د شیخ الاسلام رح په اړوند دغه شبهه کذب او درواغ ګڼلې او هغه ته یې له دغه ناروا تور څخه برائت ورکړی، له دغو علماؤ څخه څو تنو ته یې اشاره کوو:

ابن حجر هیتمّی (متوفای ۹۷۴ه) غفرالله له[2]: د هغو کسانو له ډلې دی چې په شیخ الاسلام رح پسې یې ډېر درواغ تړلي دي، او د تجسیم کاذب نسبت یې هغه ته کړی دی. خو له هغه

[1] (الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة ۲۷۷/۵ )

[2] (دا کس علامه ابن حجر عسقلاني د فتح الباري څښتن او حافظ نور الدین هیثمی د مجمع الزوائد څښتن نه دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه وروسته ډېرو علماؤ نوموړی سخت تر نیوکو لاندې راوستی او د شیخ الاسلام رح په حق کې یې هغه په بې انصافۍ او بې هوده خبرو تورن کړې.

له دې کسانو علامه نعمان بن محمود بن عبد الله، أبو البركات خير الدين، آلوسى رحمه الله چې د علامه آلوسى (د تفسییر روح المعانى د ځښتن زوی)، دی. نوموړي پخپل کتاب"جلاء العينين في محاكمة الأحمدين" د احمد بن تیمیه او احمد بن حجر هیتمی تر منځ فیصله کړې او له شیخ ابن تیمیه رح ځخه یې دفاع کړې ده، له دې جملې یې د تجسیم قضیه ده چې وروسته به د هغه خبرې رانقل کړو. ان شاء الله.

همدارنگه علی قاری هروی رح (متوفای ۱۰۱۴ه) هم د هغو کسانو له ډلې دی چې پخپلو کتابونو کې یې دغه ناروا او شنع نسبت له شیخ رح ځخه لرې کړی دی. هغه له ابن تیمیه او ابن قیم رح چې د ابن حجر هیتمي لخوا ورپورې تهمت تړل شوی او د تجسیم نسبت یې ورته کړی، په دفاع کې وایي"أقول صانهما الله من هذه السمة الشنيعة، والنسبة الفظيعة و من طالع شرح منازل السائرين، تبين له انهما كانا من أكابر أهل سنة و الجماعة، ومن أولياء هذه الامة ". [1]

[1] (جمع الوسائل في شرح الشمائل ۱/۱٦۸، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح۷/۲۷۷۸په د ضمن د شرح ۴۳۴۰شمارې..روایت،کتاب،اللباس).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« الله تعالی هغوی (ابن تیمیه او ابن قیم رحمهماالله) له دې ناوړه تهمت او وحشتناک نسبت څخه ساتلي دي او هر څوک چې شرح منازل السائرين( مدارج السالکين علامه ابن قيم) مطالعه کړي نو ورته به ثابته شي چې ابن تيميه او ابن قيم د اهل سنت و جماعت له مشرانو او د دې امت له اولياؤ څخه دي»،

علامه ابراهيم کورانی شافعی (متوفای ۱۱۰۱ه) وايي: "ابن تيمية ليس قائلا بالتجسنيم، فقد صرح بأن الله تعالى ليس جسما فِي رسالة تكلم فيها على حديث النْزول كُل ليلة إلى السماء الدنينا. وقال فِي رسالة أخرى: من قال: إن الله تعالى يماثل الْمخلوقات فهو مفتر على الله سبحانه، بل هو على مذهب السلف".[1]

يعني: « ابن تيميه په تجسيم عقيده نه درلوده بلکې پخپله رساله کې چې د حديث نزول په اړه يي بحث کړی دا يې څرګنده کړې ده چې الله تعالی جسم نه دی، او همدارنګه په بله

[1] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين ۱/۳۸۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



رساله کې وايي: څوک چې مخلوقات له الله تعالی سره پرتله کړي په حقيقت کې يې پر الله درواغ تړلي دي. په دې شک نشته چې ابن تيميه د سلفو رحمهم الله په مذهب دی».

علامه آلوسي د تفسير روح المعاني څښتن وايي "حاشا لله تعالى أن يكون من الْمجسمة بل هو أبرأ الْناس منهم، نعم، يقول بالفوقية على الْمعنى الذى أراده الله سبحانه ورسوله - صلى الله عليه وسلم -، وذلك مذهب السلف فِي الْمتشابهات، وهو بمعزل عن التجسيم"[1]

يعني:« هيڅکله ابن د مجسمه له فرقې څخه نه وه بلکې له دې فرقې نه ترټولو ډېر بې زاره خلکو څخه وه. هوکې! هغه د الله پر فوقيت لکه څنګه چې الله او د هغه پيغمبر صلى الله عليه وسلم يې اراده لري، باور درلوده. او دا د متشابهاتو په برخه کې هماغه د سلفو مذهب دی او ابن تيميه او تجسيم ډېر سره لرې دی»،

علامه نعمان بن محمود آلوسی رح د ابن حجر هيتمی په رد او د ابن تيميه رح نه په دفاع کې وايي: "والعجب من الشيخ ابن حجر ركيف ينسب إ ليه هذه الأقوال من غير نقل عنه وإسناد، وقد قالوا: لولا الإسناد لقال من شاء ما شاء".[2]

[1] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين ١/٣٨٩).

[2] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين ١/٣٨٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعني:« حیرانتیا ده چې شیخ ابن حجر څنګه دغه څرګندونې(دتجسیم په برخه کې) پرته له هیڅ سند او منبع نه ابن تیمیه ته منسوبوي. علماؤ ویلي دي چې: که چیرې سند نه وي نو د هر چا چې هر څه زړه غواړي وایي یې»

## د "شَابٌ اَمْرد" شبهې ته ځواب او آیا شیخ الاسلام رحمه الله پر دې معتقد وه چې الله "شَابٌ اَمْرد" دی؟

پر شیخ ابن تیمیه رح د تجسیم د نسبت او ورباندې له تړل شوو مشهورو شبهاتو څخه یوه دا ده چې: مخالفینو یې درواغ تړلي او ویلي یې دي چې ابن تمیه پر دې قائل وه چې الله تعالی د یو ګړګوتي ویښتانو لرونکي ځوان په څیر دی. (معاذالله) تر دې چې په ډیره بې انصافۍ او درواغو سره یې ویلي: ابن تمیه د ګړګوتو ویښتانو لرونکي خدای عبادت کوي.

ځواب:له هر څه مخکې باید پر دې وپوهیږو چې شیخ الاسلام ابن تیمیه رح د الله تعاللی له تجسیم نه بې زاره دی او نوموړي ته دا نسبت کول محض درواغ دي. نو د هغې قضې حقیقت څه دی چې دا تور یې په شیخ پورې تړلی دی؟

د حدیثو په کتابونو کې داسې روایت وجود لري چې پر دې مدعا دلالت کوي.

په پیل کې اجازه راکړئ تر څو د دغه روایت طریقې او ځینې الفاظ د هغو په اړوند د علماؤ له احکامو سره رانقل کړم: دا روایت د دوه طریقو او ګڼو الفاظو لرونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله طريقه:د قتاده حديث، له عکرمه له ابن عباس رضی الله عنهما څخه ده او يو لفظ يې په دې ډول ده: "رأيت ربيِّ جعدا أمرد، او په بل لفظ، فيِ صورة شاب أمرد جعد" [1]

يعني:« رب مې د يو داسې ځوان په شکل کې چې لا تر اوسه يې د ږيرې ويښتان نه وي راټوکيدلي او ګرګوتي ويښتان لري، وليدو».

دا روايت په دې طريقې سره ځينو علماؤ تصيحيح کړی دی چې له دې ډلې:

امام احمد رح[2]، امام ابو زرعه رازی رح[3]، امام طبرانی رح[4]، امام ابو الحسن بن بشيار رح[5]، قاضی ابو يعلی رح[6]، امام ابن صدقه رح دي.[7]

---

[1] (الأسماء والصفات للبيهقي، روايت شماره ۹۳۸)
[22](المنتخب من علل الخلا ، ص ۲۸۰، و إبطال التأويلات لأبي يعلى، ص ۳۹۱)
[3] (إبطال التأويلات لأبي يعلى، ص۱۴۴)
[4] (إبطال التأويلات لأبي يعلى، ص۱۴۳)
[5] (إبطال التأويلات لأبي يعلى، ص۱۴۳-۱۴۲)
[6] (إبطال التأويلات لأبي يعلى، ص،۱۴۱، ۱۴۲،۱۴۳)
[7] (إبطال التأويلات ۱۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو يوه ډله نورو علماؤ دا روايت ضعيف يا ساقط ګڼلئ چې له دې ډلې دا دي: ابن جوزي رح[1]، امام ذهبی رح، منكر بللی[2]، او علامه سبكی دروغ او موضوعی بللی[3] او شيخ آلباني رح هم منكر ګڼلی دی[4].

دوهمه طريقه: له مروان بن عثمان هغه له عماره بن عامر هغه له ام طفيل نه په مرفوع شكل سره روايت كوی، او له الفظو څخه يې دا دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "رأيت ربيِّ فيِ الْمنام فيِ صورة شاب...".[5]

يعني:« رب مې په خوب كې د يو ځوان...په ډول وليدو».

[1] (العلل المتناهية ١/٣٦)
[2] (سير أعلام النبلاء ١٠/١١٣)
[3] (طبقات الشافعية الكبرى ٢/٣١٢)
[4] (سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة وأثرها السيئ في الأمة ١٣/٧٢٥ )
[5] (المعجم الكبير روايت شماره ٣٤٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا طريقه ابوالحسن بن بشار او ابو يعلی صحيحه ګڼلې[1] خو يو ډله نورو علماؤ دروغ او موضوعي ګڼلی، چې له دې جملې:

امام احمد رحمه الله[2]، يحيی بن معين رحمه الله[3]، امام نسائی رحمه الله[4]، امام ابن حبان رحمه الله[5]، علامه سبکی[6]، علامه بدرالدين بن جماعه رحمه الله[7]، علامه سيوطی رحمه الله،[8] علامه شوکانی رحمه الله[9] او شيخ آلبانی رحمه الله دي.[10]

له حلوليه نه يوې ډلې دا ليدنه او رؤيت رښتينی ګڼلی او الله يې تشبيه او تجسيم کړی دی او ځينې نورو بيا دا ليدنه په خوب کې ګڼلې او د خوب نړۍ يې له حقيقي نړۍ نه جدا

[1] . (إبطال التأويلات لأخبار الصفات، ص١٤٢ و طبقات الحنابلة ٢/٥٩).
[2] (المنتخب من علل الخلال، ص٢٨٤).
[3] (تاريخ بغداد ١٥/٤١٩).
[4] (العلل المتناهية ١/٣٠)
[5] (الثقات ٥/٢٤٥)
[6] (طبقات الشافعية الكبرى ٢/٣١٢)
[7] (إيضاح الدليل في قطع حجج أهل التعطيل؛ ص ٢٠٦)
[8] (اللآلیء المصنوعة في الأحاديث الموضوعة ١/٣٣)
[9] (الفوائد المجموعة في الأحاديث الموضوعة، ص٤٤٧)
[10] (سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة وأثرها السيئ في الأمة ١٣/٨١٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼلې ده.خو ټولو هغو اهل سنتو علماؤ چې دا روایت یې صحیح ګڼلی نو پر خوب یې تعبیر کړی نه په ویښه.

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رح د کلام ظاهر په دې دلالت کوي چې هغه دا روایت تضعیفوي. دبیلګې په توګه نوموړی د هغو کسانو په رد کې چې دالله تعالی د صفاتو په اثبات کې مبالغه کوي وایي:

"أحاديث رووها فِي الصفات زائدة على احاديث التي فِي دواوين الإسلام مما نعلم باليقين القاطع أنها كذب وبهتان بل كفر شنيع. وقد يقولون من أنواع الكفر ما لا يروون فيه حديثا".[1]

یعني:«یعني د صفاتتو د اثبات په باب کې داسې احادیث روایت کوي چې د اصل اسلام په کتابونو کې له شته احادیثو څخه زیات(آخوا) دی. او په یقین سره پوهیږو دغه روایاتونه چې رانقلوي یې نه یوازې دا چې درواغ او بهتان دي بلکې ډېر ناوړه او قبیح کفر دی. او کله هم داسې کفریات وایي چې هیڅ حدیث یې په اړه وجود نه لري».

[1] (مجموع الفتاوی۳/۳۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې په دوام وروسته له دې چې د دې درواغو ځينې مثالونه بيانوي نو وايي چې "وكذلك الحديث الذى رواه أهل العلم أنه قال: {رأيت ربيِّ فِي صورة كذا وكذا}". [1]

يعني:« او همدارنگه دغو احاديثو، داسې يو روايت دی چې اهل علم هغه روايت کړی چې" خدای مې په داسې او هغسې شکل وليدو"». په دوام يې هغه(روايت) د تمريض په صيغې چې پر ضعيفوالي دلالت کوي بيان کړی او وايي «يروى من طريق ابن عباس ومن طريق أم الطفيل وغيرهما وفيه {أنه وضع يده ...}".[2]

يعني:« د ابن عباس، ام طفيل له خوا روايت شوی او په هغه کې داسې راغلي دي...».

مگر هغه څه چې مخالفين يې د نوموړي له "بيان تلبيس الجهمية"[3] له کتاب څخه رانقلوي چې گنې هغه دا روتيت تصحيح کړی، بايد ووايو چې:

لومړی: هغه د رد په ځای کې دا خبره راوړې او اصل بحث دوه پاڼې وړاندې[4] شروع کيږي.

---

[1] (مجموع الفتاوى٣/٣٨٧)
[2] (مجموع الفتاوى٣/٣٨٧)
[3] (٧/١٩٠)
[4] (ص ٢٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهم: آن كه فرض كړو چې روايت صحيح ګڼلی نو بيا هم يوازې شيخ رحمه الله نه دی بلکې ترده مخکې لوی امامان شته چې دغه روايت يې صحيح ګڼلی.

بايد ووايم چې: شيخ الاسلام رحمه الله د دغه روايت د صحيح ګڼلو پر فرض؛ هغه په خوب کې په ليدلو تعبير کړی او همدارنګه يې د دې روايت او د هغه روايت تر منځ توپير رامنځته کړی چې له ابن عباس نه د معراج په شپه د الله تعالي د ليدلو په اړه رانقل شوی.[1] سره ل دې چې د معراج په شپه د ليدنې په اړه هم ځينو علماؤ څرګندونې کړي او هغه يې په قلبي ليدنه ګڼلې نه د سترګو ليدنه.

د دې بحث نور تفصيل ولولئ؛

: شيخ الإسلام رحمه الله وايي: "و كلها فيها ما يبين أن ذلك كَان فيِ الْمنام وأنه كاَن بالْدينة إلا حديث عكرمة عن ابن عباس وقد جعل أحمد أصلها واحدا وكذلك قال العلماء" [2]

[1] (مجموع الفتاوى ٣/٣٨٧)
[2] (بيان تلبيس الجهمية ٧/٢٢٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« یعني ټول روایتونه چې په دې باب راغلي دا څرګندوي چې دا لیدنه په مدینه منوره کې او په خوب کې وه پرته د عکرمه با عباس له حدیث نه (چې په ښکاره پکې د خوب کلمه نه ده راغلې) او امام احمد رحمه الله د دواړو روایتونو(ابن عباس او ام طفیل) اساس یو بللی او نورو علماؤ هم همداسې ویلي».[1]

همدارنګه وايي:"وهذا الحديث الذي أمر أحمد بتحديثه قد صرح فيه بأنه رأى ذلك في المنام".

یعني:« یعني امام احمد رحمه د دې حدیث په روایت امر کړی او دا یې څرګنده کړې ده چې دغه روئت او لیدنه په خوب کې وه».

شیخ الاسلام رحمه اله په صراحت سره دا څرګندوي چې په دنیا کې د الله تعالی لیدنه هیچا ته ممکنه نه ده او پر مجسمه د رد په برخه کې وايي:

"أدخلوا فِي ذلك من الأمور ما نفاه الله ورسوله، حتَّى قالوا: إنه يرى فِي الدنيا بالأبصار"[2]

[1] (بيان تلبيس الجهمية ۷/۲۲۹)

[2] (منهاج السنة ۲/۵۳۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعني:«(مجسمه) و په دې اړه داسې مسائل را دننه کړي چې الله او رسول یې هغه نفیه کړي او انکار یې ترې کړی. تر دې چې (مجسمه) ویلي: چې الله په دنیا کې په سترګو لیدل کیږي».

دغه راز وایي:"وقد اتفق المسلمون على أن الْنبى صلى اللَّه عليه وسلم لم ير ربه بعينيه في الارض و أن الله لما ينزل له إلى الْأرض وليس عن الْنبي صلى اللَّ عليه وسلم قط حديث فيه أن اللَّه نزل له إلى الْأرض".[1]

یعني:« مسلمانان په دې اتفاق لري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل رب په سترګو نه دی لیدلی، او همدارنګه اتفاق لري چې الله تعالی د خپل پیغمبر په خاطر د ځمکې مخ ته نه دی راکښته شوی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم هیڅ داسې حدیث شتون نه لري چې دا ثابته کړي».

[1] (مجموع الفتاوى٣/٣٨٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوازې شیخ الاسلام ابن تیمه رح نه دی چې وایي که چیرې د لیدنې تفسیر او تعبیر پر خوب وشي؛ په دې روایت کې مشکل نشته، بلکې بلکې د علماؤ بله ډله هم په دې نظر ده.

له دې جملې نه: امام احمد رحمه الله (متوفای ۲۴۱ ه)، دی چې خبرې مو یې وړاندې ولیکې ، دغه راز امام عثمان بن سعید دارمی رحمه الله (متوفای۲۸۰ ه) په کوم ځای کې دا روایت "أتاني ربي في أحسن صورة" را نقلوي، وايي: "وإنما هذه الرؤية كَانت فِي المنام، وفِي المنام يمكن رؤية الله تعالى على كُل حال وفِي كُل صورة" [1]

یعني:« دا لیدنه په خوب کې وه او په خوب کې د الله تعالی لیدنه په هر حال او صورت باندې ممکنه ده».

امام ذهبی رحمه الله (متوفای۷۴۸ ه) وایي: "وهذه الرؤية رؤيا منام إن صحت".[2] یعنی:« فرضا که دا روایات سم وي؛ نو دا لیدنه په خوب کې وه».

بدر الدین بن جماع رحمه الله (متوفای۷۳۳ ه) وروسته تر دې چې د دې روایتو ثبوت تر سوال لاندې راولي وایي: "وبتقدير ثبوته فإن له أجوبة الأول لعله كَان فِي الْنوم والمنامات

[1] (النقض على المريسي، ص۲۸۷)

[2] (ميزان الإعتدال في نقد الرجال ۱/۵۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



أوهام وتَخيلات جعلها اللهدليلا على ما كَان أو يكون والتخيلات والْاوهام ليست حقائق فيِ نفسها كما يرى الإنسان أنه طار فيِ الهواء ومشى على الماء أو أنه فيِ مكة أو الهند وشبه ذلك فإن ذلك ليس حقيقة قطعا فإن قيل رؤيا الْأنبياء حق قلنا نعم حق ومعناه أنها حق فيِ مقاصدها وتأويلاتها لا فيِ صورها فيِ نفسها مطلقا فيِ جميعها". [1]

يعني:« باالفرض د دغه روايت د سموالي په صورت کې کولای شو لاندې ځوابونه ورکړو، لومړی؛ ممکنه ده چې په خوب کې شوي وي، او طبعا خوبونه له تخیلاتو ورآخوا بل څه نه دي چې الله تعالی د هغه څه لپاره چې وه یا دي دلیل گرځولي. او په دې کې شک نشته چې تخیلات او اوهام ریښتوني نه دي، لکه انسان چې په خوب کې ویني چې: په هوا کې یې الوتنه کړې وي یا د اوبو په سر ځغلي یا دا چې ځان په مکه یا هند کې ویني؛ او یا د دې په څیر نور شیان گوري. یقینا چې داسې شیان حقیقت نه لري. خو که چیرې وویل شي چې د انبیاؤ خوب حق دی! نو وایو چې هوکې! پخپلو مقاصدو او تأویل کې حق دی خو نه په ټولو هغو صورتو او ډولونو کې چې گوري یې».

[1] (إيضاح الدليل في قطع حجج أهل التعطيل؛ ص۲۰۴او ۲۰۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه علامه سیوطی رحمه الله (متوفای ۹۱۱ ه) وايي: "وهذا الحديث إن حمل رؤية على المنام فلا إشكَال"[1]

يعني:« که چیرې دا حدیث په خوب کې په لیدنه تعبیر شی مشکل پکې نشته».

و امام عجلونی رحمه الله(متوفای ۱۱٦۲ه) د علامه سیوطی رحمه الله دا خبرع راخيستي او هیڅ تبصره یې پرې نه ده لیکلې چې دا پخپله د دې قول پر تائید دلالت کوي.[2]

علامه معلمی رحمه الله(متوفای ۱۳۸٦ ه) وايي: "إن لهذا الحديث طرقا معروفة فِي بعضها ما يشعر بأنها رؤيا منام، وفِي بعضها ما يصرح بذلك، فإن كَان كذلك اندفع الاستنكَار رأسا"[3]

يعني:« دا روايت مشهورې طریقې لري، او په ځینو دغو طریقو کې داسې الفاظ شتون لري چې د خوب پر لیدنه دلالت کوي، او په یو شمیر نورو کې په خوب کې پر لیدنه صراحت شتون نه لري؛ نو که چیرې داسې ول بیا یې د انکار کچه لوړیږي».نو حتمي نه ده چې هر

---

[1] (اللآلیء المصنوعة في الأحاديث الموضوعة ۱/۳۴)

[2] (كشف الخفاء ومزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس۱/۴۳۷

[3] (التنكيل بما في تأنيب الكوثري من الأباطيل ۱/۲۵۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مو په خوب کې وليدل بايد په رښتيا يو داسې څه وي لکه په ويښه او حقيقي نړۍ کې چې دي.

په قرآن کريم کې د يوسف عليه السلام د خوب په اړه لولو چې: {إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَٰجِدِينَ}[1]

ژباړه: (اې پيغمبره په ياد ولره) کله چې يوسف (ع) خپل پلار ته وويل: "پلاره جانه! ما خوب ليدلی دی چې يوولس ستوري دي او لمر او سپوږمۍ ده؛ او ومې ليدل چې هغوی ما ته سجده کوي."

او د سورې په وروستيو آيتونو کې لولو: {وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰيَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا}[2]

[1] (سوره يوسف آيت ۴).
[2] (سوره يوسف آيت ۱۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: هغه خپل مور او پلار پاڅول او له ځانه سره يې پر تخت کښېنول او ټول د هغه په وړاندي(د اميرانو په وړاندې د هغه مهال د خلکو په رواج) بې واکه په سجده ټيټ شول. يوسف (ع) وويل: "پلاره! دا زما د هغه خوب تعبير دی، چې ما مخکې ليدلی ؤ، زما رب هغه حقيقت وګرځاوه.

نو دلته وليدل شول چې د الله پيغمبر يوسف عليه السلام په خوب کې ستوري ويني، چې هغه ته سجده کوي خو د ويښې او واقعي نړۍ کې دا دهغه مور، پلار او يوولس ورونه دي چې هغه ته يې سجده وکړه او هغه خپل خوب پخپله دغه رنګه تعبيروي.[1]

علامه ابن جوزی رحمه الله(متوفای۵۹۷ ه) وايي: "و رؤيا الْمنام وهم والْاوهام لاتكون حقائق، والإنسان يرى نفسه كأنه يطير أو كأنه قد صار بهيمة" [2]

يعني:« هغه څه چې انسان يې په خوب کې ګوري، وجودي حقيقت نه لري بلکې له اوهامو پرته بل څه نه دي. انسان په خوب کې ويني چې الوتنه يې کړې ده يا هم د يو څاروي په

[1] (بيان تلبيس الجهمية في تأسيس بدعهم الكلامية ۱/۳۲۵)
[2] (دفع شبه التشبيه بأكف التنزيه، ص ۱۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځير شوی».خو طبيعي ده چې د وينښې په نړۍ کې داسې څه نه دي پيښ شوي بلکې خپل خاص تعبير لري.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:"و رؤيا المنام له حكم غير رؤيا الحقيقة في اليقظة ولها تعبير و تأويل لما فيها من الامثال المضروبة للحقائق"[1]

يعني:« په خوب کې ليدل ځانګړی حکم لري او په وينښه او حقيقي نړۍ کې د ليدلو په څير نه دي. خوب خپل ځانګړی تعبير او تأويل لري اوپکې بيان شوی مثال په حقيقي نړۍ کې دی».

مګر په خوب کې د الله تعالی ليدل په څه شي باندې دلالت کوي؟

[1] (مجموع الفتاوى ٣/٣٩٠).

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام بیهقی رحمه الله (متوفای ۴۵۸ه) د ابن عباس روایت پر خوب تعبیر کړی او وایي : "قال أهل الْنظر: رؤيا الْنوم قد يكون وهما يجعله الله تعالى دلالة للرائي على أمر سالف أو آنف على طريق التعبير".[1]

یعنې:« اهل تحقیق وایي: هغه څه چې یو شخص یې په خوب کېویني، کله هم پرته بل څه نه وي چې الله تعالی هغه د خوب لیدونکي پر حال او احوال د تعبیر په توګه رامنځته کوي، چې په تیر یا راتلونکي کې څه پیښ شوي یا به پیښ شي».

شیخ الاسلام رح وایي: "وقد يرى المؤمن ربه فِي المنام فِي صور متنوعة على قدر إيمانه و يقينيه، فإذا كان ايمانه صحيحا لم يره إلا في صورة حسنة وإذا كَان فِي إيمانه نقص رأى ما يشبه إيمانه و رؤيا المنام لها حكم غير رؤيا الحقيقة في القيظة"[2]

یعنې:« او ممکنه ده چې یو مسلمان په خوب کې خپل رب په مختلفو شکلونو وویني، که چیرې یې ایمان سم او صحیح وي نو په ډیر ښکلي شکل او ډول سره به یې ویني؛ او که

[1] (الأسماء والصفات للبيهقي ص ۲/۳۶۸ و إيضاح الدليل في قطع حجج أهل التعطيل؛ ص ۲۰۶)
[2] (مجموع الفتاوى ۳/۳۹۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيرې يې په ايمان کې نقص او کمی شتون ولري نو د هماغه خپل ايمان په اندازه به يېويني، او په خوب کې ليدنه د ويښې او حقيقي ليدنې څخه جدا حکم لري».

همدارنگه وايي: "فالإنسان قد يرى ربه فيِ الْمنام ويُخاطبه فهذا حق فيِ الرؤيا، ولا يُجوز أن يعتقد أن الله فيِ نفسه مثل ما رأى فِ الْمنام، فإن سائر ما يرى فيِ الْمنام لا يجب أن يكون مُماثلا... وليس فيِ رؤية الله فيِ الْمنام نقص ولا عيب يتعلق به سبحانه وتعالى وإنما ذلك بحسب حال الرائي وصحة إيمانه وفساده واستقامة حاله وانَحرافه... فلا نعتقد أن ما تَخيله الإنسان فيِ منامه أو يقظته من الصور أن الله فيِ نفسه مثل ذلك، فإنه ليس هو فيِ نفسه مثل ذلك"[1]

يعني:« کله هم انسان خپل رب په خوب کېويني او ورته خطاب کيږي؛ دغه ډول خوبونه حق دي او دا جائزه نه ده چې څوک باور ولري الله هغه ډول دی چې په خوب کې يې ليدلی او په خوب کې د نورو دغه ډول ليدنو په هکله هم همداسې ده؛ چې حتمي هغه ډول نه ده لکه په خوب کې چې ليدل شوي...او دا چې الله تعالى په خوب کې وليدل شي هغه ته کوم نقص او عيب نه متوجه کيږي بلکې دا د خوب ليدونکي په ديندارۍ پورې اړه لري چې ايمان يې صحيح دی يا پکې فساد شتون لري او همدارنگه سمې لارې ته د نوموړي په

[1] (بيان تلبيس الجهمية ۱/۳۲۷-۳۲٦ )

(c) ketabton.com: The Digital Library


پابندۍ یا هم ترې انحراف او کوږوالي باندې دلالت کوي...او همدارنګه مونږ په دې باندې باور نه لرو چې الله تعالی دې هغه شانته وي کوم څه چې د انسان په تخیل او تصور کې په ویښه او خوب کې منځته راځي، ځکه الله سبحانه وتعالی هغسې نه دی».شیخ الاسلام رح د مشبهه او مجسمه په وړاندې له سرسختو مخالفینو دی او د هغوی باور یې په شدت تر سوال لاندې راوستی چې پر دې ادعا شاهد، د نوموړي ارزښتناک کتابونه دي. لکه څنګه مو چې په لومړی برخه کې د شیخ رح عقایدو په اړه د ابن بطوطه د پوچې ادعا په رد کې اشاره وکړه. له لطف څخه خالي نه ده چې په دې برخه کې هم د هغه خبره رانقل کړو.

علامه ابن تیمیه رحمه الله وایي: "واتفق سلف الأمة وأئمتها: أن اللَّه ليس كمثله شيء لا فِي ذاته ولا فِي صفاته. ولا فِي أفعاله وقال: من قال من الأئمة من شبه اللَّه بخلقهه فقد كفر" [1]

یعني:« د امت سلف رحمهم الله پر دې اتفاق لري چې: چې هیڅ شی په ذات صفاتو او اعمالو کې د الله په څیر او مثیل نشته او ځینې أئمه(نعیم بن حماد خزاعي ته یې اشاره ده) وو فرمایلي: څوک چې الله له خپلو مخلوقاتو سره تشبیه کړي نو کافر شو».

[1] (مجموع الفتاوى ٢/١٢٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شيخ الإسلام رحمه الله په ځانګړې توګه هغه کسان رد کړي چې الله ته د "شاب أمرد" تصور کوي او د هغوی په اړه داسې وايي : "وفيهم من يتأول قوله صلى الله عليه وسلم رأيت ربيِّ فيِ أحسن صورة وفيِ صورة كذا وكذا ويُجعل ألأمرد ربه و هؤلاء الحلولية والاتحادية"[1]

يعني:« او ځينو د هغوی د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبرې چې فرمايلي يې دی، "رب مې دا رنګه او هغه رنګه وليدو" تأويل کړي دي او خپل رب يې امرد ځوان ګرځولی دی، او دوی هماغه د حلوليه او اتحاديه ډلې دي».

نو آيا اوس به هم داسې څوک وي چې وايي ابن تيميه رح د هغه خدای چې د ګړګوتو لرونکو ويښتانو ځوان دی عبادت کوي؟ او آيا بيا هم په تجسيم متهم کيدای شي؟

البته له بې انصافو او تهمت ګرو دښمنانو لرې نه ده! مګر يقين لرم چې دغه په دې برخه دغه کوچنوټې ليکنې به دحق د لټوونکو لپاره کافي او شافي وي. إن شاءالله.

[1] . (الاستقامة ٢ /١٩٦-١٩٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهمه شبهه: آیا ابن تیمیه رحمه الله تکفیري وه؟

د تکفیر په برخه کې د شیخ الاسلام ابن تیمه رحمه الله(تګلاره) هماغه د اهل سنت و جماعت منهج وه، چې د وعیدیه(خوارج او معتزله و) او وعدیه(مرجئه و) تر منځ، منځنی منهج دی. تر هر څه وړاندې باید پر دې پوهه شو چې تکفیر یو قرآني او نبوی منطق دی او څوک نشي کولی ترې منکر شي. مګر هغه کفر ناوړه او مذموم دی چې ظوابط، شرایط او موانع یې په پام کې نه وي نیول شوي.

هغه کسان چې شیخ الاسلام ابن تیمیه رح او نور علماء او داعیان په تکفیروالي متهموي، دوه شیانو کې تیروتي او ملتبس شوي دي:

لومړی: د کفر ډولونو او احکامو باندې یې په جدا بڼه نه پوهیږي.

دوهم: د تکفیر معین او مشخص او تکفیر عام او مطلق تر منځ توپیر یې نه دی پیژندلی او له همدې امله ده چې د دې مصطلحاتو "دا کفر ده" او "دا کافر ده" تر منځ توپیر یې په سمه او سهي توګه نه درک کړی.

د کفر انواع او اقسام

کفر مختلف انواع او ډولونه لري چې ځینو ته یې لنډه اشاره کوو:

دحکم په اعتبار او لومړي تقسیم کې په دوه برخو ویشل کیږي:

أ:اکبر کفر(مرتکب یې د اسلام له دائرې څخه وځې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: اصغر کفر( مرتکب يې د اسلام له دائرې څخه نه وځي)او علماؤ دغه ډول کفر ته (کفر دون کفر) يا (کفر نعمت)هم وايي.

مگر کفر د خپلو اسبابو او عواملو له مخې په شپږ ډوله ويشل کيږي؛

أ: کفر تکذيب ب: کفر جحود ج:کفر عناد او تکبر د:کفر اعراض ه: کفر نفاق و: کفرشک.

او د هغه څه له مخې چې د يو کس په اعضاؤ او غړو پورې اړه لري په درې ډولونو ويشل کيږي.

أ: کفر قلبی ب: کفر قولي ج کفر عملي.

همدارنگه د اصلي او عارضي له مخې په دوه ډولونو ويشل کيږي:

أ: کفر اصلي ب: کفر ارتداد.

د تعيين او اطلاق پر بنسټ بيا په دوه ډوله ويشل کيږي: أ: مطلق ب: معين.

متأسفانه د اهل سنت و جماعت د صحيح منهج ډيری دښمنانو له دغو تقسيماتو څخه پر هيڅ يوه يې او نه يې هم پر احکامو پوهيدلي، بس يوازې يې ټاپې په لاس کې دي او هر څوک چې د دوی د تمې خلاف وي نو تکفيري ورته وايي.

**د معين او مشخص، عام او مطلق تکفير تر منځ توپير**

(c) ketabton.com: The Digital Library


مطلق تکفیر: د کفر اسباب بیانوي، (کفر) په عام وصف پورې تړي او په کوم خاص کس پورې یې نه ځانګړی کوي. لکه دا چې وویل شي: څوک چې داسې ووايي کافر کیږي؛ یا هم دا ډول کړنه تر سره کړي کافر کیږي او یاهم فلانۍ عقیده ولري نو کافر کیږي.

معین تکفیر: په مشخص کس باندې د کفر له حکم کولو څخه عبارت دی، چې داسې قول، عمل او یا کفر آمیزه عقیده باندې ککړ وي چې له اسلام سره په ټکر کې وي. لکه داسې چې وویل شي: فلانی کس کافر دی او نوم یې یاد کړي.

د شیخ الاسلام رح تکفیر، مطلق وه او په معین او مشخص ډول تر هغو څوک نه تکفیروي څو چې په یو معین کس کې ظوابط، شرایط او موانع پکې راټول نشي. او دا دهغو کسانو اد غلط فهمۍ سبب شوي ده چې د اهل سنت و جماعت او شیخ رح له منهج نه خبر نه دي او د پورته دوه مواردو چې ورته مو اشاره وکړه پر توپیر نه پوهیږي. دلته لازمه وینم د ناحقه تکفیر د خطر په هکله او دا چې شیخ الاسلام رح په جدیت له دې پدیدې سره چلند کړی د نوموړي د خبرو یوه برخه رانقل کړو تر څو دا په ښه ډول واضح کړای شي.

شیخ الإسلام رحمه الله وايي: "فإن التكفير المطلق مثل الوعيد المطلق لا يستلزم تكفير الشخص الْمعين حتَّى تقوم عليه الحجة التي تكفر تاركها"[1]

[1](الاستقامة ۱/۱۶۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنی:« نو تکفیر مطلق د وعید مطلق په څير دی لازما (تکفير مطلق) د يو معين شخص تکفيرول نه دي، مګر دا چې پر دغه شخص داسې يو حجت قايم کړای شي چې د هغه تارک کافر کيږي».

همدارنګه وايي: "والتحقيق فِي هذا: أن القول قد يكون كفرا كمقالات الجهمية الذين قالوا: إن اللَّه لا يتكلم ولا يرى في الاخرة، و لكن يخفى على بعض الناس أنه كفر فيطلق القول بتكفير القائل؛ كما قال السلف من قال: القرآن مخلوق فهو كافر و من قال إن اللَّه لا يرى في الاخرة فهو كافر ولا يكفر الشخص المعين حتى تقوم عليه الهجة "[1]

يعني:« په دې برخه کې سمه دا ده چې: ممکن قول د کفر وي لکه د جهميه فرقې مفکوره چې وايي: الله خبرې نه کوي او په آخرت کې نه ليدل کيږي، مګر شايد په ځينو خلکو ددې قضې کفريت پټ پاتې شوی وي. نو په مطلق ډول ويل کيږي: دا نظريه کفر ده. لکه څنګه چې سلف رحمهم الله وايي: هر څوک چې ووايې قرآن مخلوق دی يا ووايي چې الله په آخرت

[1] (مجموع الفتاوی ۷/٦۱۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې نه ليدل کيږي نو کافر کيږي، مگر معين شخص پر هغه د حجت او دليل له آقامې څخه نه کافر کيږي».

په بل ځای کې وايي: "ولا يلزم إذا كَان القول كفرا أن يكفر كُل من قاله مع الجهل والتأويل؛ فإن ثبوت الكفر فِي حق الشخص المعينْ، كثبوت الوعيد فِي الْآخرة فِ حقه، وذلك له شَروط وموانع، كما بسطناه فِي موضعه".[1]

يعني:« چې خبره دکفر وي نو چې هر چا د جهل او تأويل له مخې هغه وويله لازمه نه ده چې کافر شو، ځکه د معين کس په اړوند د کفر ثبوتول يو مشخص کس ته د عذاب د اثباتولو په څير دي. او د معين شخص په اړوند دا حکم خپل شرطونه او موانع لري چې پخپل ځای کې مو واضح کړل».

بيا هم پسې وايي: "وليس لأحد أ يكفر أحدا من المسلمينْ وإن أخطأ وغلط حتَّى تقام عليه الحجة وتبين له المحجة ومن ثبت إسلامه بيقينْ لم يزل ذلك عنه بالشك؛ بل لا يزول إلا بعد إقامة الحجة وإزالة الشبهة".[2]

[1] (منهاج السنة ۵/۲۴۰).
[2] (مجموع الفتاوى۱۲/۴٦٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« هيڅوک حق نه لري يو مسلمان چې د خطا او تيروتنې مرتکب شوي وي پرته له د دليل له اقامې او د حق له بيان څخه تکفير او له دين نه يې وباسي. هغه څوک چې اسلام يې په يقين سره ثابت شوي وي په شک او ګمان ورڅخه ايستل کيدای نشي او نه هم ورڅخه د اسلام نوم اخيستل کيدای شي مګر د حجت له اقامې او د شبهې له برطرفه کولو څخه وروسته».

دغه ډول شيخ رحمه الله فرمايي:"ليس كُل من تكلم بالكفر يكفر حتَّى تقوم عليه الحجة المثبتة لكفره فإذا قامت عليه الحلجة كفر حينئذ"[1]

يعني:« هر څوک چې د کفر خبره وکړي پرته د حجت او دليل له اقامې څخه نه کافر کيږي، او کله چې حجت پرې تمام شو نو تر هغه وروسته کافر کيږي».

دغه راز وايي"الْقول التي يكفر قائلها قد يكون الرجل لم تبلغه الْنصوص الموجبة لمعرفة الحق وقد تكون عنده ولم تثبت عنده أو لم يتمكن من فهمها وقد يكون قد عرضت له شبهات

[1] (مجموع الفتاوى٥/٣٠٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعذره الله بها فمن کان من المؤمنین مجتهدا في طلب الحق و اخطأ فان الله یغفر له خطأه کائنا ما کان سواء کان في المسائل النظریة او العلمیة هذا الذي علیه النبی صلی الله علیه اصحاب وسلم و جماهیر أئمة الاسلام " [1]

یعني:« دا هغه خبرې دي چې ویونکی یې کافر کیږي مګر ممکنه ده چې دغه کس ته هغه نصوص چې حق پرې پیژندل کیږي نه وي رسیدلي یا ممکن ورته رسیدلي وي خو ورته ثابت شوي نه وي یا هم ورته د پوهیدلو وړ نه وي. همدارنګه ممکنه ده داسې شبهې ورته رامنځته شوي وي چې د الله تعالی په وړاندې پرې معذور وشمیرل شي، نو که چیرې مجتهد او حق طلبه مؤمن وي او حق ته د رسیدو په لټه کې له تیروتنې سره مخ شي، یقینا الله تعالی به یې وبښي؛ توپیر نه کوي چې په هره مسئله کې وي، علمي یا هم نظري. او دا همغه باور دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه او مسلمانانو جمهور أئمه یې لري.»

په بل ځای کې وایي: "إن الإمام أحمد دعا للخلیفة وغیره ممن ضَربه وحبسه واستغفر لهم وحللهم مما فعلوه به من الظلم و الدعاء الی القول الذي هو کفر و لو کان مرتدین عن الاسلام لم یجز الأستغفار لهم، فان الاستغفار للکفار بالکتاب و السنة و الاجماع و هذه الأقوال و

[1] (مجموع الفتاوی۲۳/۳۴۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library


الأعمال منه و من غيره من الأئمة صريحة في انهم لم يكفروا المعينين من الجهمية الذين يقولون: القرآن مخلوق و ان الله لا يرى في الاخرة و قد نقل عن احمد ما يدل عل انه كفر به قوما معينين فأما أن يذكر عنه في المسألة روايتان ففيه نظر او يحمل الأمر على التفصيل فيقال: من كفره بعينه فليقام الدليل على أنه وجدت فيه شروط التكفير و انتفت موانعه و من لم يكفره بعينه فلانتفاء ذلک في حقه هذه مع اطلاق قوله بالتكفير على سبيل العموم".[1]

يعني:« امام احمد رح د وخت خليفه او نورو هغو کسانو ته چې امام يې وهلی ټکولی او زندان ته اچولی وه دعا وکړه، هغوی ته يې د مغفرت غوښتنه وکړه او هغوی يې د هغه ظلم له خاطره چې مرتکب شوي يې ول او دا چې هغه د کفر خبرې ته وربللی وه، وبښل. اوس نو که چيرې هغوی مرتد او د اسلام له دايرې نه وتلي ول نو استغفار او ببښني غوښتلو ورته جواز نه درلود؛ ځکه د کفارو لپاره استغار د قرآن، سنت او اجماع له مخې جواز نه لري. د امام احمد رح او أئمه و دا کړنه او خبره په دې ذلالت کوی چې هغوی معين کسان نه تکفيرول، سره له دی چې د جهميه و عقيد او باور پر دې چې ويل يې: قرآن مخلوق دی او الله په آخرت کې بنه ليدل کيږي( د دغو امامانو له نظره کفر وه). او له امام احمد رح څخه روايت شوی دی چې ځينې معينې ډلې يې هم تکفير کړی دي. مگر هغه څه چې څرگنديږي دا دی چې: له هغه څخه په دې اړوند دوه روايتونه راغلي دي -دغه نظريه سمه

[1] (مجموع الفتاوی ۱۲/۳۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په نظر نه راځي- او يا هم په دې کې د تفصيل اختلاف شتون لری. په دې ډول چې: هغه کسان يې په معين ډول تکفير کړي دی چې پرې حجت تمام شوی دی او د تکفير شرطونو او موانعو يې شتون درلود. او هغوی يې چې په معين ډول نه دی تکفير کړي د تکفير د شرايطو او او موانعو د نشتون له امله دي، سره له دې چې په مطلق او عموم ډول د دغه ډول خبرو ويونکي يې تکفير کړي دي،».

شيخ الاسلام رح د جهميه و پر اعتقاد د رد په سياق کې او دا چې باور يې صفت کلام په برحه کې کفر دی وايي: "لكن من كَان مومنا باللّٰه ورسوله مطلقا ولم يبلغه من العلم ماْ يبين له الصواب فانه لا يحكم بكفره حتى تقوم عليه الحجة التي من خالفها كفر، اذ كثير من الناس يخطئ فيما يتأوله من القرآن و يجهل كثيرا مما يرد من معانى الكتاب والسنة، والخطا والنسيان مرفوعان عن هذه الامة والكفر لا يكون الا بعد البيان».[1]

يعني: «مگر هغه څوک چې پر الله او پيغمبر يې په مطلق ډول ايمان لري، خو علم ورته نه دی رسيدلی تر څو سم له ناسمو څخه تشخيص کړی نو په کفر يې حکم نه کيږي مگر دا چې پر هغه داسې حجت قايم کړای شي چې منکر يې کافر کيږي. ځکه ډيری خلک له قرآن نه پخپل فهم کې تيروځي او د قرآن او سنت د مفاهيمو په وړاندې ناپوهه دي. خطاء

[1] (مجموع الفتاوی۱۲/۵۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نسيان(هيريدنه) له دې امت څخه لرې کړای شوی دي او کفر يوازې د (اتمام حجت) له بيان څخه وروسته رامنځته کيږي».

د شيخ الاسلام ابن تيميه رح په دې اقوالو سره دا ثابته شوه چې هغه د تکفير قضيه کې هم لکه د نورو مسائلو په څير په د اهل سنت و جماعت ناجيه ډله او سمه لاره نيولې ده او پرته له هغه چانه چې الله او پيغمبر يې ورته کافر ويلی وي بل چاته کافر نه وايي، اد تکفير مطلق او معين تر منځ توپير ته قايل دي او تر هغو چاته کافر نه وايي څو چې پرې د حجت اقامه نه وي شوې، د تکفير شرطونه موجود نه وي موجود شوی او موانع يې له منځه نه وي تللي.

امام شمس الدين ذهبی رح  د دې تر بيا ن وروسته چې  امام ابوالحسن اشعری رحمه الله د خپل عمر په وروستيو کې وويل: «زه هيڅ يو اهل قبله نه تکفيروم»، وايي: "وبنحو هذا أدينن، وكذا كَان شيخنا ابن تيمية فِي أواخر أيامه يقول: أنا لا أكفر أحدا من الْأمة".[1]

[1] (سير أعلام النبلاء ١٥/٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« زه هم همداسې باور لرم او زموږ شیخ ابن تیمیه رح هم همداسې وه او د خپل عمر په وروستیو کې یې ویل: زه د دې امت هیڅ یو نه تکفیروم»،.[1]

دلته نو د شیخ الاسلام رح مخالفین وایی چې بیا یې ولې فخر الدین رازی تکفیر کړی دی؟

په دې کې شک نشته چې دا خبره سمه نه ده او متأسفانه (په دې اړه یې) د شیخ خبره قطع او غوڅه کړې ده. د شیخ رح قول په کامل ډول تاسو ته رانقلوم:« کما صنف الرازي کتابه في عبادة الکواکب و الأصنام و اقام الأدلة علی حسن ذلک ومنفعته ورغب فیه و هذه ردة عن الاسلام باتفاق المسلمین و ان کان قد یکون تاب منه و عاد الی الاسلام».[2]

یعني:« لکه څنګه چې فخر رازي د سیارو او بتانو د لمانځنې په اړه کتاب لیکلی، د هغوی ښیګڼې او ګټې یې بیان کړي او هغو په لور یې تشویق کړی، او پرته له شک نه د مسلمانانو په اتفاق سره ارتداد او له اسلام نه وتل دي. سره له دې چې هغه له دې کاره بیرته توبه کړې او اسلام ته راګرځیدلی دی.»

---

[1] (یعني دا چې دا عقیده یې د مبارک عمر تر آخره وه)
[2] (مجموع الفتاوی۴/۵۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخالفين د دې خبرې لومړی برخه را اخلي خو دوهمه يې چې شيخ رح پکې له دې کاره د هغه د توبې خبره کوي، له پامه يې غورځوي.

شيخ الاسلام رح بل ّځای پخپلو کتابونو کې د نوموړي توبه ښرگندوي او پر هغه خپله مهرباني [1]کوي او وايي: "ما سلكه أهل البدع من أهل الفلسفة والكلام لا يصلون إلى علم ويقينْ بل إنما غَاية صاحبه الشك والضلال وهذا مما اعترفت به حذاقهم وممن اعترف به أبو عبدالله الرازي رحمه الله فِي غير موضع من كتبه ولفظه فِي بعضها لقد تأملت الكتب الكلامية والْمناهج الفلسفية فما رأيتها تشفي عليلا ولا ترو غليلا ورأيت أقرب الطرق طريقة القرآن ... ومن جرب مثل تَجربتي عرف مثل معرفتي وهذا قاله فِي آخر عمره فِي آخر ما صنفه وهو كثير التناقض يقول القول ثم يرجع عنه و يقول في الآخر ما يناقضه كما يوجد هذا فی عامة كتبه تغمده الله برحمته و عفا عنه و سائر المؤمنين «رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ »[2] وتوبته معروفة مشهورة". [3]

---

[1] (رحمه الله يې ويلي دي)

[2] (سورت حشر؛ ايت ۱۰)

[3] (بيان تلبيس الجهمية في تأسيس بدعهم الكلامية۸/ ۵۳۰-۵۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« هغه لار چې فلاسفه او متکلمین پرې روان دي، پای یې شک او ګمراهي ده او انسان د یقین او هدایت لارې ته نه برابروي، او دا هغه څه دي چې د دوی مشرانو پرې اعتراف کړی دی، د دې اعترافونو له ډلې د ابو عبدالله رازی رحمه الله اعتراف دی چې د خپلو کتابونو په مختلفو ځایونو کې وایي: د متکلمینو په کتابونو او د هغوی په فلسفي منهج کې مې دقت وکړ، مریض ته شفاء نه ورکوی او تږی نه خړوبوي (یعني په درد نه خوري). بهترینه لاره د قرآن کریم تګلاره ده...(وروسته له دې د صفاتو د اثبات او نفی په برخه کې ځینو آیاتونو باندې استدلال کوي او وایی) هر څوک چې زما په څیر دا لاره تجربه کړي له دې قضې سره به مخ شي. ( تر دې وروسته شیخ الاسلام رح ادامه ورکوی او وایي): دا هغه څرګندونې دي چې هغه د خپل عمر په وروستیو او او آخرینو لیکنو کې کړي دي. د رازي په خبرو کې تناقضات زیات شتون لري، کله یې یو څه ووایي او وروسته بیرته ورڅخه په شا شي او له سره بیا داسئې یو څه چې (پخوانی) خبرې یې نقض او ردوي، لکه څنګه چې دغه متاقضه کړنه یې په ډیری کتابونو کې شتون لري. الله تعالی دې هغه او ټول مسلمانان په خپل رحمت کړي او له تیروتنو دې ورته تیر شي.( الله تعالی فرمایی) : رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ

ترجمه: پروردګاره! مونږ او زمونږ هغه ورونه چې په ایمان راوړلو کې پر مونږ مخکې شوی دي وبښه. او زمونږ په زړونو کې د مومنانو لپاره کینه مه پریږده. پروردګاره!ته د ډیر رحمت او مهربانۍ څښتن یې .( شیخ رح په آخر کې وایي) د رازي توبه او رجوع مشهوره ده».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريمه شبهه: آيا شيخ الاسلام رحمه الله څلورګونو امامانو ته توهين او جسارت کړی دی؟

پر شيخ الاسلام رحمه الله يو له ښکاره تهمتونو او ناروا تورونو څخه دا ده چې مذهبي متعصبين وايي: ابن تيميه د څلورګونو أئمه[1] و(امامانو) په وړاندې بې ادبي او ګستاخي کوي او هغوی ته احترام نه لري.

دغه ډله (کسان) له څلورو حالتونو څخه خارج نه دي:

ألف: د ابن تيميه رح له کتابونو او آثارو سره اشنايي نه لري.

ب: او يا دا چې په درواغو يې ځان څلور ګونو أئمه و ته منسوب کړی او خپله باطله تګلاره له أئمه و څخه پيروی ګڼي.

[1] (امام ابو حنيفه شافعي مالک او احمد رحمهم الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: یا دا چې د توهین او جسارت په معنی اومفهوم باندې نه پوهیږي او علمی نقد ورته ګستاخي ښکاري.

د: یا دا چې پوچ او مذموم تعصب او د أئمه و اړوند خپله مبالغه یې په حقه ګڼلې ده او څوک چې له هغوی سره مخالفت وکړي نو د أئمه و په وړاندې یې په بې ادبۍ متهموي.

ددغه څلورګونو حالتونو په اړه لا ډیره توضیح ورکوم:

لومړی حالت: ابن تیمیه رح د أئمه و په وړاندې له توهین کوونکو څخه نه وه بلکې د دغو ښاغلو امامانو له مدافعینو څخه وه، تر ټولو ښه بیلګه یې د نوموړي کتاب "رفع الْملام عن الْأئمة الْعلام" دی چې شیخ رح په دې کتاب کې د أئمه و او فقهاؤ تر منځ د اختلاف لس عوامل مطرح کړی دي او په یو ډول یې د دغو قدرمنو امامانو له حیثیت نه دفاع کړې ده تر څو څوک داسې تصور ونه کړي چې ګنې أئمه و د خپلو نفساني خواهشاتو یا د بل کوم ناوړه سبب له مخې په خپلو کې اختلاف درلود. البته د دغو اسبابو او له أئمه و څخه د دفاع بیان یوازې په دې کتاب پورې ځانګړې نه ده بلکې په ګڼو ځایونو کې یې دې قضایاو ته اشاره کړې ده.

شیخ الاسلام رح په رفع الملام او همدارنګه د مجموع الفتاوی په یوه برخه کې د علماؤ د اختلاف لس عوامل د حدیثو په رڼا کې بیان کړي دي چې په حقیقت کې دا د علماؤ د اختلاف لپاره یو سلسله عذر تراشل دي، تر څو له هغوی نه د ملامتۍ بار لرې کړي او د هغوی په وړاندې د ګستاخانو ژبې لنډې کړې.

په دې ځای کې اوو سببونو ته چې شیخ رح پرې بحث کړی دی په لنډ ډول په ترتیب سره ورته اشاره کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی سبب: حدیث یو امام ته رسیدلی او نورو ته نه دی رسیدلی.

دوهم سبب: حدیث یو امام او عالم ته رسیدلی دی مگر ورته ثابت سوی نه دی.

دریم سبب: شاید امام حدیث ضعیف وګڼي،- له راویانو نه د خپل برداشت او فهم له مخې یا د بل کوم سبب له امله- مگر(هغه روایت) د بل امام په وړاندې صحیح او ثابت وي،

څلورم سبب: دخبر واحد پر قبول باندې د یوه (امام)له طرفه د ځینو شرطونو وضع کول او د بل له لخوا د هغو نه منل.

پنځم سبب: حدیث ورته رسیدلی او ثابت شوی هم دی مگر هغه ترې هیر شوی دی.

شپږم سبب: عالم او یام امام د روایت صحیح مفهوم او دلالت ته نه وي متوجه شوی.

اووم سبب:او یا ځینې علماء په دې نظر دی چې په دې سیاق کې د روایت دلالت او مفهوم نه اخیستل کیږي،. شیخ رح د دغې دفاعې په لړ کې درې نور سببونه هم زیاتوي.[1]

همدارنګه له شیخ الاسلام رحمه الله څخه وروسته ډیرو نورو علماؤ هم د فقهاؤ ترمنځ د اختلاف په عواملو او اسبابو لیکنې کتابونه لیکلی دي او په دې برخه کې یې تفصیل ورکړی

[1] (رفع الملام عن الإئمة الأعلام ٣٥-٩او مجموع الفتاوى ٢٠/ ٢٥٠-٢٣٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. شیخ الاسلام حمه الله په خپلو کتابونو کې په ډیر احترام له أئمه رحمهم الله څخه یادونه کړې ده او په ډیره ښه توګه یې د هغوي درنښت او عزت کړی د ی.

کله چې له شیخ الاسلام رح نه پوښتنه وشوه چې د څلورګونو مذاهبو یو په بل پسې د لمونځ کول جواز لري او کنه؟ نو شیخ رح دا ډول ځواب ورته ورکړ:

«نعم تجوز صلاة بعضهم خلف بعض کما کان الصحابة و التابعون لهم باحسان ومن بعدهم من الأئمة الأربعة یصلی بعضهم خلف بعض مع تنازعهم في هذه المسائل المذکورة وغيرها. و لم يقل احد من السلف انه لا يصلی بعضهم خلف بعض و من انکر ذلک فهو مبتدع ضال مخالف للکتاب والسنة و اجماع سلف الأمة و أئمتها»[1]

یعني:« هوکې، په یو بل پسې یې لمونځ کول جواز لري لکه څنګه چې صحابه او تابعینو او له هغوی څخه وروسته څلورګونو امامانو سره له دې چې له یو بل سره یې په هغو مسایلو کې چې پوښتونکي یې پوښتي د نظر اختلاف درلود خو بیا یې هم یو په بل پسې لمونځ اداء کړی دی او له سلفو څخه هیڅ داسې نه دی ویلي چې یو په بل پسې باید لمونځ مه ونه

[1] (مجموع الفتاوی۲۳/۳۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او دغه ډول فکر د کتاب الله، سنت او سلف أئمه و د اجماع په خلاف ده، او هر څوک چې له دې نه انکار وکړي مبتدع او گمراه دی.

همدارنگه شيخ رح د دغه ځواب په يوه برخه کې وايي: وإنما خالف بعض المعتصبينْ من المتأخرين: فزعم أن الصلاة خلف الحنفي لا تصح وإن أتَى بالواجبات؛ لأْنه أداها وهو لا يعتقد وجوبها وقائل هذا القول إلى أن يستتاب كمايستتاب أهل البدع"[1]

يعني:«(په دې کې چې يو په بل پسې لمونځ اداء کړي هيڅ اختلاف نشته) مگر ځينو متعصبو متاخرينو له دې خبرې سره مخالفت کړی دی تر دې چې داسې گمان يې کړی: په حنفي پسې لمونځ کول جواز نه لري که څه هم ځينې واجبات يې( د دغه متعصب په نظر) تر سره کړي هم وي، (دليل يې دا دی) ځکه دغه حنفی د دغه عمل په وجوب باور نه لري او هغه د واجب په نيت نه تر سره کوي. (شيخ رحمه الله وايي:) دغسې کس بايد له خپلې خبرې نه توبه وکړي لکه څنگه چې مبتدع او بدعتي له خپل بدعت نه توبه کوي».

اوس به هم څوک چې د شيخ الاسلام رحمه الله له ليکنو او آثارو سره آشنايي ولري نو پر هغه به داسې تهمت وتړي؟ هيڅکله نه!

[1] (مجموع الفتاوی٣٧٦-٢٣/٣٧٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم حالت: په ډېرو مواردو کې مذهبي متعصبين يو امام ته خبرې منسوبوي او له هغو خبرو سره مخالفت درنو أئمه و ته گستاخي بلي. د بيلگې په توگه: ډېرې هغه بدعتونه چې د أئمه رحمهم الله په زمانه کې يې اصلا بهرني وجود نه درلود، که چيرې يې رد يا ترې انکار وکړې نو د ائمه رحمهم الله په وړاندې به په جسارت(بې پروايې يا هم بې احترامی) متهم شې، يا سبحان الله! د بدعت ردول د أئمه و په وړاندې له گستاخۍ او جسارت سره څه اړيکه لري؟

له فلاسفه و څخه متاثره کلامی نظريه له علمي نقد لاندې نيسې، نو وايي: ده د أئمه و په وړاندې جسارت کړی دی. ايا أئمه رحمهم الله کلامي او له فليسوفانو نه متاثره ول؟ هيڅکله نه!

د خبرې نچوړ دا چې: أئمه و ته جسارت(موضوع) يې له خپلو بدعاتو او خزعبلاتو(بيهوده خبرو) څخه د سپر په توگه گرځولې تر څو يې څوک د بطلان جرأت ونه کړای شي.

دريم حالت: ځينو د علمي نقد او توهين تر منځ توپير نه دی درک کړی او که چيرې د غښتلو دلايلو له مخې د يو امام مفکوره د يو داسې کس له خوا چې د نقد اهليت ولري تر څېړنې لاندې ونيول شي نو ځينې دې ته د توهين او جسارت په سترگه گوري.

هوکې! دا سمه ده هغه کسان چې د نقد اهليت نه لري او د نقد په طريقه نه پوهيږي او په دې قضاياو کې مداخله کوي، دتوهين او بې ادبۍ مرتکب گرځي. مگر دا جهل او ناپوهي ده چې هر نقد ته د توهين تصور وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نور هیڅوک له نقد پورته نه دي او له نیوکې سره مخ دي. لکه څنګه چې امام بخاری رحمه الله وایی: "لیس أحد بعد رسول اللَّه صلی اللَّه علیه وسلم إلا یوخذ من قوله ویترك إلا رسول اللَّه صلی اللَّه علیه وسلم". [1]

یعني:« له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د هیڅ کس ټولې خبرې نه اخیستل کیږي (نه منل کیږي) بلکې ځینې خبرې یې اخیستل کیږي او ځینې یې پریښودل کیږي».

امام مالک رحمه الله وایی: " کُل أحد یؤخذ من قوله، ویترك، إلا صاحب هذا القبر صلی الله علیه وسلم".[2]

یعني:« له رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته د هر کس د خبرو یو برخه اخیستل کیږی او یوه برخه یې ترکیږ ي».

نو که چیرې دغه نقد او آراءو رد په ادب او د علم او پوهې په مخې وي، هیڅ مشکل نه لري او توهین نه حسابیږی بلکې د امت په ګټه ده او د علم او فهم لا ډیرې دروازې پر مخ پرانیزي.

[1] (جزء القراءة خلف الإمام، ص۱۴).
[2] (سير أعلام النبلاء ۸/۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ائمه و، یارانو او ملګرو ډیر کله له خپلو استادانو سره مخالفت کړی دی او په هیڅ ډول بې ادبي نه ده ګڼل شوې.

څلورم حالت: د متعصبینو پر خلاف چې د حال په ژبه أئمه رحمهم الله، معصوم او له خطاو او تیروتنو څخه پاک ګڼي؛ شیخ الاسلام رح لکه د أئمه و رحمهم الله په څیر پخپل عصمت معتقد نه دی، سرچې له دې چې مذهبی متعصبین په ښکاره دا موضوع نه مطرحوي مګر دا چې پر هغوی د هیڅ علمي نقد په وړاندې تاب نه راوړی او منتقدینو ته د بې ادب او ګستاخ نوم ورکوي، دا پر دې دلالت کوي چې د هغوي په معصوم والی عقیده لري او دا چې له هغوی نه هیڅ خطا نه کیږي. په داسې حال کې چې ائمه رحمهم الله پخپله ځان له خطا او تیروتنې څخه پورته نه بلي او شرعي نصوصو ته تسلیم سوي دي.

## د خپلو افکارو او نظریاتو په اړوند د امام ابو حنیفه رحمه الله(متوفای۱۵۰ه) لیدلوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن عابدين شامی رحمه الله وايی:« فقد صح عنه قال: اذا صح الحديث فهو مذهبی. و قد حکی ذلک ابن عبد البر عن ابی حنيفه و غيره من الأئمة.ه و نقله أيضا الامام الشعراني عن الأئمة الأربعة».[1]

يعني:« له امام ابو حنيفه نه په صحيح دليل سره ثابته شوې ده چې ويې فرمايل: هر کله چې حديث پخپل صحت او ثبوت ورسيږي، هماغه زما مذهب او تګلاره ده. او دا قول امام شعرانی هم له اربعه امامانو څخه رانقل کړی دی».

امام ابوحنيفه ا و امام ابويوسف رحمهم الله وايي:« لا يحل أن يأخذ بقولنا ما لم يعلم من أين أخذناه.»[2]

يعنی:« جائزه نه ده چې څوک زمونږ قول واخلي او پري عمل وکړي، پرته له دې چې پوهه شي چې له کوم ځايه مو اخيستی دی»

[1] (حاشية ابن عابدين – ردالمختار ۱/٦٨).

[2] (التنبيه على مشكلات الهداية ۲/۵۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه امام رحمه الله وايي: "لا ينبغِي لمن لم يعرف د ليلي أن يفتي ب لامي وكان رضِ الله عنه اذا أفتَّى يقول هذا رأى الْنعمان بن ثابت يعني نفسه وهو أحسن ما قدرنا عليه فمن جاء بأحسن منه فهو أولى بالصواب.[1]

يعني:« هغه چا ته ښه نه ده چې زما د خبرې دليل ونه پيژني او فتوا ورکړي. او امام رح به چې کله فتوا ورکوله نو ويل يې دا د نعمان بن ثابت يعني خپل نظر يې دی. دا فکر بهترين نظر چې مونږ ورته رسيدلی يو او که چيرې څوک له دې څخه بهتره راوړي نو هماغه خبره لومړيتوب لري او درسته ده».

امام عباس دوری رحمه الله وايي: ابو نعيم وفرمايل: له زفر نه می واوريدل چې ويل يې: فقال يومنا أبو حنيقة لابى يوسف: ويحك يعقوب؛ لا تكتب كُل ما تسمع مني، فإني قد أرى الرأى اليوم وأتركه غدا، وأرى الرأي غدا وأتركه بعد غد".[2]

[1] (الإانصاف في بيان أسباب الإختلاف، ص ۱۰۴).

[2] (أخرجه الدوري في تاريخ ابن معين ۳/۵۰۴، روايت شماره۲۴۶۱ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« يعني ابو حنيفه رح، ابو يوسف رح ته وويل: اې يعقوبه( ابو يوسفه) واى پرتا! هر څه چې له ما اورې مه يې ليکه! ځکه زه نن ورځ يو نظر لرم او سبا ممکن هغه ترک کړم او سبا چې کوم نظر لرم ممکن بل سبا دهغه په خلاف څه ووايم».

همدارنگه امام ابوحنيفه رح وايى: "ما جاءنا عن رسول اللَّه صنلى الله علينه وسنلم قبلناه على الرأس والعينين وماجاءنا عن اصحابه رحمهم اللَّه اخترنا منه ولم نَخرج عن قولهم وما جاءننا عن التابعينْ فهم رجال ونَحن رجال"[1]

يعني،:« هغه څه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مونږ ته رارسيدلي په سر، سترگو يې منو،او هغه څه چې د صحابه وو لخوا رارسيدلي د هغوی له منځه اقوال يې رااخلو او له خبرو يې دباندې نه وځو، مگر د تابعينو د څرگندونو په اړوند: هغوی هم سړي ول او مونږ هم سړي يو(هغوي اجتهاد کړی وه او مونږ به هم اجتهاد کوو).»

[1] (الانتفاء في فضائل الثلاثة الأئمة الفقهاء مالك والشافعي وأبي حنيفة رضي الله عنهم ١/١۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خپلو نظرياتو په اړه د امام مالک رحمه الله(متوفای۱۷۹) ليدلوری

امام دارالهجره رحمه الله فرمايي: "إنما أنا بشر، أخطئ وأصيب فانظروا في رأيي فكلما وافق الكتاب والسنة فخذوا به، وكلما لم يوافق الكتاب والسنة، فاتركوه"[1]

يعني:« زه له يو انسان پرته بل څه نه يم! د خطا او سموالي مرتکب کيږم، نو فکر او نظر مې وګورئ که چيرې له قرآن او سنت سره برابر وه نو وايې خلئ او عمل پرې وکړئ او که داسې نه وه نو خوشې يې کړئ او ترک يې کړئ».

په بل ځای کې وايی: " كُل أحد يؤخذ من قوله، ويترك، إلا صاحب هذا القبر صلى الله عليه وسلم".[2]

[1] (جامع بيان العلم وفضله۱/۷۷۵)
[2] (سير أعلام النبلاء ۸/۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني:« له رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته د هر کس د خبرو يو برخه اخيستل کيږی او يوه برخه يې ترکيږ ي»۰

## د خپلو نظرياتو په اړه د امام شافعي رحمه الله (۲۰۴ه) ليدلوری

امام شافعي رحمه الله وايي: "إذا وجدتم في كتابي خلاف سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم , فقولوا بسنة رسول اللهصلى الله عليه وسلم ودعوا ما قلت".[1]

يعني:« که مو زما په کتاب کې داسې څه وموندل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مخالف ول، نو د پيغمبرصلی الله علیه وسلم سنت واخلئ او زما خبره ترک کړئ.»

همدارنگه وايي: " كُل حديث عن الْنبى صلى اللَّه عليه وسلم فهو قولي، وإن لم تسمعوه مني ".[2]

[1] (المدخل إلى السنن الكبرى، ص ۲۰۵ روايت شماره ۲۴۹)
[2] (آداب الشافعي ومناقبه، ص ۷۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هر حدیث زما نظر او قول هم دی، که څه هم هغه مو له مانه نه وي اوریدلي»

امام شافعی رح یو ځل یو حدیث بیان کړ، نو یو تن ورته وویل"تأخذ به یا أبا عبد اللَّه،؟ فقال: سبحان اللَّه أروي عن رسول اللَّه صلى اللَّه عليه وسلم شيئا لا آخذ به؟! متَّى عرفت لرسول الله صلى الله عليه وسلم حديثا، ولم آخذ به، فأنا أشهدكم أن عقلي قد ذهب".[1]

یعني:« اې ابو عبدالله (شافعي) دا روایت اخلې او عمل پرې کوې؟ شافعي رح وویل: سبحان الله! له پیغمبر صلی الله علیه وسلم روایت شوی حدیث وا نه خلم او عمل پرې ونه کړم؟! هر کله چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم کوم روایت ماته راورسیدو خو هغه مې وانه خیستلو او عمل مې پرې ونه کړ؛ نو تاسو ټول شاهد اوسئ چې هغه مهال ما خپل عقل له لاسه ورکړئ».

په بل ځای کې امام شافعي رح فرمايي: " كُل ما قلت، وكان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم خلاف قولي، مما يصح، فحديث النبی صلى الله عليه وسلم أولى، ولا تقلدوني"[2].

[1] (آداب الشافعي ومناقبه، ص٦٩)
[2] (آداب الشافعي ومناقبه، ص٦٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني:« هر هغه څه چې ما ويلي که چيرې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث مخالف ول، نو په هغه حديث عمل وکړئ او زما تقليد مه کوئ!».

امام احمد رحمه الله فرمايي:"كان أحسن أمر الشافعي رضِي الله عنه عندي أنه كَان إذا سمع الخبر لم يكن عنده، قال به وترك قوله". [1]

يعني:« زما په وړاندې د امام شافعي بهترين کار دا وه چې کله به يې کوم داسې حديث واوريدو چې مخکې به ورته نه وه رسيدلی نو حديث به يې اخيستو او خپلې پخوانۍ خبرې به يې پريښودې».

## د خپلو نظرياتو اړوند د امام احمد رحمه الله (متوفای۲۴۱ هـ) ليدلوری

[1] (المدخل إلى السنن الكبرى، ص ۲۰۵ روايت شماره ۲۵۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام احمد رحمه الله وايي: "من رد حديث رسول الله فهو على شفا هلكة"[1]

يعني:« څوک چې د رسول الله حديث رد کړي نو د هلاکت او بدبختۍ پر غاړه قرار لري».

همدارنگه فرمايي: "لا تقلدوني ولا تقلد مالک ولا الثوري ولا الأوزاعِي، وخحذ من حيث أخذوا"[2]

يعني:« زما، مالک، ثوري او اوزاعي تقليد مه کوئ! بلکې له کوم ځايه چې هغوی اخذ کړی تاسو يې هم وکړئ!».

امام ابوداوود سجستانی رح وايي: له امام احمد رح نه مې واوريدل چې ويل يې: "أنا أكره أن يكتب عني راي"[3]. يعني:« زما دا نه خوښيږي چې نظر مې وليکل شي.»

[1] (مناقب الإمام أحمد، ص۲۴۹).

[2] (إعلام الموقعين عن رب العالمين ۲/۱۳۹).

[3] (مسائل الإمام أحمد رواية أبي داود السجستاني، ص۳٦۷ روايت شماره۱۷۸٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام احمد رح فرمايي: "ليس أحد إلا ويوخذ من رايه، ويترك، يعني: ما خلا الْنبي صلى الله عليه وسلم".[1]

يعني:«پرته له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د هر چا د نظرياتو يوه برخه اخيستل کيږي او يو څه يې پريښودل کيږي».

همدارنګه فرمايي:"رأي الْاوزاعِي، ورأي مالك، ورأي سفيان كله رأي ، وهو عند سواء وإنما الحجة فيِ الْاثار".[2]

يعني:« د اوزاعي، مالک او سفيان ټولو رايې، نظريات دي او زما په وړاندې يو شان دي. دليل او برهان يوازې په احاديثو کې دی».

دا د ځلور ګونو امامانو رحمهم الله د اقوالو يوه برخه وه او څرګندوي چې پر هغوی نقد د هغه چا لپاره چې اهل يې وي نه يوازې دا چې توهين او جسارت نه دی بلکې د هغوی پر لاره او روش تلل او قدم اېښودل دي.

[1] (مسائل الإمام أحمد رواية أبي داود السجستاني، ص٣٦٨ روايت شماره١٧٨٦)

[2] (جامع بيان العلم وفضله ٢/١٠٨٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلورم حالت: د أئمه و په حق کې د خپلې مبالغې او تعصب له مخې، توهین او تجمید یې حکم ګرځولی او هر څوک چې د دوی په دغه ظالمانه ترازو کې وغورځي، نو پرته له درنګه یې د خپلو تعصبی عینکو له مخې د أئمه و رحمهم الله په وړاندې په توهین او جسارت متهموي.

لکه د نصاراو(مسیحیانو) په څیر چې هر کله مسلمانان ورته ووایي: عیسی علیه السلام د خدای بنده او استازی دی او د خدای زوی یا خپله خدای نه دی، نو راوپاریږي او وایي: مسلمانانو د عیسی علیه السلام په حق کې توهین کړی او ددغه عظیم الشان پیغمبر په وړاندې خپله ژبه اوږدوي ځکه زمونږه(مسیحیانو) په څیر هغه د خدای زوی یا خپله خدای نه ګڼي.

دوی تعصب او خپله باطله او شرکي مبالغه، احترام نوموي او هر څوک چې د دې شرکې او باطلې نظریې مخالف وي نو اولوالعزم پیغمبر ته په جسارت او بې ادبۍ متهم کیږي.

د دغو څلورو حالاتو له شرحې او څیړلو مونږ ته ثابته شوه چې شیخ الاسلام رحمه الله قدرمنو أئمه و رحمهم الله ته ځانګړی احترام درلود بلګې د هغوی له لوړمقام یې دفاع کړې او د سپک ژبو او جسارت کوونکو ژبه یې ور لنډه کړې ده.

## څلورمه شبهه: آیا ابن تیمیه رحمه الله ناصبی او د اهل بیتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دښمن وه؟

روافض هداهم الله، شيخ الاسلام ابن تيمه رح په ناصبي متهموي او د اهل بيتو دښمن يې گڼي. په لومړي سر کې بايد د ناصبي تعريف د اهل سنتو او روافضو په وړاندې وپيژنو ترڅو په ښه توگه دغه قضيه درک کړای شي.

ناصبي او نواصب يعني څه؟

نصب په لغت کې د يوشي د پورته کولو او راجگولو معنا لري او په شرعي اصطلاح کې نواصب، ناصبه او اهل نصب هغه کسان دي چې له علی رضی الله عنه او نورو اهل بيتو سره کينه ساتي او دښمني ورسره کوي.

دا هغه تعريف دی چې د اهل سنتو عموم مسلمانان يې وړاندې کوي، او په دې اعتبار او حيثيت ابن تيميه رح ناصبي نه وه بلکې د نواصبو مخالف وه چې دا به ددې بحث په دوام درک کړئ. مگر د رافضي شيعه گانو په وړاندې د ناصبي تعريف بشپړ توپير لري او بل ډول دی، پام وکړئ چې رافضي علماء ناصبي څه ډول تعريفوي:

د روافضو په وړاندې هر څوک چې له راوفضو سره دښمني ولري حتی که ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته پر علی رضی الله عنه ترجيح او برتري ورکړي نو ناصبي گڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابوعبدالله جعفر صادق (نه يې په درواغو) روايت کړی چې ګني هغه داسې ويلي: "ليس الناصب من نصب لنا أهل البيت؛ لأنك لا تَجد أحدا يقول أنا أبغض محمدا و آل محمد، ولكن الناصب من نصب لكم وهو يعلم أنكم تتوالونا وتتبرءون من أعدائنا".[1]

يعني:« ناصبي هغع څوک نه دی چې له مونږ اهل بيتو سره دښمني ولري ځکه ښکاره ده چې هيڅوک نه وايي: زه له محمد او آل محمد سره دښمني لرم. بلکې ناصبې هغه څوک دی چې له تاسو شيعه ګانو سره دښمني ولري په داسې حال کې چې پوهيږي تاسو تاسو له مونږ سره دوستي کوئ او زمونږ له دښمنانو بيزاره ياست».

او موسی بن محمد بن علی بن عيسی وايي: "كتبت إليه يعني عَلى بن محمد عليه السلام أسأله عن الناصب- هل أحتاج فِي امتحانه- إلى أكثر من تقديمه الجبت و الطاغوت- و اعتقاد إمامتهما- فرجع الجواب من كَان على هذا فهو ناصب" [2]يعني:« د امام علی بن محمد[3] لپاره مې وليکل: آيا د ناصبي په ازمايلو کې تر دې ډير څه چې جبت او طاغوت ته پر (علی رضی

[1] (وسائل الشيعة، روايت ١٢٥٤٨ وصفات الشيعة، ص٩ روايت شماره ١٧)

[2] (وسائل الشيعة، روايت١٢٥٥٩)

[3]

(چې مشهر په امام هادی او امام لسم د شيعه ګانو دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عنه) ترجيح ورکوي او په امامت يې باور لري؛ شته؟ ځواب راته راغلو چې هر څوک دا ډول وي نو ناصبي دی».

د رافضيانو قبحهم الله پر منطق جبت او طاغوت يعني ابوبکر او عمر رضی الله عنهما!.

د شيعه علماؤ او محققينو له ډلې محسن المعلم وايي: ناصبي هغه څوک دی چې له علي عليه السلام، د هغه د اولادې له امامانو او شيعه ګانو سره دښمني ولري»[1].

او يوشمير نور يې بيا په ښکاره دا څرګندوي چې ټول اهل سنت ناصبيان دي؛ د حسين بن شيخ محمد آل عصفور درازي بحراني په نوم د دوی له علماؤ يو تن وايي: "بل أخبارهم عليهم السلام تنادي بأن الناصب هو ما يقال له عندهم سنيا"[2]

يعني:« بلکې د أئمه و عليهم السلام اخبار او روايات نارې وهي چې د هغوی په وړاندې ناصبي هماغه سني دی».

څو کرښې لاندې بيا وايي: "ولا كلام فيِ أن الْمراد بالناصبة هم أهل التسنَن".[3]

---

[1] (النصب و النواصب، ص٢٦١).

[2] (المحاسن النفسانية في أجوبة المسائل الخراسانية، ص١٤٧ )

[3] (المحاسن النفسانية في أجوبة المسائل الخراسانية، ص١٤٧ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« په دې کې هیڅ اختلاف نشته چې له ناصبي څخه هدف هماغه اهل سنت دي».
له همدې امله ده چې امام ابوحنیفه رحمه الله او د اهل سنتو نورو علماؤ او مشرانو ته ناصبي وایي.

محمد بن یعقوب کلینی پخپل سند له محمد بن مسلم څخه روایت کوي چې ویل یې:
دخلت على أبِي عبد الله ع و عنده أبو حنيفة فقلت له جعلت فداک رأيت رؤيا عجيبة فقال لی يا ابن مسلم هاتها فإن العالم بها جالس و أومأ بيده إلى أبِي حنيفة قال فقلت رأيت كاني دخلت داری و إذا أهلی قد خرجت على فكسَّرت جوزا كثيرا و نثرته على فتعحبت من هذه الرؤيا فقال أبوحنيفة أنت رجل تَخاصم و تجادل لئَاما (ایاما) في مواريث أهلک فبعد نصب شديد تنال حاجتک منها إن شاء الله فقال أبوعبد الله ع أصبت و الله يا أبا حنيفة قال ثم خرج أبو حنيفة من عنده فقلت جعلت فداک إني كرهت تعبير هذا النا صب، فقال يا ابن مسلم لا يسؤک الله فما يواطِی تعبيرهم تعبيرنا و لا تعبيرنا تعبيرهحم و ليس التعبير كما عبرة قال فقلت له جعلت فداک فقولک أصبت و تحلف عليه و هو مخطی قال نعم حلفت عليه أنه أصاب الخطأ قال فقلت له فما تأويلها قال يا ابن مسلم إنک تتمتع بامرأة فتعلم بها أهلک فتمزق عليک ثيابا جددا...".[1]

[1] (الکافي ۸/۲۹۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« پر ابو عبدالله جعفر صادق په داسې حال کې ورننوتم چې ابوحنيفه هم ورسره وه. امام ته مې عرض وکړ چې قربان دې شم، عجيب خوب مې ليدلی! امام وويل: و يې وايه چې (د دې )عالم يې دلته ناسته دی. او په لاس يې اشاره ابوحنيفه ته وکړه.

ومې ويل: ومې ليدل لکه په په کور کې چې يم، کورنۍ مې راغلله، ډير چهارمغز، يې مات کړل او زما پر سر يې وشيندل، دې خوب حيران کړی يم. ابو حنيفه وويل: ځو ورځې کيږي چې د کورنۍ په ميراث کې دښمني او جګړه کوې او تر ډيرې هځې وروسته خپل حاجت ته رسيږې، إ ن شاء الله. امام صادق هغه ته وويل: په خدای قسم رښتيا دې وويل. وروسته ابوحنيفه لاړو او ما امام ته مې عرض وکړ: قربان دې شم، زما د خوب له دغه تعبيره چې دغه ناصبي وکړ بد مې راغلل. (امام صادق) وويل: خدای تاته بدي نه درکوي، د هغوی تعبير له مونږ او زمونږ له هغوی سره ورته والی نه لري، د خوب تعبير کوم چې هغه وويل نه دی. نو هغه(امام صادق) ته مې عراض وکړ: قربان دې شم، خو تاسو ورته وويل چې رښتيا واياست، او قسم مو هم وکړ په داسې حال کې چې هغه تېروتلی وه؟ ويې ويل: قسم مې وکړ چې هغه تيروتنه وکړه!

عرض مې وکړ نو تعبير يې څه ده؟

ويې ويل: ته له يوې ښځې سره متعه کوې، کورنۍ دې درباندې خبريږي او ستا په ځان کې نوې جامې درته څيرې کوي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمت الله جزائری علیه من الله ما یستحق، وایي: "ويُؤيد هذا الْمعنى أن الْأئمة عليهم السلام وخواصهم أطلقوا لفظ الْناصبي على أبي حنيفة وأمثاله"[1]

یعني:«او دا د دې مفهوم تائید کوي چې أئمه علیهم السلام او خواصو یې پر ابو حنیفه او امثالو یې د ناصبي لفظ اطلاق کړی دی».

علامهء شیعه، محسن المعلم پخپل کتاب "النصب و النواصب" کې په پنځم باب، دریم فصل، اوپه مطلب د: النواصب في العباد،کې له ۲۵۹صفحې نه وروسته ... ډیر نومونه را اخیستي او او وایي دا ناصبیان دي، له دې جملې نه لاندې کسان دي: ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، ام المؤمنین عائشه، انس بن مالك، حسان بن ثابت، ابو هریره، مغیره بن شعبه، ابو موسی اشعری، زبیر بن عوام، طلحه بن عبید الله، سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهم، سعید بن مسیب، امام اوزاعی، امام مالك، عروه بن زبیر، امام ذهبی، امام بخاری، امام زهری رحمهم الله، او ډیر نور له صحابه و، تابعینو، تبع تابعینو او نور مسلمان علماء او مشران.

لکه څنګه چې تیر شول د روافضو د تعریف له مخې د اهل سنت ټول مسلمانان ناصبیان دي او ورته د نواصبو په سترګه ورته ګوري. اوس نو دا چې شیخ الاسلام رح ناصبي ګڼي

[1] (الأنوار النعمانية ٢/٣٠٧).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه د حیرانتیا خبره نه ده بلکې په حقیقت کې هغه هم د ټول اهل سنت او جماعت قافلې ته ورگډوي.

مگر د نواصبو په اړه د اهل سنت او جماعت د د دقیق او درست تعریف له مخې ابن تیمیه رح په میلونو له دې څخه واټن لري دی بلکې هغه له نواصبو سره  په شدت چلند کړی. په دې ځای کې له اهل بیتو د مینې او کرکې او دغه راز د ناصبي گمراه فرقې په هکله د شیخ الاسلام رح ځینې کړنې ستاسو خدمت ته وړاندې کوم.

شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله صاحب د "المنهاج السنة" د کتاب څښتن دی او هغه یې له صحابه او اهل بیتو څخه په دفاع کې لیکلی. بیاهم څنگه ممکنه ده چې ابن تیمیه رح ناصبي اود اهل بیتو دښمن وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن تيميه رح نواصب دا ډول تعريفوي: هغه کسان دي چې له اهل بيتو سره دښمني کوي په ځانګړې توګه علی رضی الله عنه سره، او ځينې دغه ناصبيان علی رضی الله عنه ته ګنځلې کوي او او ځينې نور يې کافر ګڼي.[1]

شيخ الإسلام رح د اهل بيتو د محبت د وجوب په هکله وايي: "محبتهم عندنا فرض واجب يؤجر عليه"[2]

يعني:« يعني زمونږ په وړاندې له اهل بيتو سره مينه فرض او واجب ده، او له دې امله يو چاته اجر ورکول کيږي».

په بل ځای کې وايي"ولا ريب أن محبة أهل بيت النبي- صلى اللَّه عليه وسلم – واجبة"[3]

يعني:« يعني په دې کې شک نشته چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اهل بيتو محبت لازم او واجب دی».

[1] منهاج السنة النبويه ۷/۳۳۹.
[2] (مجموع الفتاوی۴/۴۸۷)
[3] (منهاج السنة ۲/۱۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شيخ رح د اهل بيتو رضی الله عنهم، په وړاندې د بغض او کينې په اړه وايي: "من أبغضهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين لا يقبل الله منه صرفا ولا عدلا".[1]

يعني:« د الله، ملائکو او ټولو خلکو لعنت دې پر هغه چا وي چې له اهل بيتو سره دښمني او کينه لري، الله د هغه هيڅ فرضي او نفلي عبادت نه قبلوي».

دعلی رضی الله عنه د لوړې رتبې او مقام په اړه وايي:"فضل عَلي وولايته لله وعلو منزلته عند الله معلوم، ولله الحمد، من طرق ثابتة أفادتنا العلم اليقيني، لا يحتاج معها إلى كذب ولا إلى ما لا يعلم صدقه"[2]

يعني:« د الله تعالی په وړاندې د علی رضی الله عنه فضل، بزرگي، ولايت او لوړ مقام په صحيحو او ثابتو رواياتو چې د يقيني علم څرگندونه کوي، معلوم او مشخص دي. - لله

[1] (مجموع الفتاوى۴/۴۸۸)
[2] منهاج السنة ۸/۱۶۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمد- د دغو صحيحو او ثابتو رواياتو په شتون سره د (روافضو) درواغو او هغو رواياتوته چې صحت يې معلوم نه دی؛ اړتيا نشته».

د حسين رضی الله عنه د شهادت او د هغه د قاتلينو په اړه وايي: "وأما من قتل الحسينْ أو أعان على قتله أو رضِی بذلك فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين لا يقبل الله منه صرفا ولا عدلا" [1]

يعني:« د الله، ملائکو او ټولو خلکو لعنت دې پر هغه چا وي چې حسين رضی الله عنه يې وژلی يا يې د هغه په وژنه کې مرسته او همکاري کړې ده، او يا هم پرې خوښ شوی وي. الله د هغه هيڅ فرضي او نفلي عبادت نه قبلوي».

له نواواصبو د برائت او بيزارۍ په اړه وايي: "ويتبرؤون من طريقة الروافض والشيعة الذين يبغضون الصحابة ويسبونهم، وطريقة النواصب والْخوارج الذين يؤذون أهل البيت بقول أو عمل"[2]

يعني:« (سلف او اهل سنت) د شيعه روافضو له تګلارې چې صحابه و سره کينه او دښمني لري او کنځلې ورته کوي؛ بيزاره دی. همدارنګه د نواصبو خوارجو، له منهج نه چې پخپله ژبه او عمل سره اهل بيتو ته ازار او اذيت ورکوي. برائت او بيزاري اعلانوي».

[1] (مجموع الفتاوى۴/۴۸۷)

[2] (العقيدة الواسطية، ص۲٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شیخ رحمه الله په کتابونو او لیکنو کې دغه ډول قضایاوې ډیر زیاتې لیدل کیږي، مګر "مشت نمونه خروار" ځینې مو یې ستاسې په خدمت کې وړاندې کړل.

ډیری موارد چې شیخ الاسلام رح پر روافضو پر رد کې لیکلي د "الزام خصم" له باب څخه دي، او هغوی یې د خپلې باطلې عقیدې په وړاندې ملزم ګرځولي دي، تر څو خپل بطلان او خطاو ته پاملرنه وکړي؛ مګر روافضو د هغه خبرې غوڅې کړي او د ناصبي والي تهمت یې ورپورې تړلی دی.

لکه څنګه مو چې په لومړي سر کې یادونه وکړه چې روافض ټول اهل سنت ناصبي ګڼي، ځکه کوم تعریف چې دوی یې د نواصبو په اړه وړاندې کوي، نه یواځې دا چې شیخ الاسلام رح د روافضو د تهمت او افتراء په دغه قافله کې راځي بلکې له اهل سنتو څخه هیڅ یو ورڅخه سالم نه دی پاتې او ټول پکې شاملیږي.

همدارنګه دا چې روافض د الله تعالی صفات امامانو ته ورکوي، نو هر څوک چې ددوی له دغه شرک او غلو څخه منکر شي د اهل بیتو د دښمن نوم پرې ایږدي او د ناصبي ټاپه پرې وهي.

یهودیان او مسیحیان هم مسلمانان د موسی علیه السلام په دښمنۍ تورنوي ځکه د هغوی منسوخ او تحریف شوی دین نه مني، په ځانګړې بیا توګه مسیحیان ځکه (مسلمانان)د هغوی په څیر عیسی علیه السلام خدای یا هم د خدای زوی نه ګڼي.په دې کې شک نشته چې رافضیان د ټرې پرمخ تر ټولو ډیر ناصبي مخلوق دی چې د رسول الله صلی الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلم د میرمنو په وړاندې چې له اهل بیتو څخه دي ژبه اوږدوي او په اړه یې ډیرې سپکې څرګندونې کوي.

## پنځمه شبهه: ایا شیخ الاسلام رح د قبرونو له زیارت څخه منکر دی په ځانګړې توګه د پیغمبر ص د قبر زیارت یې حرام ګڼلی؟

د افراطي صوفیانو او د شیخ رحمه الله د دښمنانو یوه شبهه چې په هغه پسې تهمت تړي او وایي: ابن تیمیه د قبرونو زیارت نه مني، آن تر دې چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د قبر زیارت یې حرام ګڼلي دی. دلته به دوه موضوع ګانې چې دوی سره ګډې کړي دي یو له بله تفکیک کړو او وضاحت او رڼا به پرې واچوو:

لومړۍ موضوع: ایا ابن تیمیه رحمه الله دقبرونو زیارت حرام ګڼلو؟

یقیناً چې نه! ځکه هغه لکه د ټولو اهل سنتو د قبرونو زیارت د شرایطو په پام کې نیولو سره سنت او یو غوره عمل ګڼلی دی.

شیخ الاسلام رحمه الله د قبرونو زیارت په دوه برخو شرعي او بدعي باندې ویشي او وایي: "اما زیارة القبور، فهي علی الوجهین، شرعیة و بدعیة، فالشرعیة: مثل الصلاة علی الجنازة، و المقصود بها الدعاء للمیت، کما یقصد بذلک الصلاة علی جنازته. کما کان النبي صلی

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله عليه وسلم يزور أهل البقيع و ويزور شهداء أحد ويعلم أصحابه إذا زاروا القبور أن يقولوا: {السلام عليكم دار قوم مؤمنين وإنا إن شاء الله بكم ... وأما الزيارة البدعية : وهى زيارة اهل الشرک من جنس زيارة النصارى الذين يقصدون الدعاء للميت والاستعانة به و طلب الحوائج عنده فيصلون عند قبره و يدعون به فهذا ونحوه لم يفعله احدا من الصحابة ولا أمر به رسول اللَّ صلى الله عليه وسلم ولا استحبه أحد من سلف الْأمة وأئمتها بل قد سد الْنبي صلى الله عليه وسلم باب الشرك ".[1]

يعني:« د قبرونو زيارت په دوه ډوله دی، شرعي او بدعي زيارت. شرعي زيارت: پر مړي لکه د جنازې د لمانځه په څېر ده چې هدف يې د مړي لپاره دعاء ده، او همدارنګه پر هغه د جنازې د لمانځه اداء کول دي.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم د بقيع د هديرې او د احد دشهيدانو د قبرونو زيارت کولو، او خپلو ملګرو ته يې هم ښوونه کوله چې هر کله د قبرونو زيارت کوي نو دې ووايي: السلام عليکم دار قوم مؤمنين وإنا إن شاء الله بکم ...(او همدارنګه يې نور مسائل بيان کړي او وروسته تر هغه وايي) او بدعي زيارت: هغه دی چې مشرکين او نصارا يې تر سره کوي؛ په

[1] (مجموع الفتاوی۴۲ /۳۲۷-۳۲۶او ۲۷/۱۱۹ و قاعدة جليلة في التوسل والوسيلة، ص ۳۳-۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ډول چې له مړو د دعاء غوښتنه کوي، له هغوی مرسته غواړي، خپلې اړتیاوې د هغوی په وړاندې لټوي، د هغوی د قبرونو په مخکې لمونځ کوي او په چیغو، بغارو سره هغوي رابلي.

دغه ډول زیارت او بیلګې یې هیڅ کوم صحابې نه دی ترسره کړی، نه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې حکم کړی او نه هم له سلفو رحمهم الله څخه چا دغه ډول زیارت ښه ګڼلی بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرک دروازه ترلې ده».

نو دا له تهمت څخه پرته بل څه نه دي او پر شیخ الاسلام رح تپل شوي غټ بهتان او دروغ دي.

**دوهمه موضوع**: شدُّ الرِحال یا د پیغمبر او نورو صالحینو د قبرونو پر لور سفر کول.

شیخ الاسلام رحمه الله د انبیاؤ او اولیاؤ د قبرونو په لور د سفر قصد(نیت) کول ممنوع ګڼې، نه داچې مطلقا د قبرونو زیارت؛ د هغه ډیری مخالفینو دا دوه موضوعګانې سره ګډې کړي، خو ډیرو علماؤ چې د نوموړي له کتابونو او آثارو څخه خبر دي له هغه یې دفاع کړې او دا قضیه یې روښانه کړې ده. لکه علامه ابن عابدین شامي رحمه الله چې انصاف یې په پام کې نیولی او وایي: " و ما نسب الی الحافظ ابن تیمیة الحنبلي من أنه یقول بالْنهي عنها فقد قال بعض العلماء إنه لا أصل له، وإنما یقول بالْنهي عن شد الرحال إلی غیر المساجد

(c) ketabton.com: The Digital Library


الثلاث. أما نفس الزيارة فلا يُخالف فيها كزيارة سائر القبور، ومع هذا فقد رد كلامه كثير من العلماء"[1].

يعني:« هغه څه چې حافظ ابن تيميه حنبلی پورې يې نسب شوی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر له زيارت نه منع کړې ده؛ نو ځينې علماء وايي: چې دا نسبت اصل او بنسټ نه لري؛ بلکې له درې ګونو مساجدو پرته بل لور ته سفر ممنوع ګڼلو مګر لکه د نورو قبرونو په څير د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر مطلق زيارت کولو مخالف نه وه؛ سره له دې چې دا خبره يې ډېرې علماؤ رد کړې ده».

همدارنګه علامه انور شاه کشمیری رحمه الله وايي: "اختار ابن تيمية أن السفر لزيارة قبر الْنبي صلى الله عليه وسلم الْمبارك غير جائز بل يريد السفر إلى الْمسجد الْنبوي ثم إذا بلغ الْمدينة يستحب له زيارة الْمبارك، وقال باستحباب زيارة القبور الْملحقة لمكَان لثبوت زيارة الْنبي - صلى الله عليه وسلم - جنة البقيع وغيرها، ولقد أخطأ الْناقلون فِي نقل مذهب ابن تيمية كما قال ابن عدين: إن تيمية يمنع من الارتحال وشد الرحال إلى زيارة القبر الشريف ويُجوز السفر الْمحض للزيارة، ووافق ابن تيمية فِي هذه الْمسألة أربعة من الْمتقدمينْ ومنهم اَلجويني والد إمام الحرمينْ، وابتلي ابن تيمينة بالبلايا والشدائد حينْ

[1] (رد المحتار على الدر المختار، ۲/۶۲۶؛ باب: حرم المدينة و مكة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختيار هذه الْمسألة، وصنف تقي الدين السبكي رسالة فِي رد ابن تيمية وسماها شفاء السقام فِي زيارة خير الأنام وما وجدت فيها شيئا جديدا وطريا وتصدى إلى تقوية الضعاف، ثم صنف ابن عبد الْهادي  فِي الرد على السبكي وسماها الصارم الْمنكي على نحر السبكي وقد أجاد فِي تصنيفه ثم رد ابن علان على ابن عبد الْهادي وسماها الْمبرد الْمبكي على الصارم الْمنكي، وتطرق التصنيف من الطرفيْن، ومذهب جمهور الْأئمة أن زيارة القبر الشريف جائزة ومن أعلى القربات".[1]

يعني:« ابن تیمیه دا نظر غوره کړی دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د قبر پر لور (په مطلق نیت سره) سفر ناجائز دی، د سفر قصد باید د مسجد نبوی په لور وکړای شي او هغه ځای ته تر تګ وروسته مستحب دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر زیارت وشي. همدارنګه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه د بقیع د او نورو  زیارتونو د ثبوت په دلیل، دهغو نورو قبرونو د زیارتونو په مستحب والي هم باور لري چې په دې ځای پورې تړلي دي.

مګر هغه کسان چې د ابن تیمیه نظر او خبرې یې را نقل کړي دي، نو د هغو په نقل کې یې خطاء او تیروتنه کړې ده. لکه هغسې چې ابن عابدین شامي وایي: ابن تمیه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د قبر په لور د سفر قصد (نیت)کول منع کړي دي مګر خالص او پرته

[1] (العرف الشذي شرح سنن الترمذي، ۱/۳۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نيت څخه سفر او زيارت جائز ګڼي. دغه نظر له هغه څخه مخکې ځلور تنو متقدمينو هم درلود، له دې جملې امام الحرمين جويني، وه.

همدارنګه ابن تيميه د خپل دغه نظر په خاطر ځورول شوی هم دی او تقی الدين سبکي د ابن تيميه په رد کې کتاب ليکلی او نوم يې ورته شفاء السقام فِي زيارة خير الأنام ايښی دی، په دې کتاب کې مې څه شی نوي او تازه ونه ليدل خو هڅه يې کړې تر ترڅو ضعيفو رواياتو ته قوت وروبښي. له هغه وروسته ابن عبدالهادی د سبکي په رد کې د الصارم الْمنکي علی نحر السبکي په نوم په ډيره ښه توګه کتاب ليکلی. تر دې ورسته ابن علان د ابن عبد الهادي په رد کې کتاب ليکلی او نوم يې ورته الْمبرد الْمبکي علی الصارم الْمنکي ايښی دی، او دغو تصنيفاتو له دواړو خواو ادامه پيداکړې. د جمهور أئمه و مذهب دا دی چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د شريف قبر زيارت جائز دی او له لوړترينو قرباتو دی».

سره له د علامه کشميری رحمه الله د کلام وروستۍ برخه د نقد وړ ده او بحث به پرې وشي خو د شيخ الاسلام رح په حق کې د نوموړي انصاف د ستاينې وړ دی، دا دی د يو عالم روش، او له دې ځای نه د يو عالم او متعالم[1] توپير ښکاره او څرګنديږي.

[1] (عالم نما)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ الاسلام رح د خپل دغه فکر له امله د مخالفیو او حاقدینو لخوا تر ازار او اذیت لاندې راغلی تر دې چې نوموړی له همدې امله زنداني کړای شو او دا یې وروستی زندان شو چې پکې له دنیا له نه ولاړو. وروسته له دې چې شیخ رح د خپلو مخالفینو او دښمنانو لخوا نه زندان ته ولویدو، ډیرو علماؤ او پوهانو د نوموړي د دې فکر ملاتړ وکړ او له هغه یې دفاع وکړه، له دې ډلې د بغداد علماء ول چې علامه ابن عبدالهادی پرې شرحه لیکلې او د هغوی ملاتړ یې رانقل کړی دی.[1]

د شیخ الاسلام رح مخالفین له هغه سره په کینه او دښمنۍ دومره وړاندې لاړل چې د نوموړي هغه اجتهادي نظر یې هم تکفیر کړ چې له هغه پخوا هم پرې علماء او خلک ولاړ ول او شیخ ابن تیمیه رح یې پر دې متهم کړ چې د رسول الله صلی ال علیه وسلم په شریف مقام کې کمی او تنقیص کړی دی معاذالله،. د کمزورو او پاتې راغلو منطق له تهمت، دروغو او تزویر پرته بل څه نه دی!.

[1] (العقور الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۳۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قبرونو په لور د سفر د قصد کولو یا شد الرحال حکم

شیخ الاسلام رح په دې نظر وه چې فقط د قبرونو د زیارت لپاره د سفر قصد که څه هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مقبره وي، جائز نه دی او که چا د مسجد نبوي په لور د سفر نیت کړی وي بیا ورته دا مستحب ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم، د بقیع هدیرې او او احد د شهیدانو زیارت وکړی. د شیخ رح استدلال پر دې حدیث مبارک دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: "لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام، ومسجد الرسول صلى الله عليه وسلم، ومسجد الْقصَى"[1]

یعني:« پرته له درې مسجدونو څخه بل لور ته د عبادت په نیت د سفر بار نه تړل کیږي، هغه درې مساجد: مسجد حرام، مسجد نبوی، او مسجد اقصی دي،».

د ا حدیث دا روښانه کوي چې له دغو درې مساجدو پرته بل ځای ته د عبادت په نیت د سفر پنډکی تړل منع دي. که څه هم مخالفین وایي: په دې حدیث کې د مسجد کلمه راغلې ده او خبره د مسجد په اړوند ده، نو دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او نورو د قبر له زیارت سره څه اړیکه لري؟بلکه جائز ده چې د قبرونو او او نورو ځایونو په لور سفر وشي لکه چې د علم د طلب لپاره سفر جائز دی.

[1] (صحیح بخاری روایت شماره۱۱۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځواب کې یې باید ووایو:

لومړی: د حدیث سهی مفهوم دا دی چې: د عبادت او تقرب په قصد هیڅ ځای ته د سفر پنډکی نه تړل کیږي او دا (خبره ) یوازې مسجد ته نه ده ځانګړې. دلیل یې دا دی: کله چې د مساجدو پر لور چې د ځمکې پر مخ بهترین ځایونه دی د عبادت په نیت ورته د سفر پنډکی تړل منع شوي وي په نورو ځایونو ته خو په حتمي او اولي ډول سره منع دي.

او دا چې څوک وایي چې هدف یوازې مساجد دي نو یوه ناسمه او نامعقوله خبره یې کړې ده. د ذهن د تقریب(پوهولو) لپاره یو مثال درته وړاندې کوم: په یو ځای یو ښکلی او زړه وړونکی مسجد شتون لري، مګر قبر هلته نسته! د دوی په عقیده دا جواز نه لري چې هغه ځای ته د عبادت لپاره د سفر پنډکی وتړو، ځکه د دې حدیث منظور یوازې مساجد دي، مګر که د مسجد تر څنګ د انبیاؤ یا صالحینو کوم قبر شتون ولري، د دغې ډلې په نظر، سفر کول ورته جواز لري. دا څه ډول منطق دی؟

همدارنګه داسې روایت وجود لري چې د دې حدیث درسته معنا مونږ ته واضح کوي، قزعه وایي: ابن عمر رضی الل عنه ته می وویل: ایا د طور غره ته لاړ سم؟ ابن عمر رضی الله عنهما وویل: "دع الطور ولا تأتها، وقال: لا تشدوا الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد".[1]

[1] (الکتاب المصنف في الأحاديث والآثار- مصنف ابن أبي شيبة، روات شماره ۷۹۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعني:« د طور خوا ته تلل پرېږده او وروسته یې وویل: له درې مسجدونو پرته د عبادت په قصد د سفر بار نه تړل کیږي». نو له دې حدیث نه د ابن عمر رض فهم او برداشت په مساجدو پورې نه وه مختص بلکې هر هغه ځای رانغاړي چې د عبادت او تقرب په نیت ورته سفر کیږي.

دوهم: مګر د قبر په لور سفر په علمي سفر قیاسول، ناسم قیاس دی، ځکه د قبر په زیارت کې ځای او قبر منظور او هدف دي، مګر د علم په سفر کې، غرض او هدف د علم زده کړه ده، نه کوم ځای او یا مکان.باید پر دې پوهه شو چې د شیخ الاسلام رح نظر له د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیث څخه اخیستل شوی او داسې هم نه ده لکه څنګه یې چې د شیخ رح مخالفین نورو ته ښیي، چې ګڼي هغه په دغه فکر کې تفرد کړی (یوازې دی) او مخکې یا وروسته له هغه نه چا داسې څه نه دي ویلي او نه هم پرې عقیده لري.

## ځینې هغه علماء چې له شیخ الاسلام رحمه الله نه مخکې یې د قبرونو په لور سفر منعه کړی دی

له دې جملې نه دا علماء دي: امام مالک رح (متوفای ۱۷۹ه)، ابن بطه العکبري رح الل (متوفای۳۸۷ه)، ابومحمد جوینی رح (متوفای ۴۳۸ه – پلار د ابوالمعالی جوینی)، ابن عقیل (متوفای ۵۱۳)، قاضی عیاض (متوفای۵۴۴ ه)، ابن الأثیر رح .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الإسلام رح د امام مالک رح ،خبره دا ډول رانقلوي: "وسئل مالك عن رجل نذر أن يأتِي قبر النبيْ صلى الله عليه وسلم فقال مالك: إن كَن أراد القبر فلايأته وإن أراد المسجد فليأته. ثم ذكر الحديث {لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد} ذكره القاضِي إسماعيل فِ مبسوطه"[1]

يعنی:« له امام مالک نه پوښتنه وشوه چې يو کس نذر کړی دی تر څو د رسول الله صلی الله عليه وسلم قبر ته راشي(حکم يې څه دی؟) امام مالک ورته وويل: که چيرې يوازې د قبر د زيارت قصد او اراده لري، نو نه دې راځي؛ مگر که چيرې د مسجد اراده لري نو کولی شي، راشي. ورسته تر دې يې په دې حديث استدلال وکړ {لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد} د امام مالک دا قول قاضي اسماعيل پخپل کتاب مبسوط کې ذکر کړی دی».

متأسفانه د قاضي اسماعيل دغه کتاب(المبسوط) تر دې دمه او تر کومه ځايه چې زه پوهيږم، ورک دی او هيله لرم چې په راتلونکې کې يې څوک پيدا او چاپ کړي. والله اعلم، مگر په دې مفهوم د "المدونة" په کتاب کې داسې راغلی دي."ومن قال عَلى المشى إلى بيت المقدس أو إلى المدينة يأتيهما أصلا إلا أن يكون أراد الصلاة فِي مسجديهما فيأتيهما راكبا".[2]

[1] (مجموع الفتاوى١/٣٠۴)

[2] (المدونة١/٥٦٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې:« که ځوک(په ځان نذر وکړي او) ووايي: پر ما لازمه ده چې د بیت المقدس یا مدینې منورې په لوری په خپلو پښو لاړ سم، نو په دې نذر دې وفا نه کوي؛ مگر دا چې یوازې په هغو دوو مساجدو کې یوازې د لمانځه اراده ولري. او کولی شي سپور لاړ شي.»

ابن تیمیه رح د امام مالک رح د کلام په اړه وايي: "ومالك یستحب ما یستحبه سائر العلماء من السفر إلی المدینة والصلاة فِي مسجده وکذلك السلام علیه وعلی صاحبیه عندقبورهم اتباعا لابن عمر. ومالك من أعلم الْناس بهذا لأنه قد رأی التابعینْ الذین رأوا الصحابة بالمدینة ولهذا کَان یستحب اتباع السلف فِ ذلك. ویکره أن یبتدع أحد هناك بدعة".[1]

یعنې:«مالک رح د نورو علماؤ په څیر د مدینې منورې په لور سفر، هلته لمونځ کول، او همدارنگه له ابن عمر رضی الله عنهما نه په پیروۍ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم او دوو یارانو( ابوبکر او عمر رض) ته یې د هغوی د قبرونو مخامخ سلام لیږل، مستحب گڼل. او مالک رح په دې قضیه کې له ډیرو پوهه کسانو وه ځکه تابعین یې لیدل ول او هغوی په

[1] (مجموع الفتاوی۲۷/۳۷۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدينه کې صحابه ليدلي ول. له همدې امله يې له سلفو پيروی ښه ګڼله او دا يې بد ګڼل چې څوک هلته بدعت تر سره کړي.»

ابن بطه العکبري د هغو بدعاتو له جملې چې ذکر کوي يې وايي: "البناء على القبور و تَجصيصنها و شدالرحال إلى زيارتها"[1].

يعني؛« (د بدعاتو له جملې نه) په قبر کوټې جوړول، د هغه ګچ کاري کول او همدارنګه د هغوی د زيارت لپاره د سفر بار تړل دي».

امام نووی رح (متوفای ٦٧٦ه) د ابومحمد جوينی له نظر نه په نقل وايی:« علماء د عبادت په نيت په سفر کولو کې له درې مساجدو پرته نورو کې اختلاف لری لکه د صالحينو قبرونو يا مبارکو ځايونو او نورو اماکنو ته سفرکول. شيخ محمد جوينی چې زمونږ له يارانو(شوافع ) دی هغه يې حرام او ممنوع ګڼلي دي».[2]

امام ابن حجر عسقلاين د "لا تشد الرحال" حديث په شرحه کې د جوينی او قاضی عياض رأيه دا ډول رااخلی: "قال الشيخ أبو محمد ا لجويني: يحرم شد الرحال إلى غيرها؛ عملا بظاهر هذا الحديث. وأشار القاضِي حسينْ إلى اختياره، وبه قال عياض وطائقة".[3]

---

[1] (الشرح و الإبانة في أصول السنة و الديانة و مجانبة المخالفين و مباينة أهل الأهواء المارقين، مشهور به الإبانة الصغرى، ص٢٧٣؛ مسائل شماره ٥٣٥ او ٥٣٥).

[2] (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ٩/١٠٦).

[3] (فتح الباري شرح صحيح البخاري ٣/٦٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« شيخ محمد جويني وايي: ددغه حديث پر ظاهر د عمل له خاطره د عبادت په قصد د سفر بار تړل پرته له درې مساجدو نه حرام دي. او قاضی حسين دې رأی ته اشاره کړې او قياض او يو ډله نور هم په دې فکر او نظر ول».

علامه ابن قدامه مقدسی ر (متوفای ٦٢٠هـ) دقبرونو په لور د شدالرحال په اړوند د ابو الوفاء ابن عقيل حنبلی د نظر په رانقلولو کې وايي "فقال ابن عقيل: لا يباح له الترخص؛ لأنه منهي عن السفر إليها"[1].

يعني:« ابن عقيل وايي: د قبرونو په لور سفر جواز نه لري ځگه چې منعه ورنه شوې ده»

ابن الاثير رح وايي: "(لاتشد الرحال)... والْمراد: لا يقصد موضع من الْمواضع بنية العبادة والتقرب إلى الله تعالى إلا إلى هذه الْاما كن الثلاثة، تعظيما لشأنها وتشرَيفا". [2]

---

[1] (المغني ٢/١٠٠).

[2] (جامع الأصول في أحاديث الرسول ٩/٢٨٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:«له "لاتشدالرحال " نه هدف دا دی چې له دغو درې ګونو ځایونو[1] پرته هیڅ ځای ته د عبادت په نیت قصد او اراده ونشي-د دغو(درې) ځایونو د عزت او شریف مقام لپاره».

علامه نعمان بن محمود آلوسی رح (متوفای ۱۳۱۷ه) وروسته تر دې چې د قبرونو په لور د سفر دحرمت په اړه د ابن تیمیه قول ته لا قوت وربښي وايي: "ونهاية الكلام فيِ هذا الْمقام: أن شيخ الإسلام لم ينفرد بهذا القول الذي شنع به عليه، بل ذهب إليه غيره من الأئمة الأْعلام"[2]

یعني:« یعني په دې باب کې د خبرې لنډیز دا ده چې: شیخ الاسلام پخپل دغه قول کې یوازې نه دی چې مخالفینو يې تر نیوکو لاندې نیولی، بلکې پرته له هغه نه ځیني امامان هم پر دې نظر ول».

[1] (مسجد الحرام، مسجد النبوی و مسجد الأقصی)

[2] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين، ص۵۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځينې هغه علماء چې له شيخ الاسلام رح څخه يې وروسته د قبرونو په لور سفر منع کړی دی.

د بغداد يوه ډله علماؤ په دې برخه کې د د شيخ الاسلام رحمه الله له نظر سره موافقت کړی او دفاع يې ورڅخه کړې ده. علامه ابن عبدالهادي رحمه الله وايي: " وقد وصل ما أجاب به الشيخ فيِ هذه المسألة إلى علماء بغداد فقاموا فيِ الانتصار له وكتبوا بموافقته ورأيت خطوطهم بذلك".[1]

يعني:« کله چې په دې برخه کې د شيخ رحمه الله ځواب د بغداد علماؤ ته ورسيد، نو د هغه مرستې ته يې ودانګل او له نومونړي سره په موافقت او دفاع کې يې مطالب وليکل. (ابن عبدالهادي وايي:) ما دغه ليکنې د هغوي په خپل خط سره ليدلي». تر دې وروسته علامه عبدالهادي رح د دوی ليکنې رانقلوي.

[1] (العقور الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص٣٥٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه امير صنعانى رحمه الله(متوفاى ۱۱۸۲هـ) د "لا تشد الرحال" حديث په شرحه کې وايي:"والحديث دليل على فضيلة المساجد هذه ودل بمفهوم الحصر أنه يحرم شد الرحال لقصد غير الثلاثة كزيارة الصالحينْ أحياء وأمواتا لقصد التقرب ولقصد المواضع الفاضلة لقصد التبرك بها والصلاة فيها وقد ذهب إلى هذا الشيخ أبو محمد ا جويني وبه قال القاضِي عياض وطائفة" [1]

يعني:« داحديث ددې مساجدو پر فضيلت دليل دى او د حصر په مفهوم دلالت کوي چې له دې درې مساجدو پرته بل چيرته د عبادت په قصد سفر، لکه دتقرب(نژديوالي) په قصد د صالحينو زيارت مړه وي او که ژوندي، همدارنگه دتبرک په قصد فاضله ځايونه، اوهلته لمونځ کول ټول حرام او ممنوع دي. او دا هغه نظر دى چې ابو محمد جويني، قاضي عياض او يو ډله نورو درلود.»

شاه ولى الله دهلوى رح د "لا تشد الرحال" حديث په اړه وايي: "أقول: كَان أهل الجاهلية يقصدون مواضع معظمة بزعمهم يزورونها، ويتبركون بها، وفيه من التحريف والفساد ما لا يخفَى فسد الْنبي صلى الله عليه وسلم الفساد لئَلا يلتحق غير الشعائر بالشعائر، ولئَلا يصير ذريعة لعبادة غير الله، والحق عندي أن القبر ومحل عبادة ولي من أولياء الله والطور كُل ذلك سواء فِي الْنهي والله أعلم". [2]

[1] (سبل السلام ۲/۱۷۷)

[2] (حجة الله البالغة ۱/۳۲۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« اهل جاهليت والاوو معظمو ځايونو ته نيت کولو، دهغوی زيارت يې کولو او د هغوی په وړاندې يې تبرک لټولو، او هلته دومره فساد او تحريف شتون درلود چې له هيچا پټ نه وه پاتې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د فسا مخه ډب کړه تر څو شعائر غيرالله له شعائرالله سره ګډ نشي، او د غيرالله د عبادت لپاره وسيله پيدا نشي. نو زما(شاه ولی الله) په نظر حق او رښتيا دا ده چې: قبر، له اولياؤ د کوم ولی د عبادت ځای، او کوه طور ټول په يو رديف کې د نهی او منع په حکم کې شامل دي. والله اعلم».

علامه سيد صديق حسن خان حسينی رحمه الله (متوفای١٣٠٧ ه) وايي: "وأما السفر لغير زيارة القبور -كما تقدم نظائره- فقد ثبت بأدلة صحيحة، ووقع فيِ عصره صلى الله عليه وآله وسلم، وقرره الْنبي عليه السلام؛ فلا سبيل إلى الْمنع منه والْنهي عنه، بخلاف السفر إلى زيارة القبور؛ فإنه لم يقع فيِ زمنه، ولم يقر أحدا من أصحابه، ولم يشر فيِ حديث واحد إلى فعله واختياره، ولم يشرَعه لأْحد من أمته؛ لا قولا، ولا فعلا، وقد كَان رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم يزور أهل البقيع وغيرهم من غير سفر ورحلة إلى قبورهم؛ فسنته التي لا غبار عليها ولا شنار فيها: هي زيارة القبور من دون اختيار سفر لْها، لتذكر الْخرة".[1]

[1] (السراج الوهاج٥ /١١٤-١١٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« له قبرونو پرته سفر په صحیحو دلایلو ثابت شوی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مهال هم پیښ شوی دی، هغه صلی الله علیه وسلم یې پر مشروعیت اقرار کړی او منعه یې ورڅخه نه ده کړې نو ځکه خو یې د ممنوعیت او نهی لپاره لار لار شتون نه لري. مگر د قبرونو په لور سفر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نه دی پیښ شوی، نه یې هم هیڅ کوم صحابي ته په دې کار اقرار کړی، نه یې په هیڅ کوم حدیث کې ورته اشاره کړې او نه یې هیڅ کوم امتی ته دغه کار مشروع گرځولی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم به پرته د سفر له بار ترلو څخه د بقیع د هدیرې اونورو زیارت کاوه، په دې کې هیڅ شک نشته او دا هماغه پرته د سفر له ارادې او د آخرت په یاد راوړلو لپاره د قبرونو زیارت دی.»

علامه نعمان بن محمود آلوسی رح (متوفای ۱۳۱۷ه) وروسته تر دې چې د قبرونو په لور د سفر دحرمت په اړه د ابن تیمیه قول ته لا قوت وربښي وايي: "ونهاية الكلام فِي هذا الْمقام: أن شيخ الإسلام لم ينفرد بهذا القول الذي شنع به عليه، بل ذهب إليه غيره من الْأئمة الْأعلام"[1]

یعني:« یعني په دې باب کې د خبرې لنډیز دا ده چې: شیخ الاسلام پخپل دغه قول کې یوازې نه دی چې مخالفینو یې تر نیوکو لاندې نیولی، بلکې پرته له هغه نه ځیني امامان هم پر دې نظر ول».

---

[1] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين، ص۵۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ابن تیمیه رح پخپل دې نظر کې یوازې نه دی بلکې مخکې او وروسته تر هغه داسې علماء او اسلامي پوهان ول چې دا رأيه او نظر يې درلود.

د مطلب خلاصه دا چې: علماؤ د قبرونو پر لور دسفر د بار تړلو یا شد الرحال په اړوند درې منهجه تر غور لاندې نيولي.

لومړی منهج: مطلقا يې روا بللی او د پيغمبر صلی الله علیه وسلم او نورو قبرونو تر منځ پر کوم توپير نه دي قائل شوي، له دې ډلې علامه ابن قدامه مقدسی، امام نووی او امام ابن حجر؛ دي او کوم دلائل چې دوی يې وړاندې کوي په شدت د نقد وړ دي او غالبا موضوع يا ضعيف دي. او همدارنگه د " لا تشد الرحال" د روایت په اړه يې توجیه هم ضعیفه او منلو وړ نه ده.

دوهم منهج: مطلقا يې ممنوع گڼلی او د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د قبر او نورو صالحینو د قبرونو(پر لور سفر د قصد) تر منځ کوم توپير ته قائل نه دي او ټول ممنوع او حرام گڼي. دا ډله د قبرونو د زیارت اصل روا گڼي خو هغو پر لور د سفر د پنډکي تړلو مخالف دي. له ډلې لکه څنگه چې مخکې مو اقوال ذکر کړل دا دي:امام مالك، ابن بطة، ابن عقیل، ابن اثیر، ابن تیمیه، امام صنعانی رحمهم الله دي.

دريم منهج: د پيامبر صلی الله علیه وسلم د قبر لور سفر يې جائز گڼلی مگر د نورو صالحینو د قبرونو پر لور يې ناسم گڼلی، لکه علامه انور شاه کشمیری رحمه الله چې وايي: "السفر لزيارة قبور الأولياء كما هو معمول أهل العصر لابد من النقل عليه من صاحب الشريعة أو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب الْمذهب أو الْمشائخ، ولا يحوز قياس زيارتها على زيارة القبور الْملحقة بالبلَدة فإنه لا سفر فيها" [1]

يعني:« د اولياؤ د قبرونو په لور سفر چې نن سبا عام شوی دی، بايد د شريعت يا مذهب له ښتن او مشائخو څخه دليل شتون ولري او جائزه نه ده چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د قبر پر لور سفر د نورو قبرونو له زيارت سره چې ښارونو کې موجود دي قياس او پرتله کړای شي. ځکه هغوی ته سفر کول سم نه دي».

لکه څنگه مو چې تيرو پاڼو کې پرې بحث وکړ، په دې کې شک نشته چې دوهم منهج په نصوصو، دلايلو او غښتلو براهينو سره ثابت دی او ابن تيميه رح په دې برخه ډېرې هڅې کړي او ډېرې داسې ليکنې لري چې پکې يې په رښتيا هم د نومړي له درست دريځ، او حق نه دفاع کړې او قناعت ښوونکي دلائل يې وړاندې کړي دي.

[1] (العرف الشذي شرح سنن الترمذي،١/٣٢٨ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شيخ رح له د دغو کتابونو او ليکنو له ډلې د بيلګې په ډول کولی شو لاندې دوو کتابونو ته اشاره وکړو:

لومړی: د "الإخنائيه" او يا "الرد على الإخنائي"؛ کتاب؛ کله چې شيخ الاسلام رحمه الله د شدالرحال په قضيه کې د تقی الدين إخنائی او د هغه د ملګرو په دسيسه زندان ته ولويدو، نو له خپل دريغ او فتوا نه د دفاع لپاره يې دا کتاب وليکلو او هغه څه چې ويلي يې ول په غښتلو دلايلو يې شرحه او واضح کړل[1]، پر دې بحث د لا ډير پوهيدلو لپاره د دې کتاب لوستل ډير مهم دي.

دوهم کتاب: "الجواب الباهر فيِ زوار المقابر"؛ لکه له نامه يې چې ښکاري؛ د قبرونو د زيارت او د سلف رحمهم الله د منهج له مخې د هغه د مفهوم په اړه دی؛ هغه مهم مسائل چې په دې کتاب کې پرې بحث شوی عبارت دي له:

الف: د قبرونو د زيارت حکم. ب:د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبر زيارت. ج: پر نذر د وفاء حکم او څو نور مسائل.

---

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۳۸۴-۸۳۳ او طبقات حنابله۴ /۵۲۸-۵۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته شیخ رحمه الله په نورو کتابونو کې هم په دې قضیه او د مخالفینو د شبهاتو په ځوابولو بحث کړی د دې کتابونو له جملې "قاعدة جليلة فِي التوسل والوسيلة" او همدارنګه د "مجموع الفتاوی" په مختلفو جلدونو خصوصا ۲۷جلد.

د شیخ رح مخالفینو د هغه په حق کې تر ټولو ناوړه ظلم هم روا ګڼلی او هغه یې د خپلې دغې حقې فتوا له امله چې تر هغه پخوا هم ډیر پر دې نظر ول، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې په کمي او تنقیص متهم کړی دی آن تردې چې لکه د خوارجو په څیر یې د هغه د کفر فتوا ورکړې ده.

ابن تیمیه رحمه الله چې د "الصارم المسلول علی ساب الرسول" د کتاب لیکوال دی او په هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په دفاع کې لیکلی، آیا هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وړاندې په بې ادبۍ متهموئ؟

په رښتیا هم تعصب او حسادت ډیرې ناوړه پدیدې دي!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه شبهه: آیا شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله د جهنم د اور په فناء یا له منځه تللو باور درلود؟

تر هر څه وړاندې باید په دې پوهه شو چې سمه او صحیحه دا ده چې چې د جهنم اور له منځه نه ځي او تلپاتې دی. او د ا دعلم د خاوندانو نظر دی لکه څنګه چې ابن حزم رحمه الله پر دې نظر اجماع را نقلوي:

"وأن الْنار حق وأنها دار عذاب أبدا لا تفنى ولا يفنى أهلها أبدا" [1]

يعني:« او (اجماع ده) پر دې چې د جهنم اور حق دی، د تل لپاره د عذاب هستوګنځی دی او له منځه نه ځي او نه دوزخيان له منځه ځي».

[1] (مراتب الإجماع في العبادات والمعاملات والاعتقادات، ص١٧٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا راز وايي: "اتفقت فرق الأمة كلها على أنه لا فناء للجنة ولا لْنعيمها ولا للنار ولا لعذابها"[1] يعني:«ټول امت پر دې اتفاق لري چې جنت او جنتيان له منځه نه ځي او همدا رنګه دوزخ او عذاب يې هم له منځه نه ځي».

مګر ځينې علماء د وزخ اور په وه ډولونو ويشي:

لومړى: د کافرانو لپاره د دوزخ اور

دوهم: د موحدو ګناهګارانو لپاره د دوزخ اور

او وايي: هغه اور چې د کافرانو لپاره دى له منځه نه ځي مګر کوم اور چې د مسلمانانو او موحدينو(ګناهګارانو) لپاره دى له منځه ځي؛ ځکه په پاى کې موحدين له جهنم څخه وځي او جنت ته ځي؛ هغه ځاى خالي کيږي او بلاخره له منځه ځي. خو دا قول د قرآن او د پيغمبر پيغمبر صلى الله عليه وسلم د صحيحو سنت خلاف دى او کوم دلائل چې دوى يې وړاندې کوي له اشکال نه تش نه دي، د جمهورو صحيح قول دا دى چې دوزخ يو دى او توپير يې يوازې د عذاب په درجو کې دى. خو د شيخ الاسلام رح ځينو مخالفينو هم په تېر کې او

[1] ( الفصل في الملل والأهواء والنحل ۴/٦٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اوس پر هغه دا ناروا تور پورې کړی چې ګنې هغه د دوزخ په فناء او له منځه تللو معتقد وه، په داسې حال کې چې کولی شو دا شبهه په څلورو غښتلو او مستدلو طریقو رد کړو:

لومړۍ طریقه: شیخ الاسلام رح په خپلو مصنفاتو او لیکنو کې دغه نظر رد کړی دی له دې جملې نه هغه وايي:"وقد اتفق سلف الأْمة وأئمتها وسائر أهل السنة و الجماعة على أن من المخلوقات ما لا يعدم و لا يفنى بالكلية كالجنة و النار وعرش وغير ذلك. ولم يقل بفناء جميع المخلوقات إلا طائفة من أهل الكلام المبتدعينْ كَلجهم بن صفوان ومن وافقه من المعتزلة ونَحوهموهذا قول باطل يُخالف كتاب الله وسنة رسوله وإجماع سلف الأْمة وأئمتها".[1]

یعني:«ائمهء سلف رحمهم الله او ټول اهل سنت او جماعت پر دې اتفاق لري چې: ځینې له مخلوقاتو څخه له منځه نه ځي لکه: جنت، جهنم، عرش او ځینې نور، او پرته له ځینو کلامي او بدعتي ډلو لکه جهم بن صفوان[2] او له معتزله و هغه کسان چې ورسره یې موافقت

[1] (مجموع الفتاوى ١٨/٣٠٧)
[2] (د جهمیه فرقې ریس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی؛ نور هيڅوک د ټولو مخلوقاتو په له منځه تللو عقيده نه لري. او دا يوه باطله او د قرآن سنت او سلفو امامانو د اجماع خالفه خبره ده.»

همدارنگه وايي:د: "فقال جهم بن صفوان:...وإن جنة والْنار تفنيان ويفنى أهلهما...، وإنهما لا تزالان باقيتينْ، وكذلك أهل جنة لا يزالون فيِ جنة يتنعمون، وأهل الْنار فيِ الْنار يعذبون، ليس لذلك آخر"[1]

يعني:« جهم بن صفوان وايي: (...جنت او دوزخ او څوک چې پکې دي له منځه ځي ...)په داسې حال کې جنت او وزخ له منځه نه ځي، جنتيان به د تل لپاره په جنت کې وي او پر نعمتونو به يې نازول کيږي او دوزخيان به په جهنم کې د تل لپاره وي او تعذيبيږي به؛ او دا حالت پای هم نه لري».

**دوهمه طريقه:** ابن حزم رحمه الله وايي:

"وأن الْنار حق وأنها دار عذاب أبدا لا تفنى ولا يفنى أهلها أبدا"[2]

يعني:« او (اجماع ده) پر دې چې د جهنم اور حق دی، د تل لپاره د عذاب هستوگنځی دی او له منځه نه ځي او نه دوزخيان له منځه ځي».

---

[1] (درء تعارض العقل والنقل ٢/٣٥٨).

[2] (مراتب الإجمال في العبادات والمعاملات والاعتقادات، ص١٧٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شيخ الإسلام رحمه الله د: "نقد مراتب الإجماع" په نوم کتاب لري او په دې کتاب کې يې په دې هکله د اجماع د شتون په اړه د ابن حزم رح له ادعا سره مخالفت کړی مګر د جهنم د نه له منځه تللو په اړه يې سکوت کړی او هيڅ رد يې نه ده پرې کړی چې دا له ابن حزم سره په برحه کې د شيخ رح پر موافقت دلالت کوي.

**دريمه طريقه**: علامه ابن عبدالهادی رحمه الله د شيخ الاسلام رح د ليکنو د معرفي کولو په برخه کې وايي: "وقاعدة فِي الرد على من قال بفناء االجنة والْنار".

يعنی: «او (د شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه د مصنيفاتو له ډلې د)"قاعدة فِي الرد على من قال بفناء الكنة والْنار"[1] او لکه له نامه يې چې ښکاري د جنت او جهنم د له منځه تللو د نظريې په رد کې ليکل شوی. متاسفانه تر کومه ځايه چې زه خوار بنده پوهيږم تر دې مهاله (۱۴۴۳ه) دا کتاب د ورکو له ډلې دی اوهيله لرم يوه ورځ پيدا او د چاپه په ګاڼه سمبال شي.

[1] (العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية، ص۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورمه طريقه: يو شمير علماؤ په صراحت سره د شيخ رح له دريځ نه د تهمت گرانو په وړاندې دفاع کړې او هغه څه چې حق دي روښانه کړي يې دي.

د دې علماو له جملې نه د عراق له خورې مفتي علامه نعمان بن محمود آلوسي رح دی چې وايي: "قد تبينْ لك ممًا نقلناه من الأقوال: أن القول الصحيح، الحرى بالترجيح، هو بقاء الجنة والْنار وساكنيهما من الْخيار والفجار، وإن الشيخ ابن تيمية لم يتبينْ عنه نقل صحيح فيما نسب إليه"[1]

يعني:« د هغو په لړ کې چې نقل مې کړل، تاسو ته څرگند چې سم او د ترجيح وړ قول دا دی چې: جنت او دوزخ او پکې شته کسان که بد وي او که ښه د تل لپاره به پکې وي. او هغه څه چې شيخ ابن تيميه ته منسوب شوي، هيڅ صحيح او سم نقل له هغه څخه په دې اړه نه دی ثبوت شوی». علامه آلوسي له دې خبرې وروسته وايي: فرضا که دا نسبت رښتيا هم وي (چې نه دی) هغه مجتهد وه او ستونزه نه لري.

د بحث لنډيز دا چې: هغه چې تير شول دا ترې ښکاره شوه چې ابن تيمه رح د جهنم په له منځه تللو عقيده نه درلوده بلکې په کتابونو کې يې له دې خبرې سره مخالفت شوی دی.

[1] (جلاء العينين في محاكمة الأحمدين، ص۴۸۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوومه شبهه : آيا شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه الله د عالم په ازلی والي عقیده درلوده؟

د شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه الله مخالفينو پر هغه تهمت تړلی چې ګنې نوموړي د عالم په ازلي والي عقده درلوده او لکه د فلاسفه ؤ په څير وايي: دا عالم قديمي دی او راپيښ شوی نه دی!

ځواب: پرته له شکه چې په شيخ رح پورې دا تړل شوی نسبت ناسم او غلط دی بلکې د فيلوسوفانو د دغې نظريې مخالفت د هغه کتابونو کې ډير ځايونه ليدل کيږي. شيخ الإسلام رح له ډير تفصيل او تشريح سره د پيښنو د تسلسل په جواز او امکان (نه وجوب) باور درلودو خو دا دعالم په قديم والي د عقيدې درلودلو په منا نه ده او همدارنګه دا تسلسل په حوادثو کې دی نه په مؤثراتو کې.

د شيخ الإسلام رح دا خبره د اهل سنت و جماعت له عقيدې څخه اخيستل شوی چې أئمه و رح به د تعالی د صفاتو د اثبات په اړه داسې ويل: "وأن الله يفعل ما يشاء متى شاء، وكيف شاء سبحانه وتعالى"

يعني:« الله تعالی چې هر څه وغواړي، هر کله يې چې اراده وکړي او په هر ډول يې چې وغواړي، تر سره کوي يې».

ښه ده چې په دې ځای کې د حوادثو د تسلسل په اړه د علامه ابن عثيمين رح

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندونې په مختصر ډول بیان کړم ترڅو قضیه لا ښه روښانه شي. شیخ ابن عثیمین رح د تسلسل حوادث په اړه نظر ورکوونکي په څلورو ډلو ویشي.

لومړی ډله: تسلسل په تیر او راتلونکي کې ممنوع اومحال دی، له همدې امله یې د جنت او جنهم په نابودۍ باور لري او دا د جهمیه فرقې فکر دی. د دوی په منځ کې یوه ډله په دې نظر ده چې حرکات له منځه ځي مګر ذوات نه فاني کیږي او موجودات لکه د بت په څیر کیږي، او دا د علاف معتزلی فکر دی چې یو نامعقوله او ګمراه کوونکې خبره ده.

دوهمه ډله: دغه د لومړۍ هغې برعکس وایي: تسلسل په پیل او پای کې وجود لري، خلقت قدیم دی او هیڅ انتهاء نه لري، دوی وایي چې: تر څو چې د حوادثو د تسلسل امکان په راتلونکي کې شتون ولري او جنت او دوزخ تلپاتې وي نو په تېر کې یې هم شتون درلود.

دریمه ډله: دوی وایي: تسلسل په راتلونکي کې واجب دی او په تېر کې غیرممکن دی. دا خبره په دې معنا ده چې په راتلونکي کې دوزخ او جنت له منځه نه ځي، مګر په تېر کې داسې تسلسل ناممکن نه دی. ځکه چې په تېر کې د حوادثو له تسلسل څخه د هغوی قدامت ثابتیږي او دا قدیم والی د الله تعالی د قدیم والي په څېر دی او داسې یو څه شرک دی.

څلورمه ډله: دا ډله وایې: تسلسل په راتلونکي او په هغو ذواتو کې چې شتون لري او یا هغه ذوات په راتلونکي کې به منځته راشي؛ ممکن دی. مګر تسلسل په تېرکې او په ذواتو کې ناممکن او محال دی. دا خبره په دې معنا ده چې:داسې نه دی چې دا ذات همیشه وه او وي به؛ ځکه له دا ډول قول او خبرې څخه د عالم قدیم والی د الله تعالی د قدیم والي په څیر لازم ګرځي چې داسې یوڅه محال او ناممکن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مگر ښکاره ده چې الله تعالی تل پيداکوونکی دی او وي به، او دا چې له اسمانونو او ځمکې پرته نور مخلوقات شتون لري؛ لمونځ گزار پخپل لمانځه کې وايي: "ملء السموات وملء الأْرض وملء ما بينهما وملء ما شئت من شيء بعد".

يعني:«(حمد او ستاينه ده چې) د اسمانونو، ځمکې او د هغوی تر منځ د واټن په ډکولو، او د بل هر هغه شي په ډکولو چې ته يې غواړې».

نو له اسمانونو او عرش څخه مخکې داسې مخلوقات ول چې مونږ پرې نه پوهيږو؛ ځکه الله هميشه پيداکوونکی وه او دی خو دا په دې معنا نه ده چې مفعول(مخلوق) د فاعل(خالق) په څير قديم والی لري او او ازلي دي.

ځکه چې د عاقلانو په اتفاق سره ثابته ده چې مفعول تر خالق وروسته وي. او په کې مفعول د فاعل د فعل نتيجه ده، او د فاعل دغه فعل د هغه لپاره وصف او دحال بيان دی. نو خامخا موصوف له صفت نه مخکې او مفعول ورڅخه وروسته وي. د دې مقولې په اړه لا ډير وضاحت: مونږ مفعول، فعل او همدارنگه فاعل لرو، پرته له شکه مفعول وروسته د فاعل له فعل او فعل وروسته له فاعل څخه وي. نو پر دې اساس د حوادثو پر قديموالي زمونږ له باور څخه دا نه لازميږي چې د الله په څير دې وي او هغه ته دې په وجود کې شريک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا نظريه د حوادثو د تسلسل په اړوند حق ده او شيخ الاسلام رح هم په دې نظر وه؛[1] خو د نوموړي مخالفينو پر هغه نيوکه کړې او ويلي يې دي چې: دا دفلاسفه و خبره ده، مگر دا (ادعا) ناسمه او باطله ده.[2] مگر په دا چې د شيخ رح مخالفين وايي چې: هغه د عالم په قديم والي باور درلود.؛ شک نشته چې دا خبره ناسمه او د هغه څه خلاف ده چې شيخ رح ويلي دي، او ددې خبرې بطلان په درې طريقو سره په اثبات رسوم:

لومړۍ طريقه: مخالفين، بايد د شيخ رح له کتابونو دليل راوړي چې ګنې هغه ويلي: عالم قديم دی. «هاتوا برهانکم إن کنتم صادقينْ!.»

دوهمه طريقه: د شيخ رح په کتابونو کې صريح مطالب وجود لري چې ښيي هغه د دې ادعا مخالف دی، نوموړی وايي: "فإن کُل مفعول فهو محدث، فکل ما سواه مفعول، فهو محدث مسبوق بالعدم".[3]

[1] (لکه څنگه چی شيخ الإسلام رحم هم په مجموع الفتاوی ۱٦/۴۴۴ په دی اړه تفصيل ورکړی)

[2] شرح العقيدة السفاينية - الدرة المضية في عقد أهل الفرقة المرضية، ص۳۱۸-۳۱۵)

[3] (درء تعارض العقل والنقل ۱/۳٦۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:«هر مفعول حادث (دقديم ضد) دى؛ له الله پرته هرڅه مفعول او حادث دي او له وجود مخکې يې شتون نه درلود».

دغه راز وايي:: "فكل ما سوى الرب حادث كَائن بعد أن لم يكن، وهو سبحانه الْمختص بالقدم والْازلية، فليس فِي مفعولاته قديم، وإن قدر أنه لم يزل فاعلا، وليس معه شيء قديم بقدمه، بل ليس فِي الْمفعولات قديم البتة، بل لا قديم إلا هو سبحانه".[1]

يعني:« له الله پرته هر څه حادث او وروسته له هغه منځته راغلي دي چې شتون يې نه درلود، يوازې الله قديم او ازلي دى خو هيڅ يو له مخلوقاتو يې قديم نه دى. او که چيرې فرض شي چې هغه هميشه ترسره کوونکى دى بيا هم هيڅ شى د هغه په څير قديمي نه دي بلکې ټول مخلوقات يې خامخا حادث دي او قديم يوازې الله تعالى دى».

[1] (درء تعارض العقل والنقل ۲۷۳-۱/۲۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو شیخ ابن تیمه رح په پوره صراحت د عالم قدیم والي ردوي او د حادثوالی یې په اثبات رسوي خو بیا هم مخالفین پر هغه تهمت پورې کوي او داسې ناروا نسبتونه په نومړي پورې تړي چې ته وا په رښتیا یې د هغه خبره نه ده درک کړې؟

دریمه طریقه: ډیرو علماؤ له شیخ الاسلام رح څخه دفاع کړې او دا یې څرګنده کړې ده چې دا له تهمت او بهتان پرته بل څه نه دي. له دې جملې علامه نعمان بن محمود آلوسی رح وایي: "ومن جملة ما یبرأ به الشیخ ابن تیمیه عن القول بقدم العالم".[1]

یعني؛« له کوموشیانو چې ابن تیمیه بېزاره دی یو یې د عالم د قدیموالي نظریه ده». تر دې وروسته وایي چې شیخ الاسلام رح هغه کسان چې د عالم په قدیم والي یې عقیده درلوده تکفیر کړي؛ نو بیا څنګه نومړي پخپله دا نظریه منلې ده؟

## ایا پر الله تعالی د قدیم او ازلي اطلاق جائز دی؟

[1] (جلاء العینین في محاکمة الأحمدین، ص ۳۸۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيرې د نوم د اطلاق له مخې وي جائز نه دی، ځکه د الله تعالی نومونه توقيفي دي او د اجتهاد او اشتقاق[1] مجال پکې شتون نه لري خو که چيرې په اخباري ډول د الله تعالی لپاره اطلاق شي نو مجال يې پراخ دی او ځينې علماو جائز ګڼلی ځکه د خبر باب تر اسماؤ پراخ دی لکه هغسې چې علامه ابن قيم رح فرمايي: "ما يطلق عليه فِي باب الْاسماء والصفات توقيفي وما يطلق عليه من الْاخبار لا يُجب أن يكون توقيفا كَلقديم والشيء والْموجود والقائم بنقسه"[2]

يعني:« هغه څه چې له اسماء او صفاتو پر الله تعالی اطلاق کيږي، توقيفي دي او هغه څه چې له اخبار نه پرې اطلاق کيږي لازمه نه ده چې توقيفي دې وي لکه قديم، شَيء، موجود وقائم بنفسه .

نو نشو کولی چې د الله تعالی لپاره د قديم او ازلي تر عنوان لاندې نوم اختراع کړو، ځکه د الله تعالی نومونه توقيفي او هيڅوک يې د کموالي او زياتوالي اجازه نه لري. مګر د خبر په توګه دا چې الله لومړی دی او ورته د قديم دي او د فليسوفانو او کلاميانو له دغو الفاظو څخه لرې و اوسو. په ځانګړې توګه د قديم لفظ چې دوه اړخې معناوې لري او کيدای شي

[1] (له يوې کلمې نه د بلې اخيستل)
[2] (بدائع الفوائد ١/١٧٠).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذم په مفهوم هم اطلاق شي او مراد ورڅخه "قديم نسبى" شي نه "قديم مطلق". (العياذبالله)

شيخ الاسلام ابن تيميه او د اهل سنت و جماعت نور علماء له دې امله چې له اهل کلام او فلاسفه و سره د مناظرو او خبرو اترو په حال کې ول، له دا ډول الفاظو يې استفاده کړې تر څو مخالفين پرې ځواب کړي.

## اتمه شبهه: ايا ابن تيمه رح د اولياؤ له کراماتو منکر وه او د خدای دوستانو ته يې بد رد ويل؟

يو بله مشهوره شبهه چې د ابن تيميه رح د مخالفينو لخوا مطرح کيږي دا ده چې: نوموړی دالله تعالى له اولياؤ سره په دښمنۍ او د هغوی له کراماتو په انکار کولو، متهوي. د کرامت په هکله درې نظرونه شتون لري:

لومړی نظر: کرامت مني او پکې افراط کوي، په داسې ډول چې هر خارق عادت (غيرطبيعي عمل) کرامت ګڼي او د شعبده بازانو (فريب کارانو)، فريب هم کرامت ګڼي.

دوهم نظر: تفريط پکې کوي، کرامت هيڅ نه مني او انکار ترې کوي لکه جهميه او معتزله فرقې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دريم نظر: دا متعدل نظر دی، او كرامت مني مگر يوازې الهي اولياؤ ته يې ثابتوي نه هر دجا او شعبده باز ته؛ چې دا د اهل سنت و جماعت نظر دی.

دې بحث ته تر ورننوتلو مخکې ښه ده چې په لنډه توگه د خوارقو عاداتو په شرحه وغږېږم تر څو موضوع لا ښه روښانه شي.

## خوارق عادات څه شی دي؟

اصل دا دی چې الله تعالی کائنات د ثابتو او حتمي قوانيو پر بنسټ پيدا کړي دي، له همدې امله ده چې اور سوځوونکی، سمندر ډوبوونکی دی او انسان (پرته له وسايلو) هوا ته د الوتلو وړتيا نه لري؛ خو کله هم ځينې کارونه د طبيعت او د کائناتو د معمول عادت پر خلاف منځته راځي، د بيلگې په ډول: اور خپل هميشنۍ عادت تغيروي او سوځول نه کوي او همداسې نورې بيلگې د شيانو د اصلي طبيعت او عادت دې خلاف عمل ته خارق عادت ويل کيږي.

د خوارق عاداتو ډولونه

علماء دې ته په کتو چې خوارق عادت له کومو اشخاصو او افرادو څخه راپيښيږي ؛ هغه په درې ډولونو ويشي: معجزه، کرامت او استدراج. او ځينې نور يې د پېښېدلو د څرنگوالي له مخې په شپږو ډولونو ويشي. دلته په لنډ ډول دغه شپږ ډولونه شرحه او واضح کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی؛ ارهاصات: د ارهاص جمع ده چې د اماده باش اوسیدلو په معنا ده؛ او په اصطلاح کې هغو خارق العاده پیښو ته ویل کیږي چې معمولا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ظهور او زیږیدنې سره یوځای منځته راغلې وي. له ارهاس څخه هدف، په راتلونکي کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوت د ادعا د منلو لپاره د خلکو ذهني اماده کول دي، لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له نبوت مخکې د اصحاب فیل پېښه یا هم په ماشومتوب کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د شق صدر پېښه.

دوهم؛ معجزه: په لغت کې د هغه خارق العاده کار په معنا ده چې نور یې له بیلګې او مثال راوړلو څخه ناتوانه کړي. او په اصطلاح کې له هغه خارق العده کار څخه عبارت دې چې الله تعالی یې د خپلو انبیاؤ په واسطه جاري کوي تر څو د هغوی د نبوت پر رښتینوالي دلیل شي، دښمنانان یې وننګوي او د هغه کار له بیلګې او مثال له راوړلو یې عاجز کړي. لکه قرآن کریم پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم، د موسی علیه اسلام لکړه، اود مور ذاتي ړوند رغول د عیسی علیه السلام لپاره. ارصاهات او معجزې د انبیاؤ له ځانګړنو دي او په دې کار کې له هغوی سره څوک شریک او ملګری نشته.

دریم؛ کرامات: د کرامت جمع ده او د نورو د عزت او درناوي په معنا ده، د پستوالي او سپکوالي ضد ده. او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت ده چې له اولیاؤ او صالحو بندګانو څخه صادریږي. په دې مورد به لا ډیر وضاحت ورکړو إن شاء الله.

ارهاصات، معجزه او کرامت کسبي نه دي بلکې له انبیاؤ او اولیاؤ څخه چې هر چاته د الله تعالی خوښه شي ورکوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلورم سحر او جادو: سحر په لغت کې هغه څه ته ویل کیږي چې سبب یې پټ او پوښلی وي او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې له فاسق او کافر انسان څخه د شیطاني او کفري اورادو په ویلو سره صادریږي تر څو یې په فسق او کفر کې لا زیاتوالي راشي. سحر او جادو مختلف ډولونه او انواع لري چې دلته یې د بحث لپاره مجال نشته.

پنځم، استدراج: په لغت کې د انجام یا تدریجې نږدې کیدلو په معنا ده او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې له فاسق او گمراه انسان څخه سر وهي او هغه تدریجا الهي عذاب ته ورنږدې کوي. استدراج ته املاء او امهتال هم ویل کیږي. له استدراج څخه هدف دا دی چې الله تعالی جسور او نافرمانه گنهگاران ژر په عذاب او عقاب نه گرفتاروي بلکې د نعمتونو دروازې پرې راپرانیزې چې دغه د نعمتونو پراخوالی هغوی د غفلت له خوب څخه راویښوي او هدایت یې په برخه کیږي او یا هم دا چې د هغوی غرور لا پسې ډیروي او عاقبت یې ورته لا سختوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن عقبة بن عامر وايي نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: " إذا رأيت الله يعطي العبد من الدنيا على معاصيه، فإنما ذلك استدراج له " ثم تلا رسول الله صلى الله عليه وسلم: {فلما نسوا ما ذكروا... الى: والحمدلله ربالعالمين}"[1]

يعني:« هركله دې چې وليدل الله تعالى يو گنهگار بنده په نعمتونو کې پراخوالى راوستلى دى. نو دا ورته استدراج دى تر دې وروسته رسول الله ص د خپلې خبرې د اثبات لپاره لاندې آيت تلاوت کړ:ژباړه " بيا کله چې هغوى هغه نصيحت هېر کړ چې ورته شوى ؤ، نو موږ د هر ډول سوکالۍ دروازې د هغو لپاره پرانيستې. تر دې پورې چې کله هغوى په هغو نعمتونو کښې چې وربښل شوي ول، ښه ډوب شول. نو موږ په ناڅاپي ډول هغوى ونيول او په دې وخت کښې د هغو دا حالت ؤ چې له هرې ښېگڼې څخه ناهيلي ول. په دې توگه د هغو خلکو ستېه ويستله شوه چې ظلم يې کړى ؤ. او ثنا، ستاينه د کائيناتو د پالونکي لپاره ده"»[2].

[1] (مسند احمد روايت شماره ۱۷۳۱۱، معجم الكبير ۱۷/۳۳۰، معجم الأوسط روايت شماره۹۲۷۲ ، او شيخ البانى رح دا روايت په "سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها" ۱/۷۷۳روايت شماره ۴۱۳ سره صحيح گڼلى)

[2] . (سوره انعام ايت ۴۴-۳۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپږم؛اهانت: په لغت کې د چا د سپک ګڼلو په معنا ده، او په اصطلاح کې له هغه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې د دنبوت د درواغجن مدعې په لاس او د هغه څه خلاف چې هغه یې غواړي راپېښ شي. لکه هغه څه چې مسلمه کذاب ته ورپېښ شول چې غوښتل یې ځان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په څیر کړي. علامزه امام ابن کثیر رح داسې نقل کوي: "بصق فِي بئر فغزر ماؤه، فبصق فِي بئر فغاض ماؤاه بالكَلية: وفِي أخرى فصار ماؤه أجاجا، وتوضأ وسقى بوضوئه نخلا فيبست وهلكت... ويقال: إنه دعا لرجل أصابه وجع فِي عينيه فمسحهما فعمى"[1]

یعني:«یوه ورځ یې په څاه کې د خولې لاړې واچولې، او اوبه یې وچې شولې، په بله څاه کې یې د خولې لاړې واچولې، د هغې اوبه تروشې شولې، د اوداسه اوبه یې د خرما تر ونې لاندې تیرې شوې نو هغه ونه له منځه لاړه، او ویل کیږي چې هغه د یو کس پر سترګو چې درد یې کولو لاس تیر کړ نو سترګې یې ړندې شوې».

دغه اهانت د درواغجن پیغمبر د پیروانو د بیدارۍ او همدارنګه د نورو په وړاندې د هغه د ذلت او خوارولو لپاره، پیښیږي.

---

[1] (البداية و النهاية ٦/٣٢٧).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اولیاؤ د کرامت په اړه د ابن تیمیه رح نظر

د دې لپاره چې اصلي بحث ته ورننوځو، د اولیاو د کرامت په اړه د شیخ الاسلام ابن تیمیه رح نظر را اخلو. شیخ رحمه الله وایي: "ومن أصول أهل السنة: التصديق بكرامات اولياء.وما يُجرى الله على أيديهم؛ من خوارق العادات، فيِ: أنواع العلوم والمكَاشفات وأنواع القدرة والتأثيرات وكالمأثور عن سالف الاْمم، فيِ سورة الكهف وغيرها وعن صدر هذه الأْمة من الصحابة والتابعينْ وسائر قرون الاْمة و هى موجودة فيها إ لى يوم القيامة"[1]

یعني:« د اهل سنت و جماعت د عقیدې له اصولو او اساساتو څخه د اولیاؤ د کراماتو تصدیق دی. او کرامت هغه دی چې الله تعالی د خپلو دوستانو په لاس خارق العاده کارونه صادروی لکه د علومو انواع، مکشوفات، د قدرت انواع او تاثیرات، لکه هغه څه چې له تیرو امتونو نه په سورت کهف او نورو سورتونو کې چې راغلي او ددې امت له پیله له صحابه و ،تابعینو او د امت له نورو ډلو صادر شوی دی. او دا د امت په منځ کې د قیامت تر ورځې شتون لري».

پام مو شو چې شیخ رح د اولیاؤ د کراماتو مخالف نه دی بلکې د اهل سنت و جماعت له باوري اصولو او اساساتو یې ګڼي؟

[1] . (العقيدة الواسطية، ص٢٨-٢٧).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ولې د امام ابن تيميه رح مخالفين پر هغه پسې دغه ډول تهمت تړي؟

دې پوښتنو ته په ځواب کې د درې احتمالونو تصور کيږي:

لومړی: ممکن دوی د شيخ ابن تيميه رح له کتابونو ناخبره او جاهل وي او د شيخ رح په وړاندې د هغه د مخالفينو د تبليغاتو تر اغيز لاندې راغلي وي.

دوهم: احتمال لري چې له اولياؤ د خپل ناسم تعريف له مخې وي.

دريم: ممکن له کرامت څخه ناسم او د واقعيت خلاف تعريف ولري.

ښه ده چې دغه درې احتماله لږ شرحه کړو:

لومړی احتمال: متاسفانه ځينې خلک له داسې يو څه او چا سره دښمني کوي چې له خپلې ژبې يې نه پيژني. لکه هغسې چې علی رضی الله عنه ته منسوبه خبره چې هغه فرمايي: "الْناس أعداء ما جهلوا".[1]

[1] (الإعجاز والإيجاز ۱/۳۴ و نهج البلاغه حکمت ۱۷۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني:« خلک د هغه څه دښمنان دي چې پرې جاهل دي.». او یا هم د دوی ځینې همیشنې عادتونه دي چې هغه څه چې اوري پرته له څېړنې او تحقیق نه پرې قضاوت کوي او حکم پرې صادروي؛ دا د قرآن او سنت خلاف عادت دی او پرته له شکه له اصیلو اسلامي اخلاقو سره په تضاد کې دی.

الله تعالی فرمايي:{ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ}[1]

ژباړه: اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: "بحسب المرء من الکذب أن یحدث بکل ما سمع"[2]

یعني:« دیو شخص د دروغګویۍ لپاره دا کافي ده چې هر څه یې اوریدلي وي (نو خلکو ته یې) وایي». نو ددغه ډول کسانو د درد دوا مطالعه او تحقیق دی. ترڅو پرته له پوهې د هیڅ کس په ځانګړې توګه د شیخ الاسلام ابن تیمیه رح په څېر جلیل قدر عالم په اړوند بې ادبي او ګستاخي ونه کړي.

[1] (سوره حجرات ایت٦).

[2] (صحیح مسلم روایت شماره٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د علماو غوښه مسمومه(زهرلرونکې) ده او هر څوک يې چې وخوري په دنيا او آخرت کې تبا او برباد شي.

دوهم احتمال: په دې کې شک نشته چې د الله تعالی له دوستانو سره دښمني ډيره خطرناکه ده تر کومه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له الله متعال نه روايت کوي چې (حديث قدسی) الله جل جلاله فرمايی: من عادي لي وليا فقد آذنته بالحرب"[1]

يعني:« هر څوک چې زما له دوستانو سره دښمني وکړی زه د هغه پر وړاندې د جنګ اعلان کوم».

مګر اساي مشکل دا دی چې يو ډير شمير خلک هر فريبکار، ګمراه او دجال د الله ولي ګڼي او د خدای له دوستانو يې شميري. او د دوی دغه غلط فهمي ددې سبب ګرځي چې که هرڅوک له دغه دجال سره مخالفت وکړي نو هغه د اولياء الله دښمن نوموي او ورسره عداوت او دښمني کوي.

الله تعالی د خپلو اولياؤ او دوستانو ځينې صفات دا ډول بيانوي:{أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ~الَّذِينَ ءَامَنُوا وَكَانُوا يَتَّقون}[2]

[1] ( صحيح بخاری روايت۶۵۰۲)

[2] (سوره يونس آيات۶۲-۶۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:« واورئ! څوك چي د الله دوستان دي، پر هغو کومه وېره نشته؛ او غمجن کيږي نه. هغوی چي ايمان يې راوړي دی او د پرهېزگارۍ کړنلاره يې غوره کړېده.»

هوکې! په دې مبارکو اياتونو کې د اولياؤ لپاره دوه صفتونه بيان شوي دي، ايمان او تقوا؛ نو د دې دواړو په شتون سره هر متقی مسلمان د الله دوست دی.

نو هغه څوک چې دين او شريعت ته پابندې ونه لري او حتی د جماعت لمونځ يې پرته له ضرورت څخه ترک کړی وي، د جمعې او نور لمونځونه يې پرايښي وي، نو څنگه کيدای شي چې د خدای دوست شي؟

هغه څوک چې حلال او حرامو ته پاملرنه نه کوي او هر څه يې چې مخې ته راځي له ستوني يې تيروي، څنگه ممکنه ده چې د الله دوست دې وي؟ او يا هم د زرگونه فسق او فجور مرتکب شوی وي، مگر بيا يې د الله ولي نوموي، له ټولو فجائعو يې سترگې پټوي او هر څوک چې له هغه سره مخالفت وکړي نو د الله د دوستانو د دښمنۍ ټاپه يې پر تندي ور وهي.

يقينا شيخ ابن تيميه رح يا بل هر څوک چې يوازې د يونس سورې په همدې آيتونو باندې وپوهيږي؛ نو دغه ډول دجال به د الله دوستان ونه گڼي بلکې د شيطان دوستان به يې وشميري.

دريم احتمال: يوه ډله خلک هر خارق عادت کرامت نوموي، او ترسه کوونکی يې ولی گڼي چې دا يوه ښکاره او څرگنده غلط فهمي ده او ددې سوء تفاهم د له منځه وړلو لپاره مې ددې مبحث په پيل کې د خوارق عاداتو ډولونه بيان کړل، تر څو ستاسو په ياد وي چې هر خارق عادت، کرامت نه دی او کرامت هغه خارق عادت چې د الله د يو ولي په لاس پيښ

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي، او هدف ورځخه کیدای شي دا اسباب وي: یاري، د دغه شخص تثبیت او تشویق، یاهم د الله د دین نصرت.

خورقو عاداتو ته د اشارې په لړ کې وپوهیدو چې کرامت له تقوالرونکو، صالحو او پرهیزګاره بندګانو څخه صادریږي مګر که په چا کې دا غوره صفتونه نه وي، فاسق او شریعت څخه لرې انسان وي نو یقینا دغه خارق العاده پېښه به کرامت نه بلکې کیدای شي شیطاني استدراج به وي.

البته دا باید روښانه کړم داسې نه دی چې هر ولي د کرامت څښتن دی بلکې کرامت د یوې تحفې او ځینو هغو عواملو له امله چې وړاندې مو یاد کړل، ولي ته ورکول کیږي. له یو چا څخه د خارق العاده کار پیښیدل د هغه په ښه والي او صلاح دلالت نه کوي تر څو ورته د خدای ولي وویل شي او کار کرامت وګڼل شي؛ بلکې د هغه کس کړنو ته ګورو چې که چیري ظاهرا صالح او د شریعت پابند وه او دا کار یې د کرامت په توګه شمیرو؛ له دې پرته له ستر دجال نه هم ځینې خارق العاده کارونه صادریږي چې هیڅکله دا د هغه پر صدق او ښه والي دلالت نه کوي هغه لا ښه راپیژني چې دجال دی.

## ځینې هغه خارق العاده کارونه چې دجال یې تر سره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله د دجال د سرعت په اړه فرمايي: "كالغيث استدبرته الريح"[1] يعني:«د هغې ورېځې په څير دی چې باد يې په خوځښت راولي.» همدارنګه د ځينو نورو كارونو په اړه يې وايي: "فيأتي على القوم فيدعوهم، فيؤمنون به ويستجيبون له. فيأمر السماء فتمطر. والأرض فتنبت. فتروح عليهم سارحتهم، أطول ما كانت ذرا، وأسبغه ضروعا، وأمده خواصر. ثم يأتي القوم. فيدعوهم فيردون عليه قوله. فينصرف عنهم. فيصبحون ممحلين ليس بأيديهم شيء من أموالهم. ويمر بالخربة فيقول لها: أخرجي كنوزك. فتتبعه كنوزها كيعاسيب النحل. ثم يدعو رجلا ممتلئا شبابا. فيضربه بالسيف فيقطعه جزلتين رمية الغرض ثم يدعوه فيقبل ويتهلل وجهه. يضحك."[2]

يعني:«(دجال) د يوې طائفې خواته ورځي او هغوی د خپل ځان خواته دعوتوي، هغوی پرې ايمان راوړي او دعوت يې مني، بيا اسمان ته امر كوي او باران وري، بيا ځمكې ته امر كوي او هغه راشنه كيږي، او د هغه قوم څاروي چې په څريدلو کې دی په داسې حال کې د هغوی مخ ته راځي چې شاوې او لګنونه يې تر پخوا غټ او غښتلي شوي دي(چاغ شوي دي) او پی يې له شيدو ډکې دي. وروسته تر دې د بل قوم خواته ورځي خپل ځان ته يې دعوتوي خو هغوی يې دعوت نه مني او ترې منصرف كيږي، بيرته راګرځي او هغه قوم له وچ

[1] (صحيح مسلم روايت شماره۲۹۳۷)
[2] (صحيح مسلم روايت شماره۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاليو سره مخ کيږي او ټولې شتمنۍ يې له منځه ځي، او بيا دجال په يوه ويجاړه تيريږي او هغې ويرانې او کنډوالې ته خطاب کوي: خزانې دې دباندې راوباسه! او په هغه ځمکه کې پټې خزانې داسې هغه ته راوځي لکه مچۍ چې خپله ملکه پسې ځي. وروسته يو تندرسته ځوان سړی دعوتوي، او هغه په توره وهي او لکه د هدف په لور د غشي د وارولو په څير يې په سرعت په منځ کې دوه ټوټې کوي او وروسته يې بيرته خپل لور ته ور بلي او هغه په داسې حال کې چې وجود يې ځليږي او خاندي(ژوندۍ کيږی) او د هغه خواته راځي.».

دجال په دې کارونو سره د الله ولی نه دی! بلکې د الله دښمن دی او دا کارونه يې د استدراج په توګه او همدارنګه د بندګانو د ايمان او بې ايمانۍ د ازمويلو لپاره دي. نو اصل تقوا او پرهيزګاري ده نه خارق العاده کارونه.

يونس بن عبد الأعلى صدفی رح وايی: امام شافعی رح ته مې وويل : "إن صاحبنا الليث كَان يقول: إذا رأيتم الرجل يمشي على الماء فلا تعتبروا به حتَّى تعرضوا أمره على الكتاب والسنة؟ فقال الشافعِي: قصر الليث رح بل ذا رأيتم الرجل يمشي على الماء، ويطير فِي الهواء، فلا تعتبروا به حتَّى تعرضوا أمره على الكتاب والسنة"[1]

[1] (شرح العقيدة الطحاوية لابن ابی العز ۲/۷٦۹ ، ځينې علماء ددی روايت سند له امام شافعی نه ضعيف ګڼلی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:« زمونږ ليث رحمه الله ويل: که مو څوک وليدل چې د اوبو پر مخ ځي، نو تر هغو مه پرې دوکه کيږئ څو چې وينئ د کتاب او سنت پابند دی او کنه؟ امام شافعي رح وفرمايل: ليث رح تقير کړی بلکې که مو څوک وليدل چې د اوبو پر مخ ځي، يا په هوا کې الوځي (پرته له وسيلې نه) نو تر هغو ارزښت مه ورکوئ څو چې وينئ د کتاب او سنت پابند دی او کنه؟».

بايزيد بسطامی وايي: "لو نظرتم إلى رجل أعطي من الكرامات حتَّى يرفع فيِ

الهواء فلا تغتروا به حتَّى تنظروا كيف تَجدونه عند الْأمر والْنهي وحفظ الحدود وأداء الشرَيعة".[1]

يعني:« که مو څوک وليدل چې کرامات ورته ورکړای شوي دی تر دې چې په هوا کې پرواز کوي نو فريب يې مه خورئ تر څو چې ووينې رويه يې له امر او نهی، د حدود ساتنې او د شرعي اعمالو ترس ره کولو کې څنگه ده».

همدارنگه وايي : "الذي يمشي على الْماء ليس بعجب لله خلق كثير يمشون على الْماء ليس لْهم عند الله قيمة».[2]

[1] (حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۱۰/۴۰).

[2] (حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۱۰/۳۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني: هغه چې د اوبو پر مخ ځي کوم د حيرانتيا وړ کار يې نه ده کړی، الله تعالی ډېر داسې مخلوقات لري چې د اوبو پر مخ ځي او د الله تعالی په وړاندې هيڅ ازښت نه لري».

شيخ الاسلام رحمه الله د الهي اولياؤ ريښتوني کرامات مني مگر دجل کاري، شعبده بازي، سحر، جادو او شيطاني اعمالو ته مخه کول استدراج گڼي او ورسره مخالف دی.

شيخ الإسلام رحمه الله د "الفرقان بينْ أولياء الرحمن و أولياء الشيطان" تر نامه لاندې کتاب ليکلی او په دې کتاب کې يې هڅه کړې تر څو د شرعي نصوصو له مخې د الله د دوستانو او د شيطان د دوستانو تر منځ توپير روښانه کړي او هم يې دا ټاپه زمونږ له لاسه اخيستې تر څو په هر کس، ناکس د ولی الله يا د خدای د دوست نسبت ونه تړو. همدارنگه دا کتاب له جهميه، معتزله او حتی اشاعره -نه پر ټولو- څخه پر ځينو بدعتيانو رد دی چې د شرعي او حقيقي اولياؤ له کراماتو څخه انکار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاتمه

الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات،وبفضله تتنزل الْخيرات والبركات وبتوفيقه تتحق المقاصد والغايات.

د الله تعالی شکر ادا کوم چې د دې توفيق يې راکړ تر څو وکړای شم چې قلم را پورته کړم او پر دې مهمه او بنستيزه موضوع چې د اسلام د تاريخ د ستر ميړني شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله پر ژوند بحث دی؛ ليکنه وکړم. هڅه مې کړې چې خطاګانې مې په دې ليکنه کې کمې وي مګر يقين لرم دا چې انسان کمزوری او ناتوانه دی نو په همدې اساس زما کار هم له خطا او تيروتنې پاک نه دی. نو بناء زما غوښتنه له ټولو د علم او قلم له څښتنو څخه دا ده چې که چيرې يې املايي يا هم علمي خطا په دې کتاب کې وليدله نو خامخا دې ماته را په ګوته کړي تر څو په بل چاپ کې پرې له سره غور وشي.

او په پای کې ځانګړې مننه کوم له ډاکټر صاحب مبارز او همدارنګه ډاکټر صاحب حازم حفظهماالله څخه چې کتاب يې مطالعه کړ او د دې رسالې د لا ښه والي لپاره يې ځينې نظريات وړاندې او تقريظ يې پرې وليکلو. همدارنګه له هغو عزيزانو څخه مننه کوم چې زحمت يې وويستو او ځينې ټايپي غلطۍ يې اصلاح کړې او په دې برخه کې يې له ما سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکاري وکړه. همدارنګه مننه کوم د عاصم له انتشاراتو څخه چې د کتاب د چاپړلو زحمت يې وزغملو او همدارنګه مننه کوم له درنو خيرينو څخه چې هر يوه د کتاب د چاپ يوه برخه لګښت په غاړه واخيستلو. الله تعالی دې ټولو عزيزانو او د کتاب ليکوال،او درانه لوستونکي ته عظيم اجر او د حق په لاره کې ثبات ور په برخه کړي. آمين

عبدالرحمن فاتح

AB.RAHMANFATEH@GMAIL.COM

## د منابعو فهرست

•القرآن الكريم

• الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه= صحيح البخاري؛ المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤار عبد الباقي)، الطبعة: الأولى، ۱۴۲۲ه.

• المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسو الله صلى الله عليه وسلم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



المؤلف: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيشابوري (المتوفى٢٦١هـ)، المحقق: محمد فؤار عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

• سنن أبي داود؛ المؤلف: أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني (المتوفى: ه٢٧٥)، المحقق: محمد محي الدين عبد الحميد، الناشر: المكتبة العصرية، صيدا – بيروت.

• مسند الإمام أحمد بن حنبل؛ المؤلف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلا ل بن أسد الشيباني (المتوفى: ٢٤١هـ)، المحقق: شيعيب الأر نؤوط - عيار مرشد، وآخرون، إشراف: ر عبد اللع بن عبد المحسن التركي، الناشير: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الأولى، ه١٤٢١ - ٢٠٠١ م.

• المعجم الأوسط؛ المؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ه٣٦٠)، المحقق: طارق بن عوض الله بن محمد , عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، الناشر: دار الحرمين – القاهرة.

•المعجم الكبير؛ المؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى:ه٣٦٠ )، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، دار النشر: مكتبية ابن تيمية – القاهرة، الطبعة: الثانية.

• فتح الباري شرح صحيح البخاري؛ المؤليف: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، الناشر: دار المعرفة - بيروت، ١٣٧٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج؛ المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيي بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ)، الناشر: دار إحياء التيراث العربي – بيروت، الطبعة: الثانية، ١٣٩٢هـ.

• السراج الوهاج من كشف مطالب صحيح مسلم بن الحجاج، المؤلف: صديق حسن خان حققه و عنى بطبعه خادم العلم عبدالله بن ابراهيم الأنصاري، طبع على نفقة الشؤن الدينية بدولة قطر.

•سبل السلام؛ المؤلف : محمد بن إسماعيل الأمير الكحلانى الصنعاني (المتوفى ١١٨٢هـ)، الناشر : مكتبة مصطفى البابي الحلبي، الطبعة : الرابعة ١٣٧٩هـ/ ١٨٦٠م.

• الثقات؛ المؤلف: محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن معبد، التميمي، أبو حاتم الدارمي، البستي (المتوفى: ٣٥٤هـ)، طبع بإعانة: وزارة المعارف للحكومة العالية الهندية، تحت مراقبة: الدكتور محمد عبد المعيد خان مدير دائرة المعارف العثمانية، الناشر: دائرة المعارف العثمانية بحيدر اباد الدكن الهند، الطبعة: الأولى، ١٣٩٣هـ = ١٩٧٣م.

•الأسماء والصفات للبيهقي؛ المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسروجردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى:٤٥٨هـ)، حققه وخرج أحاديثه وعلق عليه: عبد الله بن محمد الحاشدي، قدم له: فضيلة الشيخ مقبل بن هادي الوادعي، الناشر: مكتبة السوادي، جدة - المملكة العربية السعودية، الطبعة: الأولى، ١٤١٣هـ -١٩٩٣ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• تاريخ بغداد؛ المؤلف: أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب البغدادي (المتوفى: ٤٦٣هـ)، المحقق: الدكتور بشار عواد معروف، الناشر: دار الغيرب الإسلامي – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠٢ م.

• المنتخب من علل الخلال (ومعه تتمة)؛ المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمدبن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ)، تحقيق: أبي معاذ طارق بن عوض الله بن محمد، الناشر: دار الراية للنشر والتوزيع.

• ميزان الاعتدال في نقد الرجال ؛ المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي (المتوفى: ٧٤٨)، تحقيق: علي محمد البجاوي، الناشير: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٣٨٢هـ - ١٩٦٣ م.

• اللآلىء المصنوعة في الأحاديث الموضوعة؛ المؤلف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: ٩١١هـ)، المحقيق: أبو عبد الرحمن صلاح بن محمد بن عويضة، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤١٧هـ- ١٩٩٦م.

• كشف الخفاء ومزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس؛ المؤلف إسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي (المتيوفى: ١١٦٢هـ)، الناشر: مكتبة القدسيي، لصاحبها حسام الدين القدسي – القاهرة، عام النشر: ١٣٥١.

• الفوائد المجموعة في الأحاديث الموضوعة؛ المؤلف: محمد بن علي بن محمد الشوكاني (المتوفى: ١٢٥٠هـ)، المحقق: عبد الرحمن بن يحي المعلمي اليماني، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة وأثرها السيئ في الأمة؛ المؤلف: أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي بن ادم، الأشقودري الألباني (المتوفى: ١٤٢٠هـ)، دار النشر: دار المعارف، الرياض - المملكة العربية السعورية، الطبعة: الأولى، ١٤١٢هـ / ١٩٩٢م.

• التنكيل بما في تأنيب الكوثري من الأباطيل؛ المؤلف: عبد الرحمن بن يحيى بن علي بن محمد المعلمي العتمي اليماني (المتوفى: ١٣٨٦هـ)، مع تخريجات وتعليقات: محمد ناصر الدين الألباني - زهير الشاويش - عبد الرزاق حمزة، الناشير: المكتب الإسلامي، الطبعة: الثانية، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٦ م.

•العقود الدرية من مناقب شيخ الإسلام أحمد بن تيمية؛ المؤلف: شمس الدين محمد بن أحمد بن عبد الهادي بن يوسف الدمشقي الحنبلي (المتوفى: ٧٤٤ه)، المحقيق: محمد حامد الفقي، الناشر: دار الكاتب العربي – بيروت.

• البداية والنهاية؛ المؤلف: أبو الفداء إسيماعيل بن عمير بن كثير القرشيي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ٧٤٤ه)، الناشر: دار الوكر، عام النشر: ١٤٠١ ه - ١٩٨٦ م.

• الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة: المؤلف: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: ٨٥٢ه)، المحقق: مراقبة / محمد عبد المعيد ضان، الناشر: مجلس دائرة المعارف العثمانية - صدر اباد/ الهند، الطبعة: الثانية، ١٣٩٢ه/ ١٩٨٦م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



•رد المحتار على الدر المختار؛ المؤلف: ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبيد العزيزعابدين الدمشقي الحنوي (المتوفى: ١٢٥٢ه)، الناشر: دار الوكر-بيروت، الطبعة: الثاية، ١٤١٢ه - ١٩٩٢م.

• العرف الشذي شرح سنن الترمذي؛ المؤلف: محمد أنور شاه بن معظم شياه الكشميري الهندي (المتوفى: ١٣٥٣ه)، تصحيح: الشيخ محمود شاكر، الناشر: دار التراث العربي – بيروت، لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٥٢ه - ٢٠٠٤ م.

•تاريخ إربل؛ المؤلف: المبارك بن أحمد بن المبارك بن موهوب اللخميي الإربلي

المعروف بابن المستوفي (المتوفى: ٦٣٧ه)، المحقق: سامي بن سيد خماس الصقار، الناشر: وزارة الثقافة والإعلام، دار الرشيد للشر، العراق؛ عام النشر: ١٩٨٠ م.

• معجم البلدان؛ المؤلف: شهاب الدين أبو عبد الله ياقوت بن عبدالله الرومي الحميوي (المتوفى: ٦٢٦ه)، الناشر: دار صارر، بيروت، الطبعة: الثانية، ١٩٩٥م.

•ذيل طبقال الحنابلة؛ المؤلف: زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بى رجب بى الحسين السلامي، البغدادي، ثم الدمشقي، الحنبلي (المتوفى: ٧٩٥ه)، المحقق: د عبد الرحمن بن سليمان العثيمين، الناشر: مكتبة العبيكان – الرياض الطبعة: الأولى، ١٤٢٥ ه - ١٩٩٥ م.

• الوابل الصيب من الكلم الطيب؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سيعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١ه)، تحقيق: سيد إبيراهم، الناشر: دار الحديث – القاهرة، رقم الطبعة: الثالثة، ١٩٩٩ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح؛ المؤلف: علي بن )سلطان( محمد، أبو الحسن نورالدين الملا الهروي القيادي (المتيوفى: ١٠١٤هى)، الناشر: دارالفكر، ببيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢ه - ٢٠٠٢م.
- إعلام الموقعين عن رب العالمين؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سيعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١ه)، تحقيق: محمد عبد السلام إبراهم، الناشر: درا الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤١١ه - ١٩٩١م.
- بدائع الوفائد؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين اابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١ه)، الناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز - مكة المكرمة، الطبعة الأولى، ١٤١٦ – ١٩٩٦، تحقيق: هشام عبد العزيز عطا - عاد عبد الحميد العدوي - أشرف أحمد الج.
- مدارج السالكين بين منازل إياك تعبد وإياك نستعين؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١ه)، المحقق: محمد المعتصم بالله البغدادي، الناشر: درا الكتاب العربي – بيروت، الطبعة: الثالثة، ١٤١٦ ه - ١٩٩٦م.
- مجموع الفتاوى؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحرانيي (المتوفى: ٧٢٨ه)، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدنية النبوية، المملكة العربيية الويعورية، عيام النشير: ١٤١٦ه/١٩٩٥م.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- الأعلام العلية في مناقب ابن تيمية؛ المؤلف: عمر بن علي بن موسى بن خليل البغدادي الأزجي البزار، سراج الدين أبو حويص (المتيوفى: ٧٤٩هـ)، المحقيق: زهير الشاويش، الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت، الطبعة: الثالثة، .
- الكواكب الدرية في مناقب المجتهد ابن تيمية؛ المؤلف: مرعي بن يوسف الكرمي الحنبل المحقق: نجم عبد الرحمن خلف، حالة الفهرسية: غير مفهرس، الناشر: درا الغرب الإسلامي، سنة النشر: ١٤٠٦ – ١٩٨٦.
- الشهادة الزكية في ثناء الأئمة على ابن تيمية؛ المؤلف: مرعي بن يوسف بن ابى بكر بن أحمد الكرمى المقدسي الحنبليى (المتوفى: ١٠٣٣هـ)، المحقيق: نجم عبد الرحمن خلف، الناشر: دار الفرقان , مؤسسة الرسالة – بيروت، الطبعة: الأولى،١٤٠٤.
- الرد الوافر؛ المؤلف: محمد بن عبد الله )أبي بكر( بن محمد ابن أحمد بن مجاهد القيسي الدمشقي الشافعي، شمس الدين، الشهير بابن ناصر الدين (المتوفى: ٨٤٢هـ)، المحقق: زهر الشاويش، الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت.
- تقريظ للحافظ ابن حجر العسقلاني على الرد الوافر؛ المؤلف: محمد بن أحمد بن محمد بن خير الله، أبو الفضل، صفي الدين الحنفي الأثيري الحسيني البخاري (المتوفى: ١٢٠٠هـ)، المحقق: محمد بن إبراهم الشيباني، الناشر: مكتبة ابن تيمية – الكويت.
- الجامع لسيرة شيخ الإسلام ابن تيمية خلال سبعة قرون؛ المؤلف: محمد عزيز بن شمس وعلي بن محمد العمران، الناشر: دار عالم الفوائد – مكة، الطبعة: الثانية، شوال١٤٢٢ هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- شذرات الذهب في أخبار من ذهب؛ لعبد الحي بن أحمد العكري الدمشقي، )الكتاب مدقق مرة واحدة(، ولادة المؤلف :: ١٠٣٢، وفاة المؤلف :: ١٠٨٩، دار النشر: دار الكتب العلمية.
- تاريخ ابن الوردي؛ المؤلف: عمر بن مظور بن عمر بن محمد ابن أبي الفوارس، أبو حفص زين الدين ابن الوردي المعري الكندي (المتوفى: ٧٤٩ه)، الناشر: دار الكتيب العلمية - لبنان / بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤١٧ه - ١٩٩٦م.
- تاريخ الإسلام ووفيات المشاهر والأعلام؛ المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محميد بن أحمد بن عثمان بن قايماز اليذهبي (المتوفى: ٧٤٨هى)، المحقق: الدكتور بشار عواد معروف، الناشر: دار الغرب الإسلامي، الطبعة: الأولى، ٢٠٠٣
- مجمع الآداب في معجم الألقاب؛ المؤلف: كما الدين أبو الفضل عبد الرزاق بن أحمد المعروف بابن الوسطي الشيباني (المتوفى: 723 ه)، المحقق: محمد الكاظم، الناشر: مؤسسة الطباعة والنشر- وزارة الثقافة والإرشاد الإسلامي، إيران، الطبعة: الأولى، ١٤١٦ ه.
- أسماء مؤلفات شيخ الإسلام ابن تيمية؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سيعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هى)، المحقيق: د. صلاح الدين المنجد، الناشر: دار الكتاب الجديد – بيروت، الطبعة: الرابعة، ١٤٠٣ – ١٩٨٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- طريق الهجرتين وباب الوعارتين؛ المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سيعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هـ)، الناشر: دار السلفية، القاهرة، مصير، الطبعة: الثانية، ١٣٩٤هـ.
- القصيدة النونية؛ المؤلف : محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سيعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى : ٧٥١هـ)، الناشر : مكتبة ابن تيمية، القاهرة، الطبعة : الثانية، ١٤١٧هـ.
- منهاج السنة النبوية في نقض كلام الشيعة القدرية؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محميد ابن تيمية الحرانيي الحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨هـ)، المحقق: محمد رشاد سالم، الناشر: جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية، الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ ه - ١٨٩٦ م.
- رحلة ابن بطوطة المسماة تحفة النظار في غرائب الامصار وعجائب الأسفار؛ المؤلف محمد بن عبد الله بن محمد بن إبراهم اللواتي الطنجى، أبو عبد الله، ابن بطوطة (المتوفى: ٧٧٩هـ)، الناشر: دار الشرق العربي.
- شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة؛ المؤلف: أبو القاسيم هبة الله بن الحسين بن منصور الطبري الرازي اللالكائي (المتوفى: ٤١٨هـ)، تحقيق: أحمد بن سيعد بن حمدان الغامدي، الناشر: دار طيبة – السعودية، الطبعة: الثامنة، ١٤٢٣هـ / ٢٠٠٢م.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- العقيدة الواسطية؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحرانيي الحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨ه)، الناشر: مكتبة المعارف، الرياض - المملكة العربية السعودية.
- شرح حديث النزو ل؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحرا انى لحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨ه)، الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة: الخامسة، ١٣٩٧ه/١٩٧٧م.
- جمع الوسائل في شرح الشمائل، المؤلف : علي بن )سلطان( محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى : ١٠١٤ه)، الناشر : المطبعة الشرفية - مصر ، طبيع على نفقة مصطى البابي الحلبي وإخوته.
- جلاء العينين في محاكمة الأحمدين، المؤلف: اعمان بن محمود بن عبد الله، أبو البركات خير الدين، الآلوسي (المتوفى: ١٣١٧ه)، قدم له: علي السيد صبح المدني - رح -، الناشر: مطبعة المدني، عام النشر: ١٤٠١ ه - ١٩٨١ م.
- الإستقامة، المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبدالله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨هى)، المحقق: ر. محمد رشاد سالم، الناشر: جامعة الإمام محمد بن سعو د- المدينة المنورة، الطبعة: الأولى، ١٤٠٣.
- سير أعلام النبلاء؛ المؤلف : شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي (المتوفى : ه)،٧٤٨ المحقق : مجموعة من المحققيين بإشراف

(c) ketabton.com: The Digital Library


الشيخ شيعيب الأرتاؤوط، الناشر : مؤسسة الرسالة، الطبعة : الثالثة ، ١٤٠٥ ه / ١٩٧٨٥ م.

- بيان تلبيس الجهمية في تأسيس بدعهم الكلامية؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨ه)، المحقق: مجموعة من المحققين، الناشير: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، الطبعة: الأولى، ١٤٢٦ه.
- رفع الملام عن الأئمة الأعلام؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحرانيي الحنبلي الدمشيقي (المتوفى: ٧٢٨ه)، طبع ونشر: الرئاسة العامة لإدارة البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد، الرياض - المملكة العربية السعودية، عام النشر: ١٤٠٣ ه - ١٩٨٣ م.
- جزء القراءة خلف الإمام؛ المؤلف: محمد بن إسماعيل بن إبراهم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله (المتوفى: ٢٥٦ه)، حققه وعلق عليه: الأستاذ فضل الرحمن الثوري، راجعه: الأستاذ محمد عطا الله خليف الفوحباني، الناشر: المكتبة السلفية، الطبعة: الأولى، ١٤٠٠ ه - ١٩٨٠٠ م.
- التنبية على مشكلات الهداية؛ المؤلف: صدر الدين علي بن علي ابن أبي العز الحنفي )المتوفى ٧٩٢ه(، تحقيق ودراسة: عبد الحكيم بن محمد شاكر (ج١،٢،٣)- أانور صالح أبو زيد (ج ٤، ٥)، أصل الكتاب: رسالة ماجستير- الجامعية الإسلامية بالمدينة المنورة، الناشر: مكتبة الرشد ناشرون - المملكة العربية السعودية، الطبعة: الأولى،١٢٤ه - ٢٠٠٣ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- النقض على المريسي؛ المؤلف: أبو سعيد عثمان بن سعيد بن خالد بن سعيد اليدارمي السجستاني (المتوفى: ٢٨٠ ه)، المحقق: أبو عاصم الشيوامي الأثري، الناشر: المكتبة الإسلامية للنشر والتوزيع، القاهرة – مصر، الطبعة: الأولى، ١٤٣٣ ه - ٢٠١٢ م.
- إيضاح الدليل في قطع حجج أهل التعطيل؛ المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن إبراهم بن سعد الله بن جماعة الكناني الحموي الشافعي، بدر الدين (المتوفى: ٧٣٣هـ)، المحقق: وهبي سليمان غاوجي الألباني، الناشر: دار السلام للطباعة والنشر – مصر، الطبعة: الأولى، ١٣١٠ه - ١٩٩٠م.
- العلل المتناهة في الأحاديث الواهة؛ المؤلف: عبد الرحمن بن علي بن الجوزي، الناشر دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة الأولى، ١٤٠٣، تحقيق: خليل الميس.
- رفع شبه التشبيه بأكف التنزيه؛ المؤلف: جما الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (المتوفى: ٥٩٧ه)، تحقيق: حسن السقاف، الناشر: دار الإمام النيووي، سنة النشر: ١٤١٣ه - ١٩٩٢م، مكان النشر: الأردن.
- إبطال التأويلات لأخبار الصفات؛ المؤلف : القاضي أبو يعلى ، محمد بن الحسين بن محمد بن خلف ابن الفراء (المتوفى : ٤٥٨هـ)، المحقق : محمد بن حمد الحمود النجدي، الناشر: دار إيلاف الدولية – الكويت.
- طبقات الحنابلة؛ المؤلف: أبيو الحسين ابن أبي يعلى، محمد بن محمد )المتوفى
- ٥٢٦ه(، المحقق: محمد حامد الفقي، الناشر: دار المعرفة – بيروت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- طبقات الشافعية الكبرى؛ المؤليف: تاج الدين عبد الوهاب بن تقي الدين السبكي (المتوفى: ٧٧١هـ)، المحقق: ر. محمود محمد الطناحي د. عبد الفتاح محمد الحلو، الناشر: هجر للطباعة والنشر والتوزيع، الطبعة: الثانية، ١٤١٣هـ.
- الإنصاف في بيان أسباب الاختلاف؛ المؤلف: أحمد بن عبد الرحيم بن الشهيد وجيبه الدين بن معظم بن منصور المعروف بى »الشاه ولي الله الدهلوي« (المتوفى: ١١٧٦هـ)، المحقق: عبد الفتاح أبوغدة، الناشر: دار النفائس – بيروت، الطبعة: الثانية، ١٤٠٤.
- تاريخ ابن معين )رواية الدوري(؛ المؤلف: أبو زكريا ييى بن معين بن عون بن زيا د بسطام بن عبد الرحمن المري بالولاء، البغدادي (المتوفى: ٢٣٣هـ)، المحقق: د. أحمد محمد نور سيف، الناشر: مركز البحث العلمي وإحياء التراث الإسلامي - مكية المكرمة، الطبعة: الأولى، ١٣٩٩ – ١٩٧٩.
- الانتقاء في فضائل الثلاثة الأئمة الفقاء مالك والشافعي وأبي حنيفة رضي الله عنهم؛ المؤلف: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي (المتوفى: ٤٦٣هـ)، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.
- جامع بيان العلم وفضله؛ المؤلف: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البى بن عاصم النمري القرطبي (المتوفى: ٤٦٣هـ)، تحقيق: أبي الأشبال الزهيري، الناشر: دار ابن الجوزي، المملكة العربية السعودية، الطبعة: الأولى، ١٤١٤ ه - ١٩٩٤ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- المدخل إلى السنن الكبرى؛ المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسروجردي الخراساني، أبو بكر البيهقيي (المتوفى: ٤٥٨ه)، المحقيق: د. محمد ضياء الرحمن الأعظمي، الناشر: دار الخلفاء للكتاب الإسلامي – الكويت.
- اداب الشافعي ومناقبه؛ المؤلف: أبو محمد عبد الرحمن بن محمد بن إدريس بن المنذر التميمي، الحنظلي، الرازي ابن أبي حاتم (المتوفى: ٣٢٧ه)، كتب كلمة عنه: محمد زاهد بن الحسن الكوثري، قدم له وحقق أصله وعلق عليه: عبد الغني عبيد الخالق، الناشير: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ ه - ٢٠٠٣ م.
- مناقب الإمام أحمد؛ المؤلف: جما الدين أبو الفرج عبد اليحمن بن علي بن محمد الجوزي (المتوفى:٥٩٧ه)، المحقق: د. عبد الله بن عبد المحسن التركيي، الناشر: دار هجر، الطبعة: الثانية، ١٤٠٩ ه.
- مسائل الإمام أحمد رواية أبي داور السجستاني؛ المؤلف: أبو داور سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشى بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني (المتوفى: ٢٧٥ه)، تحقييق: أبي معاذ طارق بن عوض الله بن محمد، الناشر: مكتبة ابن تيمية، مصر، الطبعية: الأوليى ١٤٢٠ ه - ١٩٩ م.
- قاعدة جليلة في التوسل والوسيلة؛ المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحرانى الحنبلي الدمشقي (المتوفى: 728ه)، المحقق: ربيع بن هادي عمير المدخلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


الناشير: مكتبة الفرقان – عجمان، الطبعة الأولى: (لمكتبة الفرقان) ١٤٢٢ه - ٢٠٠١ه.

- مراتب الإجمال في العبادات والمعاملات والاعتقادات؛ المؤلف : أبو محمد علي بن أحمد سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري (المتوفى :٤٥٦ه)، الناشر : دار الكتيب العلمية – بيروت.
- الصفل في الملل والأهواء والنحل؛ المؤلف: أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري (المتوفى:٤٥٦ه)، الناشر: مكتبة الخانجي – القاهرة.
- حجة الله البالغة؛ المؤلف: أحمد بن عبد الرحيم بن الشهيد وجيه الدين بن معظيم بن منصور المعروف بى »الشاه ولي الله الدهلوي« (المتوفى: ١١٧٦ه)المحقيق: السيد سابق، الناشر: دار الجيل، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، سنة الطبع: ١٤٢٦ ه - ٢٠٠٥م.
- جامع الأصول في أحاديث الرسول ؛ المؤلف : مجد الدين أبو السعاده المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري ابن الأثير (المتوفى : ٦٠٦ی)، تحقيق : عبد القادر الأرنؤوط - التتمة تحقيق بشير عيون، الناشر : مكتبة الحلواني - مطبعة الملاح - مكتبة دار البيان، الطبعة : الأولى.
- الشرح و الإبانة في أصول السنة و الديانة و مجانبة المخالفين و مباينة أهل الأهواء المارقين، مشهور به الإبانة الصغرى؛ دارالأمر الأول للنشى و التوزيى، المملكة العربية الوعورية- الرياض، الطبعة الثانية ١٤٣٣ه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- الأعلام؛ المؤلف: خير الدين بن محمور بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى: ١٣٩٦ه)، الناشر: دار العلم للملايين، الطبعة: الخامسة عشر - أيار / مايو ٢٠٠٢م.
- تاج العروس من جواهر القاموس؛ المؤلف: محمد بن محمد بن عبد الرزاق الحسيني، ، الملقب بمرتيى، الزبيدي (المتيوفى: ١٢٠٥ه)، المحقق: مجموعة ميى المحققين، الناشر: دار الهداية.
- المدواة؛ المؤلف: مالك بن أاس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني )المتوفى: ١٧٩ه الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، ١٤١٥ه - ١٩٩٤م.
- المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني؛ المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشيهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠ه) ، الناشر: دار الفكر – بيروت، الطبعة الأولى، ١٤٠٥.
- شرح العقيدة الطحاوية؛ المؤلف: صدر الدين محمد بن علاء الدين علي بن محمد ابن أبي العز الحنفي، الأذرعى الصالحي الدمشيقي (المتوفى: ٧٩٢ه)، تحقيق: شيعيب الأرنؤوط - عبد الله بن المحسن التركي، الناشير: مؤسسية الرسالة – بييروت، الطبعة: العاشرة، ١٤١٧ه - ١٩٩٧م.
- شرح العقيدة السفارينية - الدرة المضية في عقد أهل الفرقة المرضية؛ المؤلف: محمد بن صالح محمد العثيميين (المتوفى: ١٤٢١هى)، الناشى: دار الوطن للنشر، الرياض، الطبعة: الأولى، ١٤٢٦ ه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- حلية الأولياء وطبقات الأصفياء؛ المؤلف: أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: ٤٣٠هـ)، الناشر: السعادة - بجوار محافظة مصر، ١٣٩٤هـ - ١٩٧٤م، ثم صورتها عدة دور منها ١ - دار الكتاب العربي – بييروت ٢ - دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت ٣- دار الكتب العلمية- بيروت )طبعة ١٤٠٩هـ (بدون تحقيق)
- الإعجاز والإيجاز؛ المؤلف: عبد الملك بن محمد بن إسيماعيل أبو منصور الثعالبي (المتوفى: ٤٢٩هـ)، الناشر: مكتبة القرآن – القاهرة.
- صفات الشيعة؛ الصدوق،كاونن انتشارات عابدى، طهران •
- تقصيل وسائل الشيعة إلى تحصيل مسائل الشريعة؛ محمد بن الحسين الحى العاملي تصحيح و تدقيق: مركز الإمام الحسن المجتبى للتحقييق و الدراسات، الأميرة للطباع و النشر و التوزيع.
- المحاسن النفاسانية في أجوبة الموائل الخراسانية؛ حسين آل عصفور الدرازي البحراني منشورات المشرق العربي الكبير، جمعية أهل البيت بالبحرين، الطبعة الأولى ١٣٩٩ ه.
- الكافي؛ محمد بن يعقوب كليني، دار الكتب الإسلامية تهران-إيران •
- الأنوار النعمانية؛ السيد نعمة الله الجزائيري، دارالقارئ و دارالكوفية للطباعية و النشر و التوزيع، بيروت- لبنان، الطبعة الأولى ١٤٢٩ ه - ٢٠٠٨م.
- النصب و النواصب؛ محسن المعلم، دارالهاري للطباعة و النشر و التوزيع، الطبعة الأولى ١٤١٨هـ - ١٩٩٧م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**